# د پېدايښت کِتاب

## د پېدايښت قيصه

١ [١]په شروع کښې، چې کله خُدائ پاک ټول جهان پېدا کړو، [٢]زمکه
خالی وه اؤ هيڅ په کښې نهٔ وُو. سمندر هر څهٔ ګېر کړی وُو. اؤ هر
څيز په توره تيارهٔ کښې پټ وو اؤ د خُدائ پاک رُوح په اوبو حرکت کولو. [٣]بيا
خُدائ پاک حُکم وکړو چې، "رڼا دې شی" نو رڼا شوه. [٤]خُدائ پاک په دې
ليدو خوشحاله وو. بيا هغهٔ رڼا د تيارې نه جُدا کړه، [٥]اؤ په رڼا يې "ورځ" نُوم
کېښودو اؤ په تيارهٔ يې "شپه". شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا وړومبۍ ورځ وه.
[٦]بيا خُدائ پاک حُکم وکړو چې، "د پاسنو او لاندينو اوبو تر مينځه دې فضا
جوړه شی." [٧]نو هم داسې وشول. نو خُدائ پاک فضا جوړه کړه چې لاندې
اوبهٔ د پاس اوبو نه جُدا وی. [٨]هغهٔ په دې چت "آسمان" نُوم کېښودو. شپه
تېره شوه. اؤ سحر شو. دا دويمه ورځ وه. [٩]بيا خُدائ پاک حُکم وکړو، "د
آسمان لاندې اوبهٔ دې په يو ځائ راغونډې شی، نو وچه به راښکاره شی." نو
هم داسې وشول. [١٠]هغهٔ په وچه "زمکه" نُوم کېښودو اؤ په يو ځائ راغونډو
شوو اوبو يې "سمندر" نُوم کېښودو. اؤ خُدائ پاک د دې ليدو سره خوشحاله
وو. [١١]بيا هغهٔ حُکم وکړو، "زمکه دې هر قِسم بُوټی رازرغُون کړی، هغه ټول
بُوټی چې غله اؤ مېوه به کوی." نو هم داسې وشول. [١٢]نو زمکې هغه هر قِسم
بُوټی زرغُون کړل کُوم چې غله اؤ مېوه کوی اؤ خُدائ پاک د دې ليدو سره
خوشحاله وو. [١٣]شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا دريمه ورځ وه. [١٤]بيا خُدائ
پاک حُکم وکړو، "ځلېدُونکی څيزُونه دې په آسمان کښې راښکاره شی چې
ورځ د شپې نه جُدا کړی اؤ چې د ورځو، مياشتو اؤ د کالونو نښې شی، [١٥]دا به
په آسمان کښې زمکې ته ځلېږی." نو هم داسې وشول. [١٦]نو خُدائ پاک هغه
دوه غټ ځلېدُونکی څيزُونه جوړ کړل، نمر به د ورځې ځلېږی اؤ سپوږمۍ به د
شپې ځلېږی، هغهٔ ستوری هم پېدا کړل. [١٧]هغهٔ دا ځلېدُونکی څيزُونه په آسمان

کښې مُقرر کړل چې زمکې له رڼا ورکوی، ۱۸چې په ورځ اؤ شپه باندې اِختيار
ولری اؤ رڼا د تيارې نه جُدا کړی. اؤ خُدائ پاک د دې ليدو سره خوشحاله
وو. ۱۹شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا څلورمه ورځ وه. ۲۰بيا خُدائ پاک حُکم
وکړو، "سمندر دې د ډېر قِسم ساه اخستُونکی ځيزُونو نه ډک شی اؤ هوا دې
د مارغانو نه ډکه شی." ۲۱نو خُدائ پاک غټې سمندری بلاګانې پېدا کړې، هر
قِسم ساه لرُونکی ځيزُونه چې په اوبو کښې اوسېږی اؤ هر قِسم مارغان يې پېدا
کړل. اؤ خُدائ پاک د دې ليدو سره خوشحاله وو. ۲۲اؤ خُدائ پاک برکت
ورکړو اؤ د اوبو مخلُوق ته يې ووئيل چې ډېر شئ اؤ سمندر ډک کړئ اؤ مارغانو
ته يې ووئيل چې زيات شئ. ۲۳شپه تېره شوه اؤ سحر شو. دا پينځمه ورځ وه.
۲۴بيا خُدائ پاک حُکم وکړو، "زمکه دې هر قِسم څاروی اؤ ځنګلی، واړهٔ اؤ
غټ ځناور پېدا کړی." نو هم داسې وشول. ۲۵نو خُدائ پاک دا ټول ځناور
پېدا کړل اؤ هغه د دې ليدو سره خوشحاله وو. ۲۶بيا خُدائ پاک ووئيل، "مُونږ
به اوس بنيادم جوړ کړُو، اؤ هغوئ به د خپل صورت په شان جوړ کړُو. هغوئ
به په کبانو، مارغانو اؤ په ټولو ځناورو، څاروو اؤ ځنګلی، وړو اؤ غټو ځناورو
باندې اِختيار لری." ۲۷نو خُدائ پاک بنيادم پېدا کړل اؤ د خپل صورت په شان
يې جوړ کړل. هغوئ يې نر اؤ ښځه پېدا کړل، ۲۸برکت يې ورکړو اؤ وې وئيل،
"ډېر بچی پېدا کړئ، نو ستاسو اولاد به په ټوله دُنيا کښې اوسېږی اؤ زمکه به د
هغوئ په لاس کښې وی. زهٔ تاسو له په کبانو، مارغانو اؤ په ټولو ځناورو باندې
اِختيار درکوم. ۲۹ما تاسو له د خوراک د پاره هر قِسم غله اؤ هر قِسم مېوې پېدا
کړې دی، ۳۰خو ټولو ځنګلی ځناورو اؤ ټولو مارغانو له ما د خوراک د پاره
واښهٔ اؤ شنهٔ بُوټی پېدا کړې دی." نو هم داسې وشول. ۳۱خُدائ پاک دا ټول
ځيزُونه وکتل اؤ هغه ډېر خوشحاله وو. شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا شپږمه
ورځ وه.

## ۲

۱نو داسې د ټول جهان جوړېدل پُوره شُو. ۲اؤ په اوومه ورځ خُدائ
پاک پېدايښت پُوره کړو اؤ کار يې بس کړو. ۳هغهٔ اوومې ورځې له
برکت ورکړو اؤ مُقدسه يې وګرځوله، ځکه چې هغهٔ په اوومه ورځ پېدايښت
پُوره کړو اؤ کار يې بس کړو. ۴اؤ داسې ټول جهان پېدا شو.

## د عدن باغ

چې مالِک خُدائ، خُدائ پاک ټول جهان جوړ کړو، ۵په زمکه هيڅ قِسم بُوټے نۀ وو اؤ هيڅ تُخم زرغُون شوے نۀ وو، ځکه چې هغۀ باران نۀ وو ورولے اؤ د زمکې د کروَندې هم څوک نۀ وُو. ۶خو اوبۀ به د زمکې نه راوتلې اؤ زمکه به يې اوبۀ کوله. ۷بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک د زمکې نه څۀ خاوره واخستله اؤ آدم يې ترې نه جوړ کړو. خُدائ پاک د هغۀ په سپېږمو کښې د ژوند ساه پُو کړه اؤ آدم ژوندے شو. ۸بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک په عدن کښې يو باغ وکَرلو اؤ هغه پيدا کړے آدم يې په کښې مُقرر کړو. ۹هغۀ هلته د هر قِسم ښائسته اؤ ښو مېوو ونې وکَرلې. هغۀ د باغ په مېنځ کښې ژوند ورکوُونکې ونه اؤ د ښۀ اؤ بد پوهه ورکوُونکې ونه ولګوله. ۱۰په عدن کښې يو درياب به باغ اوبۀ کولو، د عدن بل طرف ته دا په څلورو سيندُونو کښې تقسيم شوے وو. ۱۱د وړومبې سيند نُوم فيسون دے، دا د حوېلې ټول وطن نه تېرېږى. ۱۲(سُوچه سره زر، خوشبودار عطر اؤ قيمتى کاڼى دلته ملاوېږى.) ۱۳د دويم سيند نُوم جيحون دے، دا د کُوش ټول وطن نه تېرېږى، ۱۴دريم سيند دجله دے، چې د اسُور نَمرخاتۀ طرف نه تېرېږى اؤ څلورم د فرات سيند دے. ۱۵مالِک خُدائ، خُدائ پاک آدم د عدن باغ کښې مُقرر کړو چې په باغ کښې کَرل رېبل کوى اؤ ساتنه يې کوى. ۱۶مالِک خُدائ، خُدائ پاک هغۀ ته حُکم وکړو، ”تۀ د باغ د هرې ونې مېوه خوړے شې، ۱۷خو د هغې ونې نه بغېر کُومه چې د ښۀ اؤ بد د پېژندګلو پوهه ورکوى. چې هيڅ کله د هغې ونې مېوه ونۀ خورې، کۀ تا وخوړه، نو په هغه ورځ به مړ شې.“ ۱۸بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک ووئيل، ”د آدم د پاره يواځې اوسېدل ښۀ نۀ دى. زۀ به د هغۀ د پاره يوه ښۀ ملګرى جوړه کړم چې د هغۀ مدد به کوى.“ ۱۹نو هغۀ د زمکې نه څۀ خاوره واخستله اؤ ټول ځناور اؤ مارغان يې ترې نه جوړ کړل. هغه يې بيا آدم له راوستل چې وګورى چې څۀ نومُونه ورباندې ږدى، اؤ آدم چې په هر ژوندى څيز څۀ نُوم کېښودو هم هغه يې نُوم شو. ۲۰نو آدم په ټولو مارغانو اؤ ځناورو نومُونه کېښودل، خو د

آدم د پاره يوه ښځۀ ملګرې نۀ وه پيدا شوې چې د هغۀ مدد وکړي. [21]بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک په آدم درُوند خوب راوستلو اؤ چې آدم اُودۀ شو، نو هغۀ د آدم نه يوه پوښتۍ راوويسته اؤ هغه ځائ يې ورله په غوښه ډک کړو. [22]بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک د آدم د پوښتۍ نه يوه ښځه پيدا کړه اؤ هغۀ له يې راوستله. [23]نو آدم ووئيل، "واه، دا هم زما په شان ده. اؤ زما په شان وجُود لري. د دې نُوم "ښځه" دے، ځکه چې دا د بنيادم نه راويستلے شوې ده." [24]نو هم دا وجه ده چې سړے خپل مور اؤ پلار پرېږدي اؤ د ښځې سره يو ځائ وي اؤ دواړه يو بدن شي. [25]سړے اؤ ښځه دواړه بربنډ وُو، خو د يو بل نه يې پړده نۀ کوله.

## د بنيادم نافرمانۍ کول

**۳** [1]مالِک خُدائ، خُدائ پاک چې څومره ځناور پيدا کړي وُو مار په کښې د ټولو نه چالاک وو. مار د ښځې نه تپوس وکړو، "دا رښتيا دي څۀ چې تاسو ته خُدائ پاک وئيلي دي چې د باغ د هرې يوې ونې مېوه مۀ خورئ؟" [2]ښځې جواب ورکړو، "مُونږ ته په باغ کښې د هرې ونې نه د مېوې خوړلو اِجازت شته، [3]خو بغېر د هغه ونې نه چې د باغ په مېنځ کښې ده. خُدائ پاک مُونږ ته وئيلي دي چې د هغې ونې مېوه ونۀ خورئ اؤ نۀ چې لاس وروړئ، کۀ لاس مو وروړو، نو تاسو به مړۀ شئ." [4]مار جواب ورکړو، "دا دروغ دي، تاسو به نۀ مرئ. [5]خُدائ پاک دا ځکه وئيلي دي، چې هغۀ ته پته ده کۀ تاسو د دې مېوه وخوړه نو ستاسو سترګې به وغړېږي، د خُدائ پاک په شان به شئ اؤ په ښۀ اؤ بد به پوهه شئ." [6]چې ښځې ونه وليده نو په زړۀ کښې يې راغلل چې دا ونه دومره ښُکلې ده، مېوه به يې څومره خوَږه وي اؤ څومره مزه به وکړي چې هوښيار شُو. نو لږه مېوه يې ترې وشُوکوله اؤ وې خوړله. بيا يې هلته لږه ترې نه خاوند له هم ورکړه اؤ هغۀ هم وخوړله. [7]چې دا يې څنګه وخوړه، نو د دوئ سترګې وغړېدلې اؤ پته ورته ولګېده چې دوئ خو بربنډ دي، نو دوئ د اينځر پاڼې وګنډلې اؤ ځانُونه يې پرې پټ کړل. [8]د ماښامې په نرئ نرئ هوا

کښې دوئ د مالِک خُدائ، خُدائ پاک د تلو آواز واؤرېدو، نو دوئ په ونو کښې پټ شول. [9]خو مالِک خُدائ، خُدائ پاک آدم له آواز ورکړو، "تهٔ چرته يې؟" [10]هغهٔ ورته ووئيل، "ما په باغ کښې ستا د تلو آواز واؤرېدو، زهٔ ويرېدم اؤ ستا نه پټ شوم، ځکه چې بربنړ وم." [11]نو خُدائ پاک ترې تپوس وکړو، "تا ته چا ووئيل چې تهٔ بربنړ يې؟ تا هغه مېوه وخوړه څهٔ چې د کُومې نه ما منع کړې وې؟" [12]آدم جواب ورکړو، "کُومه ښځه چې تا زما سره کړې ده هغې ما له هغه مېوه راکړه، نو ما وخوړه." [13]نو مالِک خُدائ، خُدائ پاک د ښځې نه تپوس وکړو، "تا ولې داسې وکړل؟" هغې ورته ووئيل، "زهٔ خو مار دهوکه کړم اؤ ما وخوړله."

## د خُدائ پاک د اِنصاف فيصله کول

[14]بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک مار ته ووئيل، "د دې کار په وجه ستا به دا سزا وی، په ټولو ځناورو کښې به صِرف تهٔ لعنتی شې: د اوس نه به په خېټه تلل کوې اؤ چې تر څو ژوندے يې خاورې به خورې. [15]زهٔ به ستا اؤ د ښځې په مينځ کښې دُښمنی پېدا کړم، د هغې اؤ ستا اولاد به همېشه دُښمنان وی. هغه به ستا سر چخنهی کوی اؤ تهٔ به هغه په پُونده چيچې." [16]اؤ هغهٔ ښځې ته ووئيل، "زهٔ به ستا د اُميدوارئ تکليف اؤ د ماشُوم د زېږېدو درد زيات کړم. خو د دې باوجُود، ستا شوق به خپل خاوند ته وی اؤ هغه به په تا اِختيار لری." [17]اؤ هغهٔ آدم ته ووئيل، "تا د ښځې خبره ومنله اؤ هغه مېوه دې وخوړه چې د کُومې نه ما منع کړے وې. ستا د عمل په وجه زمکه لعنتی شوه. د خپل خوراک د پاره ته به ټول عُمر په دې زمکه کښې سخته خواری کوې. [18]دا به آزغی اؤ مرکُونډئ زرغُونوی اؤ تهٔ به ځنګلی بُوټی خورې. [19]سخت محنت به کوې، خولې به درنه بهيږی اؤ ډوډئ به خورې، تر دې چې د خاورو سره خاورې شې چې د څهٔ نه جوړ شوے يې. تهٔ د خاورې نه جوړ وې اؤ بيا به خاورو له ورځې." [20]آدم په خپله ښځه حوا نُوم کېښودو، ځکه چې هغه د ټولو بنيادمو مور وه. [21]نو مالِک خُدائ د آدم اؤ د هغهٔ د ښځې د پاره د ځناورو د څرمنې نه جامې جوړې کړې اؤ ور وايې غوستې.

## د حضرت آدم اؤ بی‌بی حوا د عدن د باغ نه ویستل

[22]بیا مالِک خُدائ، خُدائ پاک ووئیل، "بنیادم زمُونږ په شان شوے دے اؤ د ښهٔ اؤ بد پوهه لری. هسې نه چې خپل لاس اُوږد کړی اؤ د ژوند ورکوُونکی ونې نه هم مېوه وخوری، نو همېشه به ژوندے پاتې شی." [23]نو مالِک خُدائ، خُدائ پاک هغه د عدن باغ نه وشړلو اؤ د هغه زمکې کَرلو ریبلو ته یې ولېږلو چې د کُومې د خاورې نه جوړ وو. [24]آدم یې بهر کړو اؤ د باغ نَمرخاتهٔ طرف ته یې د وزرو والا مخلُوق اؤ یوه اور لړُونکې تُوره ودروله چې هر طرف ته به تاوېده، چې د ژوند د ونې د لارې حِفاظت وکړی.

## قائِن اؤ هابیل

**۴** [1]بیا آدم د حوا سره څملاستو، نو هغه اُمیدواره شوه. اؤ یو زوئ یې وشو اؤ وې وئیل، "مالِک خُدائ زما مدد وکړو اؤ زما زوئ یې وشو." نو هغې پرې قائِن نُوم کېښودو. [2]وروستو یې بیا یو بل زوئ، هابیل وشو. هابیل شپُون شو، خو قائِن زمیدار وو. [3]څهٔ موده پس، قائِن د خپل فصل څهٔ حِصه راوړه اؤ د مالِک خُدائ په حضُور کښې یې پېش کړه. [4]بیا هابیل د خپلو ګډو وړومبے ګډُورے راوستو اؤ حلال یې کړو اؤ د غوړو نه ښهٔ اندامُونه یې د مالِک خُدائ په حضُور کښې پېش کړل. مالِک خُدائ د هابیل نه رضا شو اؤ د هغهٔ قُربانی یې خوښه شوه، [5]خو قائِن اؤ د هغهٔ قُربانی یې نامنظُوره کړه. قائِن د غُصې نه تک سُور شو اؤ تندے یې تریو کړو. [6]بیا مالِک خُدائ قائِن ته ووئیل، "تهٔ ولې دومره غُصه یې؟ تا ولې تندے دومره تریو کړے دے؟ [7]کهٔ تا ښهٔ کړی وے، نو تهٔ به مُسکے وې، خو تا بد کړی دی، نو ګُناه په تا حمله کولو ته تیاره ده. دا په تا حُکم چلول غواړی، خو تهٔ پرې خامخا غالِب شه." [8]بیا قائِن خپل ورور هابیل ته ووئیل، "څه چې بهر پټو ته لاړ شُو." کله چې دوئ په پټو کښې وُو، قائِن په خپل ورور حمله وکړه اؤ وې وژلو. [9]مالِک خُدائ د قائِن نه تپوس وکړو، "ستا ورور هابیل چرته دے؟" هغهٔ جواب ورکړو، "ما ته پته نشته، ولې

د ورور خیال ساتل زما کار دے څۀ؟" [10]بیا مالِک خُدائ هغۀ ته ووئیل، "تا ولې دا ظلم کړے دے؟ ستا د ورور وینه د زمکې نه ما ته داسې چغې وهی، لکه چې څوک بدل اخستل غواړی. [11]په تا دې لعنت وی. اؤ د زمکې کَرل ربېل دې په تا نور بند وی ځکه چې تا خپل ورور ووژلو اؤ د هغۀ وینه دې په زمکه باندې توئ کړه. [12]کله چې تۀ یوې کوې، نو زمکه به هیڅ پېداوار نۀ درکوی، تۀ به بې‌کوره یې اؤ په زمکه به یو ځائ بل ځائ ګرځې." [13]نو قائِن مالِک خُدائ ته ووئیل، "دا سزا زما د برداشت نه بهر ده. [14]تۀ ما د زمکې نه وباسې اؤ زۀ به ستا د مخ نه پناه شم، زۀ به بې‌کوره یم اؤ په زمکه به یو ځائ بل ځائ ګرځم، کۀ څوک مې وګوری نو ما به ووژنی." [15]خو مالِک خُدائ جواب ورکړو، "داسې نۀ ده، کۀ څوک تا ووژنی، نو اووۀ کسان به په بدل کښې وژلے شی." نو مالِک خُدائ په قائِن یوه نښه ولګوله چې خلقو ته پته وی چې څوک یې ګوری نو نۀ به یې وژنی. [16]نو قائِن د مالِک خُدائ د حضُور نه لرې لاړو اؤ د عدن نَمرخاتۀ طرف ته په یوه علاقه کښې اوسېدو چې نُوم یې "مُسافر" وو.

## د قائِن اولاد

[17]قائِن د خپلې ښځې سره څملاستو اؤ یو زوئ یې وشو اؤ حنوک نُوم یې پرې کېښودو. بیا قائِن یو ښار جوړ کړو اؤ په دې ښار یې هم "حنوک" نُوم کېښودو. [18]د حنوک نه عیراد پېدا شو، هغه د محویاایل پلار وو اؤ د محویاایل زوئ متوساایل پیدا شو، چې هغه د لمک پلار وو. [19]د لمک دوه ښځې یوه عده اؤ بله ضِله وه. [20]د عده نه یابل پېدا شو، چې د هغو خلقو پلار وو چې څاروی ساتی اؤ په خېمو کښې اوسېږی. [21]د هغۀ ورور یوبل وو، هغه د هغو ټولو موسیقارانو پلار وو چې رباب اؤ شپېلۍ غږوی. [22]د ضِله نه توبلقائِن پېدا شو، چې هغۀ به د پیتلو اؤ اوسپنې نه هر قِسم آوزار جوړول. د توبلقائِن خور نعمه وه. [23]لمک خپلو ښځو ته ووئیل، "عدې اؤ ضِلې، زما خبره واورئ: ما یو ځلمے وژلے دے ځکه چې هغۀ زۀ وهلے وم. [24]کۀ د قائِن د وژلو په بدل کښې اووۀ کسان وژلے شی، نو زما د وژلو په بدل کښې به اووۀ اؤیا کسان ووژلے شی."

## شیث اؤ انوش

۲۵د آدم اؤ حوا یو بل زوئ وشو. هغې ووئیل، ”خُدائ پاک د هابیل په ځائ ما له یو زوئ راکړے دے، هغه هابیل کُوم چې قائِن وژلے وو.“ نو په هغهٔ یې شیث نُوم کېښودو. ۲۶د شیث یو زوئ وشو چې په هغهٔ یې انوش نُوم کېښودو. نو د دې نه پس خلقو د مالِک خُدائ نُوم په عِبادت کښې اخستل شروع کړل.

## د آدم اولاد

(د تاریخ اول کِتاب : )

# ۵

۱دا د آدم د اولاد نسب‌نامه ده. کله چې خُدائ پاک بنیادم پېدا کړو، هغه یې د ځان په شان پېدا کړو. ۲هغوئ یې نر اؤ ښځه پېدا کړل، بختور یې کړل اؤ ”بنیادم“ نُوم یې پرې کېښودو. ۳کله چې آدم د یو سل دېرشو کالو وو، نو د هغهٔ یو زوئ وشو چې د هغهٔ په شان وو اؤ شیث نُوم یې پرې کېښودو. ۴د دې نه پس آدم اتهٔ سوه کاله نور ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۵اؤ د نهٔ سوه دېرشو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۶کله چې شیث د یو سل پینځو کالو وو، د هغهٔ زوئ انوش پېدا شو، ۷هغه نور اتهٔ سوه اووهٔ کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول، ۸اؤ د نهٔ سوه دولسو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۹کله چې انوش د لس کم سلو کالو وو، د هغهٔ زوئ قېنان وشو، ۱۰اؤ هغه نور اتهٔ سوه پینځلس کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۱۱اؤ د نهٔ سوه پینځهٔ کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۱۲کله چې قېنان د اؤیا کالو وو، د هغهٔ یو زوئ محلل‌اېل پېدا شو، ۱۳اؤ قېنان نور اتهٔ سوه څلوېښت کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۱۴اؤ د نهٔ سوه لسو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۱۵محلل‌اېل د پینځو شپېتو کالو وو، چې د هغهٔ زوئ یارد پېدا شو، ۱۶اؤ هغه نور اتهٔ سوه دېرش کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۱۷اؤ د پینځهٔ کم نهٔ سوه کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۱۸چې کله یارد د یو سل دوه شپېتو کالو وو، د هغهٔ زوئ حنوک وشو، ۱۹اؤ بیا نور اتهٔ سوه کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۲۰اؤ د نهٔ سوه دوه

شپېتو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۲۱کله چې حنوک د پینځو شپېتو کالو وو، د هغهٔ زوئ مِتهوشله پېدا شو. ۲۲د دې نه پس، حنوک درې سوه کاله د خُدائ پاک په ملګرتیا کښې ژوندے وو اؤ نور بچی یې هم پېدا شول. ۲۳د هغهٔ ټول عُمر درې سوه پینځهٔشپېتهٔ کاله وو. ۲۴حنوک خپل ژوند د خُدائ پاک په ملګرتیا کښې تېر کړو اؤ د هغې نه پس خلقو ونهٔ لیدو، ځکه چې خُدائ پاک خپل ځان ته وبللو. ۲۵کله چې مِتهوشله د یو سل اووهٔ اتیا کالو وو، د هغهٔ زوئ لمک پېدا شو، ۲۶اؤ هغه نور اووهٔ سوه دوه اتیا کاله ژوندے وو، د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۲۷اؤ د نهٔ سوه نهٔ شپېتو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۲۸کله چې لمک د یو سل دوه اتیا کالو وو، د هغهٔ یو زوئ وشو، ۲۹لمک ووئیل، "دا ماشُوم به مُونږ له د مالِک خُدائ لعنتی کړے شوې زمکې د سختې خوارئ نه آرام راکړی"، نو د هغهٔ نُوم یې نُوح کېښودو. ۳۰لمک نور پینځهٔکم شپږ سوه کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۳۱اؤ د اووهٔ سوو اووهٔ اؤیاؤ کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۳۲د پینځو سوو کالو عُمر نه پس د نُوح درې زامن وشول، شیم، حام اؤ یافت د دوئ نومُونه وُو.

## د بنیادم بد عملُونه

**۶** ۱کله چې بنیادم په ټوله دُنیا کښې خوارهٔ شول، نو د دوئ لُونړه پیدا کېدې، ۲نو څهٔ آسمانی مخلُوق دا ښائسته پېغلې ولېدې، د خوښې پېغلې یې ترې بوتلې اؤ ښځې یې کړې. ۳بیا مالِک خُدائ ووئیل، "زهٔ به بنیادم نهٔ پرېږدم چې هغوئ دې همېشه د پاره ژوندی وی، دا فانی مخلُوق دے. د نن نه پس به دوئ د شپږ شلو کالو نه زیات ژوندی نهٔ وی." ۴په هغه ورځو کښې اؤ هم داسې وروستو، په زمکه دیوان وُو چې هغوئ د بنیادمو د ښځو اؤ د آسمانی مخلُوق بچی وُو. هغوئ د هغه وخت تکړه اؤ مشهُور خلق وُو. ۵چې کله مالِک خُدائ وکتل چې هر یو کس په دُنیا کښې بد عمله وو اؤ هر وخت د دوئ خیالونه بد وُو، ۶نو هغه په خپلو کړو پښېمانه شو چې دوئ یې پېدا کړل اؤ په زمکه یې آباد کړل. هغه ډېر پښېمانه وو ۷نو هغهٔ ووئیل، "زهٔ به دا خلق چې ما پیدا کړی

دی د زمکې د مخ نه لرې کړم اؤ ورسره ځناور اؤ مارغان هم، ځکه چې زۀ ډېر
پښېمانه يم چې ما دوئ پېدا کړل.“ ۸خو مالِک خُدائ د نُوح نه رضا وو.

## حضرت نُوح

۹–۱۰دا د نُوح قيصه ده. د هغۀ درې زامن وُو، شيم، حام اؤ يافت. نُوح هيڅ
غلطی نۀ وه کړې اؤ د خُدائ پاک په ټول مخلُوق کښې هغه يکی يو نېک او
صادق سړے وو. هغۀ د خُدائ پاک سره ملګرتيا لرله، ۱۱خو نور ټول خلق د
خُدائ پاک د سيدها لارې نه لرې وُو اؤ هر طرف ته زور او ظلم وو. ۱۲خُدائ
پاک چې دُنيا وکتله نو د خلقو د بد عملۍ نه ډکه وه، ځکه چې خلق د سيدها
لارې نه لرې وُو. ۱۳خُدائ پاک نُوح ته ووئيل، ”ما د ټولو بنيادمو د ختمولو
فېصله کړې ده. زۀ به دوئ ټول تباه کړم، ځکه چې دُنيا د دوئ د بد عملۍ
نه ډکه ده. ۱۴د ځان د پاره د ښۀ لرګی نه يوه لويه کشتۍ جوړه کړه، کوټې
په کښې جوړې کړه اؤ دننه اؤ بهر يې په تارکولو لېوه کړه. ۱۵دا کشتۍ يو سل
پينځۀ ځلوېښت ګزه اُوږده، ځليريشت ګزه پلنه اؤ څوارلس ګزه اُوچته جوړه
کړه. ۱۶کشتۍ له چت هم جوړ کړه اؤ چت يې د سر نه اوولس اِنچې په ترڅ
جوړ کړه. دا درې چتيزه جوړه کړه اؤ يو طرف ته دروازه هم په کښې پرېږده.
۱۷کوره! زۀ به يو سېلاب راولم چې په زمکه ټول مخلُوق تباه شی. هر ساه
لرُونکے څيز به مړ شی، ۱۸خو زۀ تا سره تړون کوم، د خپلې ښځې سره کشتۍ
ته وخېژه، خپل زامن اؤ د هغوئ ښځې هم وخېژوه. ۱۹–۲۰د هر قِسم ځناورو اؤ
مارغانو نه يو نر اؤ يوه ښځه هم کشتۍ ته وخېژوه، چې د دوئ نسل باقی پاتې
شی. ۲۱د ځان اؤ دوئ د پاره هر قِسم خوراک راجمع کړه،“ ۲۲نو نُوح هم هغه
شان وکړل چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو.

## لوئ سېلاب

۷ ۱بيا مالِک خُدائ نُوح ته ووئيل، ”د خپل ټول بال بچ سره کشتۍ ته
وخېژه، ما ته پته ده چې يوائې تۀ په ټوله دُنيا کښې هغه صادق سړے

يې چې ښۀ عمل کوې. [۲]د هر قِسم حلال ځناورو نه اووۀ جوړې واخله، خو د هر قِسم حرام ځناورو نه صِرف يوه يوه جوړه واخله. [۳]اؤ هر قِسم مارغانو نه هم اووۀ جوړې واخله، د دې د پاره چې هر قِسم ځناور اؤ مارغان په مخ د زمکې ژوندی پاتې شی. [۴]د نن نه اووۀ ورځې پس به زۀ باران راولم چې څلوېښت شپې اؤ څلوېښت ورځې به ورېږی، د دې د پاره چې ټول ژوندی د زمکې د مخ نه ورک شی.“ [۵]نو نُوح هغه هر څۀ وکړل چې څنګه مالِک خُدائ ورته حُکم ورکړے وو. [۶]نُوح د شپږو سوو کالو وو چې په زمکه سېلاب راغلو. [۷]نو په هغه وخت نُوح اؤ د هغۀ ښځه، د هغۀ زامن اؤ د هغوئ ښځې کشتۍ ته وختل چې د سېلاب نه ځان بچ کړی، [۸]د هر قِسم ځناورو اؤ مارغانو يو نر اؤ يوه ښځه، حلال اؤ حرام ټول، [۹]نُوح کشتۍ ته وخېژول، لکه چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو. [۱۰]اووۀ ورځې پس سېلاب راغلو. [۱۱]چې کله نُوح د شپږو سوو کالو وو، نو د دويمې مياشتې په اوولسمه ورځ د زمکې لاندې د بې‌شمېره چينو خُلې راخلاصې شوې اؤ د آسمان ټولې طوفانی دروازې راخلاصې شوې، [۱۲]اؤ په زمکه څلوېښت ورځې اؤ شپې باران وشو. [۱۳]هم په هغه ورځ نُوح اؤ د هغۀ ښځه، د هغۀ درې زامن، سِم، حام اؤ يافت اؤ د هغوئ ښځې ټول کشتۍ ته وختل. [۱۴]د دوئ سره هر قِسم څاروی اؤ ځنګلی ځناور، واړۀ اؤ غټ اؤ هر قِسم مارغان هم وُو. [۱۵]د هر قِسم ژوندی ځيزُونو جوړې د نُوح سره کشتۍ ته وختلې، [۱۶]چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو. بيا مالِک خُدائ په نُوح پسې دروازه بند کړه. [۱۷]څلوېښت ورځې په زمکه سېلاب وو، اوبۀ ډېرې زياتې شوې اؤ کشتۍ يې اُوچته کړه. [۱۸]اوبۀ زياتې شوې اؤ کشتۍ د اوبو د پاسه ګرځېدله. [۱۹]اوبۀ دومره زياتې شوې چې لوړ لوړ غرُونه يې پټ کړل، [۲۰]اوبۀ دومره وختلې چې تقريباً د غرُونو د سرُونو نه اتۀ ګزه اُوچتې شوې. [۲۱]په زمکه هر ژوندے ځيز مړ شو، ټول مارغان، ځناور اؤ ټول بنيادم. [۲۲]په زمکه هر ژوندے ځيز چې ساه لری، مړ شو. [۲۳]مالِک خُدائ هر ژوندے ځيز د زمکې د مخ نه ورک کړو. بنيادم، ځناور اؤ مارغان. خو صِرف نُوح اؤ هغه ژوندی ځيزُونه چې د هغۀ سره په کشتۍ کښې وُو ژوندی پاتې شول. [۲۴]اؤ اوبۀ د يو

نیم سل ورځو پورې نهٔ کمېدلې.

## د سېلاب ختمېدل

**۸**
۱نُوح، د هغهٔ بال بچ اؤ هغه ټول ځناور کُوم چې په کشتۍ کښې وُو
د خُدائ پاک هېر نهٔ وُو، هغهٔ په زمکه هوا راوستله، نو اوبهٔ په کمېدو
شوې. ۲د زمکې لاندې د چينو خُلې اؤ د آسمان طوفانی دروازې بند شوې.
باران ودرېدو، ۳اؤ اوبهٔ ورو ورو په يو نيم سل ورځو کښې کمې شوې. ۴د اوومې
مياشتې په اوولسمه ورځ کشتۍ د ارارط په علاقه کښې په يو غرهٔ ودرېده. ۵اوبهٔ
کمېدې اؤ د لسمې مياشتې په وړومبۍ ورځ د غرُونو څُوکې راڅرګندې شوې.
۶څلوېښت ورځې پس نُوح د کشتۍ کړکۍ کولاؤ کړه ۷اؤ يو کارغهٔ يې والُوځولو.
هغه واپس رانهٔ غلو، خو په هوا کښې تر هغې پورې اخوا دېخوا ګرځېدو چې
د زمکې نه اوبهٔ وچې شوې. ۸په دې دوران کښې، نُوح ګُوګُوشتکه والُوځوله
چې وګورې چې اوبهٔ ختمې دی که نهٔ، ۹خو اوبو تر اوسه پورې زمکه پټه کړې
وه اؤ ګُوګُوشتکې د خپو لګولو ځائ پېدا نهٔ کړو. نو واپس راغله اؤ نُوح لاس
بهر کړو اؤ ځان سره يې کشتۍ کښې کښېنوله. ۱۰د اووهٔ ورځو اِنتظار نه پس
هغهٔ بيا ګُوګُوشتکه والُوځوله. ۱۱اؤ په ماښامی کښې هغهٔ ته واپس راغله اؤ په
مخُوکه کښې يې شنه د زيتُونو پاڼه نيولې وه. نو نُوح ته پته ولګېده چې اوبهٔ کمې
شوې دی. ۱۲هغهٔ بيا نور اووهٔ ورځې اِنتظار وکړو اؤ يو ځل بيا يې ګُوګُوشتکه
والُوځوله، خو دا ځل واپس رانهٔ غله. ۱۳چې کله نُوح د شپږ سوه اؤ د يو کال
شو، نو د وړومبۍ مياشتې په وړومبۍ ورځ، اوبهٔ وچې شوې. نُوح د کشتۍ د
چت يوه حِصه کولاؤ کړه، نظر يې واچولو اؤ چې يې وکتل نو زمکه په وچېدو
وه. ۱۴د دويمې مياشتې په اوويشتمه ورځ زمکه بېخی وچه وه. ۱۵نو خُدائ
پاک نُوح ته ووئيل چې، ۱۶”د خپلې ښځې، خپلو زامنو اؤ د دوئ د ښځو سره
د کشتۍ نه بهر لاړ شه. ۱۷ټول مارغان اؤ ځناور هم د ځان سره کُوز کړه، چې
نور بچی پېدا کړی اؤ په ټوله زمکه کښې خوارهٔ شی.“ ۱۸نو نُوح د خپلې ښځې،

خپلو زامنو اؤ د دوئ د ښځو سره د کشتۍ نه کُوز شو. ١٩ټول ځناور اؤ مارغان
په خپله خپله ډله کښې د کشتۍ نه ووتل.

## د حضرت نُوح قُربانی پېش کول

٢٠نُوح یوه قُربان‌ګاه جوړه کړه چې مالِک خُدائ ته قُربانی پیش کړی، هغهٔ د
هر قِسم حلالو ځناورو اؤ مارغانو نه یو یو واخستو، حلال یې کړل، په قُربان‌ګاه
کښې یې وسوزول اؤ د خُدائ پاک په حضُور کښې یې پېش کړل. ٢١د قُربانۍ
په خوشبو مالِک خُدائ رضا شو اؤ خپل ځان سره یې ووئیل، ”د بنیادم د عمل
په وجه به بیا زهٔ هیڅ کله زمکه نهٔ لعنتی کوم، ما ته پته ده چې د ماشُوموالی نه
د دوئ خیالونه خراب وی. بیا به ټول مخلُوق تباه نهٔ کړم، لکه چې دا ځل مې
تباه کړی دی.
٢٢چې تر کُومې پورې دُنیا موجُوده وی،
کَرل اؤ ریبل به وی، یخنی اؤ ګرمی به وی،
اوړے اؤ ژمے به وی،
شپه اؤ ورځ به وی اؤ دا به نهٔ ختمېږی.“

## د خُدائ پاک د حضرت نُوح سره یو تړون کول

٩ ١خُدائ پاک نُوح اؤ د هغهٔ زامنو له برکت ورکړو اؤ وې وئیل، ”آباد
شئ اؤ ډېر بچی پیدا کړئ، نو ستاسو اولاد به په ټوله دُنیا کښې اوسېږی.
٢ټول ځناور، مارغان اؤکبان به ستاسو نه یرېږی، دا ټول ستاسو د اِختیار لاندې
دی. ٣اوس دا ځناور تاسو خوړلے شئ اؤ داسې شنهٔ بُوټی هم، دا ټول ستاسو د
خوراک د پاره دی. ٤خو چې په کومه غوښه کښې وینه وی هغه به نهٔ خورئ،
دا ستاسو د پاره منع ده ځکه چې په وینه کښې ژوندُون دے. ٥کهٔ څوک بل
کس قتلوی، زهٔ به ورسره حِساب کوم. کهٔ یو ځناور بنیادم ووژنی نو سزا به
یې مرګ وی. ٦ځکه چې خُدائ پاک د خپل ځان په شان بنیادم جوړ کړے
دے. کهٔ څوک د بنیادم وینه تویَوی، په بدل کښې به د هغهٔ وینه توئ شی، ٧ډېر
بچی پیدا کړئ، نو ستاسو اولاد به په ټوله دُنیا کښې اوسېږی.“ ٨خُدائ پاک

نُوح اؤ د هغهٔ زامنو ته ووئیل چې، ۹"گورئ! اوس زهٔ تاسو اؤ ستاسو د اولاد
سره دا تړون کوم، ۱۰هم داسې د هر ژوندی څیز، د ټولو مارغانو، څناورو اؤ
هر هغه څیز سره چې ستاسو سره د کشتۍ نه رابهر شوی وُو. ۱۱زهٔ تاسو سره د
دې خبرې تړون کوم چې بیا به هیڅ کله هم ټول ژوندی په سېلاب نهٔ غرقېږی،
بیا به په سېلاب دُنیا نهٔ تباه کېږی. ۱۲دا نښه به نهٔ ختمېدُونکے تړون وی کُوم
چې زهٔ ستا اؤ د ټولو ژوندو څیزُونو سره کوم، ۱۳زهٔ به په آسمان کښې د بُوډۍ
ټال جوړوم. دا به زما د دُنیا سره د تړون نښه وی. ۱۴چې کله هم زهٔ په زمکه
وریځې راولم اؤ چې د بُوډۍ ټال په وریځو کښې راڅرګندېږی، ۱۵نو ما ته
به خپل تړون رایادېږی چې سېلاب به بیا هیڅ کله ټول ژوندی څیزُونه نهٔ تباه
کوی. ۱۶چې کله په وریځو کښې د بُوډۍ ټال څرګند شی، زهٔ به ورته ګورم اؤ
هغه نهٔ ختمېدُونکے تړون به رایادوم کُوم چې ما د زمکې د ټولو ژوندو څیزُونو
سره کړے دے. ۱۷دا زما د هغه تړون نښه ده کُوم چې زهٔ د دُنیا د ټولو ژوندو
څیزُونو سره کوم."

## حضرت نُوح اؤ د هغهٔ زامن

۱۸د نُوح زامن چې د کشتۍ نه کُوز شول هغوئ سِم، حام اؤ یافت وُو. (حام د
کنعان پلار وو.) ۱۹په زمکه چې څومره خلق دی دا ټول د نُوح د دریو زامنو
اولاد دے. ۲۰نُوح زمیدار وو، هغه وړومبے کس وو چې د انګُورو باغ یې
وکَرلو. ۲۱د انګُورو شراب څښلو نه پس هغه نشه شو اؤ په خپله خېمه کښې
بربنډ څملاستو. ۲۲چې کله د کنعان پلار حام، خپل پلار داسې ولیدو نو هغه
بهر لاړو اؤ خپل دوه ورُوڼه یې خبرکړل. ۲۳نو سِم اؤ یافت یو څادر واخستو اؤ
د خپلو اُوږو شا ته یې ونیولو. اؤ خېمې ته په شا دننه لاړل اؤ خپل پلار یې پټ
کړو اؤ مخُونه یې اړولی وُو چې پلار بربنډ ونهٔ ګوری. ۲۴چې کله نُوح په خود
کښې شو اؤ خبر شو چې د ټولو کشری زوئ د هغهٔ سره څهٔ کړی دی، ۲۵نو هغهٔ
ووئیل چې،
"په کنعان دې لعنت وی،

هغه دې د ټولو ورُونړو د غُلامانو غُلام شی.
[۲۶]مالِک خُدائ دې سِم بختور کړی،
اؤ کنعان دې د هغهٔ غُلام کړی.
[۲۷]خُدائ پاک دې یافت ډیر تیر کړی،
د هغهٔ اولاد اؤ د سِم خلق دې د ورُونړو په شان کړی،
اؤ کنعان دې د هغهٔ غُلام کړی.“
[۲۸]د سیلاب نه پس نُوح نور درې نیم سوه کاله ژوندے وو [۲۹]اؤ د نهٔ نیم سوه کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو.

## د حضرت نُوح د زامنو اولاد

(د تاریخ اول کِتاب : )

**۱۰** [۱]دا د نُوح د زامنو، د سِم، حام اؤ یافت اولاد دے، چې د سیلاب نه پس د هغوئ زامن پېدا شول. [۲]دا د یافت اولاد دے: جُمر، ماجوج، مادی، یاوان، توبال، مسک اؤ تیراس. [۳]د جُمر اولاد د اشکناز، ریفت اؤ د تُجرمه خلق وُو. [۴]د یاوان اولاد د اِلیسه، سپېن، قبرص اؤ رهودس خلق وُو، [۵]د دوئ اولاد د سمندر په غاړه اؤ په جزیرو کښې اوسېږی. دا د یافت اولاد دے، چې په بېلو بېلو قبیلو اؤ وطنُونو کښې اوسېږی اؤ هره ډله خپله ژبه وائی. [۶]دا د حام اولاد دے: کُوش، مِصر، لیبیا اؤ کنعان. [۷]د کُوش اولاد د شیبا، حویله، سبته، راماه اؤ د سبتیکه خلق دی. د راماه اولاد د شیبا اؤ د دَدان خلق دی. [۸]د کُوش زوئ نمرُود پېدا شو، چې هغه د دُنیا وړومبے طاقتور جنګیالے وو. [۹]د مالِک خُدائ په مدد هغه یو لوئ ښکاری وو، نو ځکه خلق وائی، ”مالِک خُدائ دې د نمرُود په شان لوئ ښکاری کړه.“ [۱۰]د هغهٔ بادشاهی وړومبے په بابل، ارک اؤ اِکاد وه، دا درې واړه د بابل په وطن کښې وُو. [۱۱]د دې وطن نه هغه اسُور ته لاړو اؤ د نینیوه، رحوبوت عیر، کلح، [۱۲]اؤ د رسن ښارونه یې جوړ کړل، رسن د نینیوه اؤ د لوئ ښار کلح په مېنځ کښې دے. [۱۳]د مِصر اولاد د لُودی، عنامی، لهابی، نفتوحی، [۱۴]فتروسی، کسلوحی اؤ د کریت خلق

وُو، چې د هغوئ اولاد فلسطينيان دی. ۱۵د کنعان اولاد دا دے: صيدا مشر
زوئ اؤ بشامه. ۱۶د دې نه علاوه يبُوسی، اموری، جرِجاسی، ۱۷حِوی، عرقی،
سينی، ۱۸اروادی، صماری اؤ حماتی هم د کنعان د اولاد خلق دی. د کنعانيانو
بېلې بېلې قبيلې خورې شوې، ۱۹چې د کنعانيانو وطن شمالی طرف صيدا نه
جرار ته نزدې، تر غزه پورې ورسېدو اؤ نَمرخاتهٔ طرف صُدوم ته، عمُوره، ادمه
اؤ لسع ته، چې ضِبيان ته نزدې دے. ۲۰دا د حام اولاد دے، چې په بېلو بېلو
قبيلو اؤ وطنُونو کښې اوسېږی اؤ هره ډله خپله خپله ژبه وائی. ۲۱ټول عبرانيان
د سِم اولاد دے، سِم د يافت مشر ورور دے. ۲۲دا د سِم اولاد دے چې نومُونه
يې عيلام، اسُور، ارفکسد، لُود اؤ ارام دی. ۲۳د ارام اولاد د عُوض، حُول،
جتر اؤ د مس خلق دی. ۲۴ارفکسد د سِلح پلار وو، چې هغه د عيبر پلار وو.
۲۵د عيبر دوه زامن وُو: د يو نُوم فِلِګ وو، ځکه چې په هغه وخت کښې د دُنيا
خلق خوارهٔ وارهٔ شوی وُو، اؤ د بل نُوم يُقطان وو. ۲۶د يُقطان اولاد د الموداد،
سلف، حصارماوت، اِراخ، ۲۷هدورام، اُوزال، دقله، ۲۸عوبل، ابیمائيل، شيبا،
۲۹اوفير، حويله اؤ د يوباب خلق دی. دا ټول د يُقطان اولاد دے. ۳۰چې دوئ
په کُوم وطن کښې اوسېدل هغه وطن د ميسا نه سِفار پورې اُورد وو چې نَمرخاتهٔ
طرف ته د غرُونو په وطن کښې دے. ۳۱دا د سِم اولاد دے، چې په بېلو بېلو
قبيلو اؤ وطنُونو کښې اوسېږی اؤ هره ډله خپله خپله ژبه وائی. ۳۲دا ټول خلق
نسل په نسل، د بېلو بېلو نسب‌نامو په مُطابق د نُوح اولاد دے. د سېلاب نه پس
د دُنيا ټول قومُونه د نُوح د زامنو اولاد دے.

## د بابل برج

**۱۱** ۱په شروع کښې، د ټولې دُنيا خلقو صِرف يوه ژبه وئيله اؤ د يو بل
په خبرو پوهېدل. ۲چې څنګه دوئ د نَمرخاتهٔ غاړې نه روان شول،
چې چرته دوئ اوسېدل، نو د بابل په وطن کښې يو هوار مېدان ته راغلل اؤ هلته
دېره شول. ۳دوئ يو بل ته ووئيل، "راځئ! چې خَښتې جوړې کړُو اؤ په اور
يې پخې کړُو." نو داسې د دوئ سره د آبادۍ د پاره خَښتې اؤ د دې د نښلولو د

پاره تارکول وُو. [۴]نو دوئ ووئيل، "راځئ چې اوس يو ښار اؤ دومره لوئ برج جوړ کړُو چې آسمان ته ورسېږی، نو مُونږ به مشهُور شُو اؤ په ټوله دُنيا کښې به خوارهٔ وارهٔ هم نهٔ شُو." [۵]بيا مالِک خُدائ د ښار اؤ هغه برج کتلو له راکُوز شو چې بنيادمو جوړ کړے وو، [۶]نو هغهٔ ووئيل، "وګورئ! دا ټول يو خلق دی اؤ دوئ يوه ژبه وائی، او د دې نه پس چې بيا دوئ څهٔ کول هم وغواړی نو کولے به يې شی، [۷]راځئ چې لاندې ورشُو اؤ د دوئ ژبې ګډې وډې کړُو نو د يو بل په خبرو به نهٔ پوهېږی." [۸]نو مالِک خُدائ دوئ په ټوله زمکه خوارهٔ وارهٔ کړل اؤ دوئ ښار جوړول پرېښودل. [۹]نو د هغه ښار نُوم بابل شو، ځکه چې مالِک خُدائ هلته د خلقو ژبه ګډه وډه کړه اؤ د هغه ځائ نه يې په ټوله زمکه خوارهٔ وارهٔ کړل.

## د سِم اولاد

(د تاريخ اول کِتاب : )

[۱۰]دا د سِم اولاد دے. د سېلاب نه دوه کاله پس، چې کله سِم د سلو کالو وو، د هغهٔ زوئ ارفکسد پېدا شو. [۱۱]د دې نه پس، هغه پينځهٔ سوه کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. [۱۲]چې کله ارفکسد د پينځو دېرشو کالو وو، د هغهٔ زوئ سِلح پېدا شو، [۱۳]د دې نه پس، هغه څلور سوه درې کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. [۱۴]چې کله سِلح د دېرشو کالو وو، د هغهٔ زوئ عيبر پېدا شو، [۱۵]د دې نه پس، هغه څلور سوه درې کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. [۱۶]چې کله عيبر د څلور دېرشو کالو وو، د هغهٔ زوئ فِلِګ پېدا شو، [۱۷]د دې نه پس هغه څلور سوه دېرش کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. [۱۸]چې کله فِلِګ د دېرشو کالو وو، د هغهٔ زوئ رعو پېدا شو، [۱۹]د دې نه پس، هغه دوه سوه نههٔ کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. [۲۰]چې کله رعو د دوه دېرشو کالو وو، د هغهٔ زوئ سروګ پېدا شو، [۲۱]د دې نه پس، هغه دوه سوه اووهٔ کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. [۲۲]چې کله سروګ د دېرشو کالو وو، د هغهٔ زوئ ناحور پېدا شو، [۲۳]د دې نه پس، هغه دوه سوه کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی

يې هم پېدا شول. [۲۴]چې کله ناحور د نهۀ ويشتو کالو وو، د هغۀ زوئ تِره پېدا شو، [۲۵]د دې نه پس، هغه يو سل نولس کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچې يې هم پېدا شول. [۲۶]چې تِره د اؤيا کالو وو د هغې نه پس، د هغۀ زامن ابرام، ناحور اؤ حاران پېدا شول.

## د تِره اولاد

[۲۷]دا د تِره اولاد دے، چې هغه د ابرام، ناحور اؤ حاران پلار وو. حاران د لُوط پلار وو، [۲۸]اؤ حاران په خپل وطن اُور کښې چې په بابل کښې دے، په حق ورسېدو، خو د هغۀ پلار لا ژوندے وو. [۲۹]ابرام سارئ سره وادۀ وکړو اؤ ناحور د مَلِکه سره وادۀ وکړو، چې د حاران لُور وه، حاران د اِسکه پلار هم وو. [۳۰]د سارئ بچې نۀ وُو، ځکه چې هغه شنډه وه. [۳۱]تِره د خپل زوئ ابرام، د خپل نمسی لُوط، چې د حاران زوئ وو اؤ د خپلې اينږور سارئ سره، چې د ابرام ښځه وه، روان شو اؤ په بابل کښې د اُور ښار نه د کنعان وطن ته لاړل. خو چې حاران ته ورسېدل نو هلته دېره شول. [۳۲]تِره هلته د دوه سوه اؤ پينځو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو.

## د خُدائ پاک د ابرام غوښتل

**۱۲**

[۱]په يو وخت کښې مالِک خُدائ ابرام ته ووئيل، ”خپل وطن، د پلار کور اؤ خپلوان پرېږده اؤ هغه وطن ته هِجرت وکړه چې کُوم درته زۀ ښايم. [۲]زۀ به تا له ډېر اولاد درکړم اؤ هغوئ به يو لوئ قوم شی. زۀ به تا له برکت درکړم اؤ عِزتمند به دې کړم، نو ستا په وجه به نورو ته برکت ملاوېږی. [۳]زۀ به هغوئ له برکت ورکوم چې څوک ستا د پاره برکت غواړی. خو زۀ به په هغوئ لعنت وايم چې څوک په تا لعنت وائی. اؤ هم ستا په ذريعه به زۀ د دُنيا ټولو قومُونو له برکت ورکړم.“ [۴]چې کله ابرام د پينځو اؤياؤ کالو وو، نو هغه د حاران نه روان شو، لکه څنګه چې مالِک خُدائ ورته وئيلی وُو، اؤ لُوط هم ورسره لاړو. [۵]ابرام خپله ښځه سارئ، خپل وراړۀ لُوط هم د ځان سره روان

کړل اؤ په حاران کښې چې څومره مال اؤ نوکران يې جمع کړی وُو هغه ټول يې ځان سره کړل اؤ کنعان ته روان شول. چې کله هغوئ کنعان ته ورسېدل، [6]ابرام په دې وطن کښې سفر کولو چې شِکم ته نزدې، د موره پاکې ونې زيارت له راغلو. (په هغه وخت کښې کنعانيان لا په دې وطن کښې اوسېدل.) [7]نو مالِک خُدائ ابرام ته څرګند شو اؤ هغهٔ ته يې ووئيل، "دا هغه وطن دے چې زهٔ يې ستا اولاد له ورکوم." بيا ابرام هلته مالِک خُدائ ته يوه قُربانګاه جوړه کړه، چرته چې ورته راڅرګند شوے وو. [8]د دې نه پس، هغهٔ د بيت‌ايل ښار نَمرخاتهٔ طرف ته د غرُونو وطن ته کَډه يوړه اؤ هغهٔ په هغه ځائ کښې چې نمر پرېواتهٔ طرف ته بيت‌ايل اؤ نَمرخاتهٔ ته عی دے په مېنځ کښې خېمه ولګوله. هلته يې هم يوه قُربانګاه جوړه کړه اؤ د مالِک خُدائ نُوم يې پرې واخستو. [9]بيا هغه بېلو بېلو ځايُونو ته کوچ کولو چې د کنعان جنُوبی حِصې ته راغلو.

## ابرام په مِصر کښې

[10]اؤ يو ځل په کنعان کښې قحط راغلو اؤ دا د برداشت نه بهر وو نو ابرام مِصر ته کوچ وکړو، چې هلته دېره شی. [11]چې کله هغه تقريباً مِصر ته اورېدو، هغهٔ خپلې ښځې سارئ ته ووئيل، "دا خبره واوره! ستا کړهٔ وړهٔ د ښائسته ښځې دی. [12]کهٔ د مِصر والا تا وګوری، نو هغوئ به ګُمان وکړی چې تهٔ زما ښځه يې، نو هغوئ به ما مړ کړی اؤ تا به ژوندئ پرېږدی. [13]هغوئ ته ووايه چې زهٔ يې خور يم، نو داسې به ما ته څهٔ نهٔ وائی اؤ ستا په وجه به زهٔ ژوندے پاتې شم."
[14]چې کله هغوئ مِصر ته واورېدل، نو مِصريانو هغه وليده چې ډېره ښائسته ښځه وه. [15]نو د فِرعون درباريانو هغه وليده اؤ فِرعون ته يې ووئيل چې هغه څومره ښائسته وه، نو هغه يې محل ته بوتله. [16]د هغې په وجه فِرعون د ابرام ښهٔ عِزت وکړو اؤ هغهٔ له يې د ګډو اؤ چېلو رَمې ورکړې. څاروی، خرهٔ، اُوښان اؤ ښځې اؤ نران خِدمتګاران يې هم ورکړل. [17]خو فِرعون سارئ بوتلې وه، نو ځکه مالِک خُدائ په فِرعون اؤ د هغهٔ په درباريانو يوه لويه وبا راوسته.
[18]فِرعون ابرام راوغوښتو اؤ تپوس يې ترې وکړو، "دا تا زما سره څهٔ کړی دی؟

تا ولې ما ته ونۀ وئيل چې هغه ستا ښځه ده؟ [19]تا ولې ووئيل چې هغه ستا خور ده اؤ ما درنه بوتله چې ښځه يې کړم؟ خپله ښځه د ځان سره بوځه اؤ په خپله مخه ځه.“ [20]فِرعون نوکرانو ته حُکم وکړو، نو هغوئ ابرام بوتلو اؤ د خپلې ښځې اؤ ټول مال سره يې د هغه وطن نه بهر کړو.

## د ابرام اؤ لُوط جُداکېدل

**۱۳** [1]ابرام د خپلی ښځی سره او ټول مال سره د مِصر نه د کنعان په طرف صحرا ته لاړو اؤ لُوط هم ورسره وو. [2]ابرام ډېر مالداره سړے وو، هغۀ څاروی اؤ داسې سپين زر اؤ سرۀ زر يې هم لرل. [3]اؤ هغۀ بېلو بېلو ځايُونو ته کوچ کولو اؤ بيت‌ايل ته روان وو. هغه هم هغه ځائ ته ورسېدو چې د بيت‌ايل اؤ عی په مېنځ کښې دے چرته چې هغه مخکښې ډېره شوے وو [4]اؤ قُربان‌ګاه يې جوړه کړې وه. اؤ د مالِک خُدائ نُوم يې پرې اخستے وو. [5]د لُوط سره هم څاروی اؤ رَمې وې، خپله کورنۍ اؤ نوکران هم ورسره وُو. [6]خو هلته دومره شنه زمکه نۀ وه چې دوئ دواړه په کښې يو ځائ پاتې شوی وے، ځکه چې د دوئ سره ډېر زيات مال وو. [7]نو د ابرام اؤ د لُوط د شپُونکو په مېنځ کښې جګړه شوه. (په هغه وخت کښې کنعانيان اؤ فرزيان هم په هغه وطن کښې اوسېدل.) [8]نو ابرام لُوط ته ووئيل، ”خُدائ پاک دې زما اؤ ستا اؤ زمُونږ د شپُونکو په مېنځ کښې لانجه نۀ راولی، ځکه چې مُونږ خپلوان يُو. [9]ولې دا ټوله زمکه ستا په وړاندې نۀ ده؟ زما نه جُدا شه. چې چرته دې خوښه وی هم هلته لاړ شه. کۀ تۀ ښی طرف ته ځې نو زۀ به ګڅ طرف ته ځم، کۀ تۀ ګڅ طرف ته ځې نو زۀ به ښی طرف ته لاړ شم.“ [10]لُوط سترګې واړولې راواړولې اؤ د اُردن ټول هوار مېدان يې وليدو، چې د ضُغر پورې، د مالِک خُدائ د باغ په شان يا د مِصر د وطن په شان ښې ډېرې اوبۀ يې لرلې. (په هغه وخت کښې مالِک خُدائ د صُدوم اؤ عمُوره ښارونه لا تباه کړی نۀ وُو.) [11]نو لُوط د ځان د پاره د اُردن ټول هوار مېدان خوښ کړو اؤ نَمرخاتۀ طرف ته لاړو. نو داسې دوئ دواړه جُدا شول. [12]ابرام د کنعان په وطن کښې پاتې شو اؤ لُوط په مېدان

کښې د ښارُونو په مېنځ کښې دېره شو اؤ صُدوم سره نزدې يې خېمې ولګولې،
[13]چې د هغه ځائ خلق ډېر خراب وُو اؤ د مالِک خُدائ ګُناهګار وُو.

## د مالِک خُدائ د ابرام سره د زمکې ورکولو وعده

[14]د لُوط د تلو نه پس، مالِک خُدائ ابرام ته ووئيل، ”چرته چې تهٔ ولاړ يې، د دې ځائ نه هر طرف ته ښهٔ په غور سره وګوره. [15]چې څومره زمکه ستا په نظر راځی، دا زهٔ تا اؤ ستا اولاد له همېشه د پاره ورکوم. [16]زهٔ به تا له دومره ډېر اولاد درکوم چې هيڅ څوک به يې شمېرلے نهٔ شی خو د خاورو د ذرو شمېرل به ترې آسان وی. [17]پاځه! روان شه اؤ په ټوله زمکه نظر واچوه، ځکه چې دا ټوله تا له درکوم.“ [18]نو ابرام د دې ځائ نه کَډه واخستله اؤ د ممرې پاکو ونو ته نزدې دېره شو، چې دا په حبرون کښې دے اؤ هلته يې مالِک خُدائ ته يوه قُربانګاه جوړه کړه.

## د ابرام لُوط راخلاصول

# ۱۴

[1]په هغه وخت کښې، څلورو بادشاهانو، د بابل امرافِل، د الاسر اريوک، د عيلام کِدرلاعُمر اؤ د جوئيم تِدعال، [2]د پينځو نورو بادشاهانو سره جنګ وکړو چې هغوئ دا دی، د صُدوم بَرع، د عمُوره برشع، د ادمه سِنیاب: د حصيصون تامار شِميبر اؤ د بالع (يا ضُعر) بادشاه. [3]دې پينځو بادشاهانو د سِديم په مېدان کښې اتفاق وکړو اؤ لښکر يې جوړ کړو، چرته چې د مالګې درياب دے. [4]دوئ دولس کاله د کِدرلاعُمر د مشرۍ لاندې وُو، خو په ديارلسم کال هغوئ د هغهٔ خِلاف بغاوت وکړو. [5]يو کال وروستو کِدرلاعُمر اؤ د هغهٔ ملګری د خپلو لښکرو سره راغلل اؤ رفائيم ته يې په عستارات قرنيم کښې، زوزيم ته په حام کښې اؤ ايميم ته د سِوی قريتيم په مېدان کښې شکست ورکړو، [6]اؤ حُوريانو ته يې د ادوم په غرُونو کښې شکست ورکړو اؤ د صحرا په غاړه د ايل‌فاران پورې ورپسې روان وُو. [7]بيا دوئ ترې راوګرځېدل اؤ قادِس ته واپس راغلل (چې بيا په عين مِصفات مشهُور شو) دوئ د عماليقيانو ټول وطن

ونیوو اؤ اموریانو له یې شکست ورکړو چې په حصیصون تامار کښې اوسېدل.
[8]د صُدوم، عمُوره، ادمه، ضِبوئیم اؤ د بالع بادشاهان د قلعو نه راووتل اؤ خپلې لښکرې یې د جنګ د پاره تیارې کړې اؤ د سِدیم په مېدان کښې یې جنګ وکړو. [9]پینځۀ بادشاهان، د څلورو بادشاهانو سره وجنګېدل چې دوئ د عیلام، د جوئیم، د بابل اؤ د الاسر وُو. [10]مېدان ټول د تارکولو د کندو نه ډک وو اؤ چې کله د صُدوم اؤ عمُوره بادشاهان د جنګ نه تښتېدل، نو هغوئ په کندو کښې پرېوتل، خو هغه نور درې بادشاهان غرُونو ته وتښتېدل. [11]دې څلورو بادشاهانو چې په صُدوم اؤ عمُوره کښې څومره مال وو هغه یې ټول واخستو، چې په کښې د خوراک سامان هم وو اؤ دوئ لاړل. [12]د ابرام ورارۀ لُوط، په صُدوم کښې اوسېدو، نو هغه یې هم بوتلو اؤ هر څۀ یې ترې واخستل. [13]خو یو سړے وتښتېدو اؤ ابرام، عبرانی ته یې دا هر څۀ ووئیل، چې هغه د ممرې، اموری پاکو ونو ته نزدې اوسېدو، ممرې اؤ د هغۀ خپلوانو اسکال اؤ عانیر هم د ابرام په جنګ کښې ملګرتیا کوله. [14]چې کله ابرام خبر شو چې د هغۀ ورارۀ نیولے شوے دے، هغۀ خپل ټول درې سوه اتلس فوجیان خپلې خېمې ته راوغوښتل اؤ په هغه څلورو بادشاهانو پسې تر دان پورې روان وُو. [15]هلته هغۀ فوجیان په ډلو کښې تقسیم کړل اؤ د شپې یې په دُښمن حمله وکړه اؤ هغوئ له یې شکست ورکړو، هغه د دمشق شمالی طرف ته تر حوبه پورې په هغوئ پسې وو، [16]اؤ چې کُوم مال یې تښتولے وو هغه یې ترې واپس واخستلو. اؤ خپل ورارۀ لُوط یې سره د ټول مال واپس راوستو اؤ چې کُومې ښځې اؤ کسان نیولے شوی وُو هغه یې هم راوستل.

## د مِلک‌صِدق ابرام له برکت غوښتل

[17]چې کله ابرام په کِدرلاعُمر اؤ په نورو بادشاهانو د فتح مُوندلو نه پس واپس راغلو، نو د صُدوم بادشاه د سِوی مېدان ته ورله سترې مشی له راغلو (چې بل نُوم یې د بادشاهانو مېدان دے). [18]اؤ مِلک‌صِدق، چې د شالیم بادشاه اؤ د خُدائ تعالٰی یو اِمام وو، ابرام له ډوډۍ اؤ د انګُورو شراب راوړل، [19]هغۀ له یې

برکت وغوښتلو اؤ ورته يې ووئيل، ”خُدائ تعالٰی دې ابرام له برکت ورکړی، چا
چې آسمان اؤ زمکه پېدا کړې دی. [20] ټول ثناء صِفت دې د هغه خُدائ تعالٰی
وی چې ستا دُښمنان يې ستا د خپو لاندې کړل.“ نو ابرام مِلکصِدق ته د ټول
مالِ غنيمت نه لسمه حِصه ورکړه. [21] د صُدوم بادشاه ابرام ته ووئيل، ”دا ټول
مال ستا شو، خو ما له زما ټول خلق واپس راکړه.“ [22] ابرام جواب ورکړو، ”زما
دې په مالِک خُدائ قسم وی، چې ډېر لوئ خُدائ تعالٰی دے، چې د آسمان
اؤ زمکې پېدا کوُونکے دے، [23] چې زۀ به ستاسو هيڅ څيز نۀ اِستعمالوم، يو تار
يا د څپلۍ تسمه قدر به هم ستاسو نۀ وړم. چې تاسو دا ونۀ وايئ، چې ابرام
زمُونږ په مال مالدار شوے وو. [24] زۀ به ستاسو نه د هغه مال نه بغېر يو څيز هم
نۀ قبلوم کُوم چې زما کسانو اِستعمال کړے دے. خو زما ملګرو، عانير، اسکال
اؤ ممرې دې خپله حِصه ترې نه واخلی.“

## د ابرام سره د خُدائ پاک تړون

15

[1] څۀ موده پس، ابرام خوب وليدلو چې مالِک خُدائ ورته وائی،
”ابرامه! يرېږه مه. زۀ ستا ډال يم اؤ زۀ به تا له يو لوئ اِنعام درکوم.“
[2] خو ابرام جواب ورکړو، ”مالِکه، مالِکه خُدايه! ستا اِنعام به ما له څۀ فائده
راکړی، زما خو بچی هم نشته؟ اؤ صِرف د دمشق اِلعازر زما وارث دے. [3] ګوره!
تا ما له اولاد نۀ دے راکړے اؤ زما غُلام به زما ميراث اخلی.“ [4] نو د مالِک
خُدائ کلام يو ځل بيا هغۀ ته راغلو چې: ”ستا غُلام اِلعازر به ستا ميراث نۀ
اخلی، ستا خپل زوئ به ستا وارث وی.“ [5] مالِک خُدائ هغه بهر بوتلو اؤ ورته
يې ووئيل، ”آسمان ته ګوره! کۀ تۀ د آسمان ستوری شمېرلے شې نو وې شمېره،
ستا اولاد به د ستورو په شان ډېر وی.“ [6] ابرام په مالِک خُدائ يقين وکړو، نو
مالِک خُدائ هغه د خپل ايمان له وجې صادق وګرځولو. [7] بيا مالِک خُدائ
هغۀ ته ووئيل، ”زۀ مالِک خُدائ يم، چا چې په بابل کښې د اُور نه راوويستلې،
چې دا زمکه ستا خپله شی.“ [8] خو ابرام ترې تپوس وکړو، ”مالِکه، مالِکه خُدايه!
ما ته به څنګه پته ولږی چې دا به زما شی؟“ [9] هغۀ جواب ورکړو، ”ما له يوه

څخې، يوه چېلۍ اؤ يو ګډ راوله، چې هر يو د دريو کالو وی اؤ يوه ګُوګُوشتکه اؤ کونتره هم راوړه.“ [10]ابرام دا څناور حاضر کړل، حلال يې کړل، هغه درې څاروی يې په مېنځ نيم کړل اؤ په دوه قطارُونو کښې يې نيم نيم يو بل ته مخامخ کېښودل، خو مارغان يې په مېنځ نيم نۀ کړل. [11]ټپُوسان په غوښه لاندې راغُوټه شول، خو ابرام ترې نه وشړل. [12]چې کله نمر په پرېوتو شو، په ابرام يو درُوند خوب راغلو اؤ يره اؤ توره تيارۀ هم پرې راغله. [13]مالِک خُدائ هغۀ ته ووئيل، ”تۀ دا خبره ياده ساته چې ستا اولاد به په پردی وطن کښې مُسافر شی، دوئ به هلته غُلامان شی اؤ څلور سوه کاله به پرې ظلم کېږی، [14]خو زۀ به هغه قوم له سزا ورکړم چې دوئ څوک غُلامان کوی اؤ چې کله هغه پردے وطن پرېږدی، نو دوئ به ډېر مال دولت د ځان سره يوسی. [15]اؤ تۀ په خپله به په ښۀ پوخ عُمر کښې، په تسلۍ سره وفات شې اؤ دفن به شې. [16]په څلورم نسل کښې به ستا اولاد دلته واپس راشی، ځکه چې اموريانو اوسه پورې دومره ګُناه نۀ ده کړې چې زۀ دوئ بهر کړم.“ [17]چې کله نمرپرېواتو اؤ توره تيارۀ شوه، نو يو د بلو سکارو لوښے چې لُوګے يې کولو اؤ يو بَل لرګے ناڅاپی راڅرګند شو اؤ د څناورو په مېنځ کښې تېر شو. [18]نو په هغه وخت کښې مالِک خُدائ د ابرام سره يو تړون وکړو. هغۀ ووئيل، ”زۀ ستا سره دا تړون کوم چې زۀ به ستا اولاد له د مِصر د دې سيند نه د فرات تر لوئ سيند پورې دا زمکه ورکوم، [19]اؤ ورسره د قينيانو وطن، د قنيزيانو، د قدمونيانو، [20]د حِتيانو، د فرزيانو، د رفائيم، [21]د اموريانو، د کنعانيانو، د جرجاسيانو اؤ د يبوسيانو وطن هم ورکوم.“

## حضرت اِسمٰعيل اؤ بی بی هاجِره

**۱۶** [1]د ابرام د ښځې سارې تر اوسه پورې بچی نۀ وُو شوی. خو د هغې يوه مِصرۍ وينځه وه چې نُوم يې هاجِره وو، [2]نو هغې ابرام ته ووئيل، ”مالِک خُدائ ما له اولاد نۀ دے راکړے. تۀ ولې زما د وينځې سره شپه نۀ تېروې؟ کېدے شی چې زۀ د هغې نه آباده شم.“ نو ابرام د سارې خبره ومنله. [3]نو هغې خپله وينځه هاجِره ورکړه چې ښځه يې شی. (د ابرام

په کنعان کښې د لس کاله اوسېدو نه پس داسې وشول.) [4]ابرام د هاجِرې سره
څملاستو، نو هغه اُميدواره شوه. چې کله هغې ته پته ولګېده چې اُميدواره
شوه، نو خپلې نېکې ته به يې سپک کتل. [5]نو سارۍ ابرام ته ووئيل، "دا بد ستا
په وجه وشول. ما خپله وينځه په خپله ستا په غېږ کښې کښېنوله او چې د کُوم
وخت نه هغې ته پته لګېدلې ده چې اُميدواره ده، نو هغه ما ته سپک ګوری.
مالِک خُدائ دې اِنصاف وکړی چې په ما او په تا کښې څوک په حقه دی."
[6]خو ابرام جواب ورکړو، "ډېر ښۀ، هغه ستا وينځه ده او ستا په اِختيار کښې ده،
چې څۀ دې خوښه وی نو ورسره يې وکړه." نو سارۍ د هاجِرې سره دومره ظلم
وکړو چې هغه تری وتښتېده. [7]د مالِک خُدائ فرِښتې په صحرا کښې د شُور په
لاره هاجِره په چينه ومُونده [8]او فرِښتې ووئيل، "هاجِرې، د سارۍ وينځې! د
کُوم ځائ نه تۀ راغلې يې او چرته ځې؟" هغې جواب ورکړو، "زۀ د خپلې نېکې
نه تښتم." [9]د مالِک خُدائ فرِښتې هغې ته ووئيل، "خپلې نېکې له واپس لاړه
شه او د هغې د اِختيار لاندې ژوند تېروه." [10]بيا فرِښتې هغې ته دا هم ووئيل،
"زۀ به تا له دومره ډېر اولاد درکړم چې هيڅ څوک به يې نۀ شی شمېرلے. [11]تۀ
اوس اُميدواره يې او د زوئ نُوم به اِسمٰعيل کېږدې ځکه چې مالِک خُدائ په
تکليف کښې ستا آواز اورېدلے دے. [12]خو ستا زوئ به د يو ځنګلی په شان
عُمر تېروی، هغه به د هر چا دُښمن وی او هر يو به د هغۀ خِلاف وی. هغه به
د خپلوانو نه بيل ژوند تيروی." [13]هاجِرې د ځان نه تپوس وکړو، "ما خو خُدائ
پاک ليدلے دے او بيا هم لا ژوندۍ پاتې يم؟" نو هغې هغه مالِک خُدائ ته
يو نُوم ورکړو چې د هغې سره يې خبرې کړې وې، يعنې "هغه خُدائ پاک
چې ګوری". [14]دا ځکه د قادِس او بيرد په مېنځ کښې کُوهی ته خلق وائی چې
"د هغه ژوندی خُدائ پاک کُوهے دے چې ما ګوری". [15]د هاجِرې نه د ابرام
زوئ وشو او اِسمٰعيل نُوم يې پرې کېښودو. [16]ابرام په هغه وخت کښې د شپږ
اتياؤ کالو وو.

## سُنت د تړون يوه نښه

# ۱۷

[1]چې کله ابرام د يو کم سلو کالو وو، نو مالِک خُدائ هغهٔ ته راڅرګند شو اؤ وې وئيل، "زهٔ قادر خُدائ يم. زما تابعداری کوه اؤ هميشه بې‌عيبه اوسه. [2]زهٔ تا سره دا تړون کوم چې ډېر اولاد به درکړم." [3]ابرام مخ په زمکه ولګولو، سجده يې وکړه اؤ خُدائ پاک ووئيل چې، [4]"ګوره! زهٔ تا سره دا تړون کوم: زهٔ دا تړون کوم چې تهٔ به د ډېرو قومُونو پلار شې. [5]نور به تا ته ابرام نهٔ شی وئيلے، ستا نُوم اِبراهيم شو، ځکه چې زهٔ تا د ډېرو قومُونو پلار جوړوم. [6]زهٔ به تا بې‌حده ډېر آباد کړم، اؤ ستا نه به قومُونه جوړ کړم اؤ ستا په اولاد کښې به بادشاهان وی. [7]زما به تا اؤ ستا د اولاد سره دا تړون وی، دا به په راتلُونکو نسلُونو کښې يو نهٔ ختمېدُونکے تړون وی. زهٔ به ستا اؤ ستا د اولاد خُدائ پاک يم. [8]زهٔ به تا اؤ ستا اولاد له دا وطن ورکوم په کُوم کښې چې تهٔ اوس مُسافر يې. د کنعان ټول وطن به هميشه د پاره ستا د اولاد وی اؤ زهٔ به د هغوئ خُدائ پاک يم." [9]خُدائ پاک اِبراهيم ته ووئيل، "تهٔ به زما سره دا تړون پُوره کوې، ستا اؤ ستا د اولاد د راتلُونکو نسلُونو سره به دا تړون وی. [10]تهٔ اؤ ستا د اولاد هر يو نر به خامخا سُنت کېږی. [11-12]د نن نه پس به تاسو هر يو نر ماشُوم سُنت کوئ چې هغه د اتو ورځو شی، ورسره هغه نوکران چې ستاسو په کور کښې پيدا وی اؤ هغه هم چې د بل وطن نه راوستلے شوی دی. د دې نه به دا معلُومېږی چې زما اؤ ستا په مېنځ کښې تړون شته. [13]هر يو به خامخا سُنت کېږی، دا به په بدن يوه نښه وی چې پته لګې چې تا سره زما تړون نهٔ ختمېدُونکے دے. [14]خو چې کُوم نر سُنت شوے نهٔ وی هغه به زما د خلقو نه بېل وی، ځکه چې هغهٔ زما تړون مات کړے دے." [15]خُدائ پاک اِبراهيم ته ووئيل، "تهٔ نور خپلې ښځې ته ساری مهٔ وايه، د نن نه پس د هغې نُوم ساره شو. [16]زهٔ به هغې له برکت ورکړم اؤ د هغې نه به ستا يو زوئ پيدا شی. زهٔ به هغې له برکت ورکړم اؤ هغه به د قومُونو مور شی اؤ د هغې په اولاد کښې به بادشاهان وی." [17]اِبراهيم تندے په زمکه ولګولو، سجده يې وکړه، خو اِبراهيم په خندا شو، چې کله هغهٔ سوچ کولو، "چې يو سړے د سلو کالو زوړ وی

د هغهٔ بچی پیدا کېدے شی څۀ؟ د ساره بچی پیدا کېدے شی چې د لس کم
سل کالو زَړه ده؟“ [۱۸]اِبراهیم خُدائ پاک ته ووئیل، ”کاش چې تۀ اِسمٰعیل زما
وارث کړې!“ [۱۹]خو خُدائ پاک ووئیل چې، ”نه. ستا د خپلې ښځې ساره نه
به یو زوئ پیدا شی اؤ د هغهٔ نُوم اِسحاق کېږده. د هغهٔ اؤ د هغهٔ د اولاد سره به
همېشه د پاره زما تړون وی. کُوم چې یو نهٔ ختمېدُونکے تړون دے. [۲۰]ما ستا
د اِسمٰعیل د پاره سوال اؤرېدلے دے، نو هغهٔ له به هم برکت ورکړم اؤ هغهٔ له به
ډېر بچی اؤ ډېر اولاد ورکړم. هغه به د دولسو بادشاهانو پلار وی اؤ زهٔ به د هغهٔ
د اولاد نه یو لوئ قوم جوړ کړم. [۲۱]خو زما به ستا د زوئ اِسحاق سره تړون
وی، چې هغه به تقریباً بل کال په دې ورځو کښې د ساره نه پیدا کېږی.“ [۲۲]چې
کله خُدائ پاک د اِبراهیم سره خبرې تر سره کړې، نو ترې نه لاړو. [۲۳]هم په
هغه ورځ اِبراهیم اِسمٰعیل اؤ په کور کښې چې څومره نران پیدا شوی وُو هغه
ټول یې سُنت کړل، سره د هغو نوکرانو چې د هغهٔ په کور کښې پیدا شوی وُو
اؤ هغه یې هم سُنت کړل چې د بل وطن نه راوستلے شوی وُو لکه څنګه چې
خُدائ پاک هغهٔ ته وئیلی وُو. [۲۴]اِبراهیم د یو کم سلو کالو وو چې هغه سُنت
شو، [۲۵]اؤ د هغهٔ زوئ اِسمٰعیل د دیارلسو کالو وو. [۲۶]دوئ دواړه په یوه ورځ
سُنت شول، [۲۷]اؤ ورسره د اِبراهیم ټول نوکران هم سُنت شول.

## د حضرت اِبراهیم سره د زوئ د پیداکېدو وعده

**۱۸** [۱]مالِک خُدائ اِبراهیم ته د ممرې پاکو ونو سره راښکاره شو. چې
اِبراهیم د سرې غرمې په وخت د خېمې د دروازې په خُله کښې
ناست وو، [۲]هغهٔ وکتل اؤ څۀ ګوری چې هلته درې سړی ولاړ دی. هغوئ یې
چې څنګه ولیدل، هغهٔ سترګی مشی له ورمنډه کړه. د عِزت نه ورته ټیټ شو،
[۳]اِبراهیم ووئیل، ”صاحِبانو! کۀ تاسو ما د دې قابِل ګڼئ، نو زما سره ایسار شئ
چې زهٔ ستاسو خِدمت وکړم. [۴]کۀ اِجازت وی نو زهٔ به ستاسو خپو وینځلو له
لږې اوبهٔ راوړم، تاسو د دې ونې لاندې دمه وکړئ. [۵]زهٔ به تاسو له لږه ډوډۍ
هم راوړم، نو تاسو به بیا ښهٔ مزل وکړئ. دا زما د پاره د عِزت خبره ده چې

زما کور ته راغلئ، نو زۀ به ستاسو مېلمستيا کوم.“ هغوئ جواب ورکړو، ”ښۀ ده، چې څنګه ستا خوښه وی نو هغه شان وکړه.“ [6]اِبراهيم خېمې ته تېز لاړو اؤ ساره ته يې ووئيل، ”زر شه. د ټولو نه د ښۀ اوړو بوجۍ راواخله اؤ ډوډۍ ترې پخې کړه.“ [7]بيا هغۀ د مال رَمې ته ورمنډه کړه اؤ يو کچه اؤ څورب څخے يې راونيوو اؤ يو نوکر له يې ورکړو، چې هغه يې زر زر تيار کړی. [8]هغۀ لږ ماستۀ، پئ اؤ هغه پخه شوې غوښه هم راوړه اؤ سړو ته يې هر څۀ کېښودل اؤ چې کله هغوئ ډوډۍ خوړله نو د ونې لاندې ورته ولاړ وو. [9]بيا هغوئ د هغۀ نه تپوس وکړو، ”ستا ښځه ساره چرته ده؟“ هغۀ جواب ورکړو، ”هغه دننه په خېمه کښې ده.“ [10]يو مېلمه ووئيل، ”په راتلُونکی کال کښې به زۀ واپس راشم اؤ ستا د ښځې ساره به يو زوئ پېدا شوے وی.“ ساره د خېمې د دروازې شا ته دا خبرې اؤرېدلې. [11]اوس ګوره، اِبراهيم اؤ ساره ډېر بُوډاګان وُو. اؤ ساره د ماشُوم د پېدا کېدو نۀ وه. [12]نو ساره د ځان سره وخندل اؤ وې وئيل، ”اوس زۀ زَړه اؤ ضعيفه يم اؤ زما خاوند هم بُوډا دے، نو اوس په دې عُمر کښې به زۀ د هغۀ سره څملم څۀ؟“ [13]نو مالِک خُدائ د اِبراهيم نه تپوس وکړو، ”ساره ولې وخندل اؤ وې وئيل چې په دې عُمر کښې زما ماشُوم پېدا کېدے شی څۀ چې زۀ ډېره بُوډۍ يم؟ [14]داسې څۀ شته چې د مالِک خُدائ د پاره مُشکل وی؟ لکه چې څنګه ما ووئيل، په راتلُونکی کال به زۀ واپس راځم اؤ د ساره به يو زوئ پېدا شی.“ [15]نو ساره مُنکره شوه ځکه چې هغه يرېده. هغې ووئيل، ”ما خو نۀ دی خندلی.“ هغۀ جواب ورکړو، ”اؤ تا وخندل.“

## د اِبراهيم د صُدوم د نۀ تباه کېدو سوال کول

[16]بيا هغه سړی روان شول اؤ يو داسې ځائ ته لاړل چې د کُوم ځائ نه يې صُدوم ليدلے شو، نو اِبراهيم هغوئ ته په مخه ښه وئيلو د پاره ورسره لاړو. [17]نو مالِک خُدائ د ځان سره ووئيل، ”زۀ چې څۀ کول غواړم هغه به د اِبراهيم نه نۀ پټوم. [18]د هغۀ اولاد به يو لوئ طاقتور قوم وی اؤ د هغۀ په ذريعه به زۀ ټولو قومُونو له برکت ورکړم. [19]ما هغه د دې د پاره غوره کړے دے چې هغه خپلو زامنو اؤ اولاد ته دا نصيحت وکړی چې زما خبره منی اؤ هغه څۀ کوی چې

کُوم صحیح اؤ حق دی. کهٔ دوئ داسې کوی، نو زهٔ به هم د هغهٔ د پاره هغه هر څهٔ وکړم چې ما یې وعده کړې ده.“ [۲۰]بیا مالِک خُدائ اِبراهیم ته ووئیل، ”په صُدوم اؤ عمُوره باندې ډېر سخت الزامُونه دی، دوئ ډېر بد عملونه کوی. [۲۱]زهٔ به لاندې خامخا ځم چې دا پته ولګوم چې کُوم الزامُونه ما اؤرېدلی دی چې هغه رښتیا دی اؤ کهٔ نه.“ [۲۲]بیا هغه دوه سړی لاړل اؤ د صُدوم طرف ته روان شول، خو مالِک خُدائ د اِبراهیم سره ایسار شو. [۲۳]اِبراهیم مالِک خُدائ ته نزدې شو اؤ تپوس یې ترې وکړو، ”تهٔ په رښتیا د بد عملو سره صادقان هم تباه کوې؟ [۲۴]کهٔ په ښار کښې پنځوس صادقان کسان وی، نو تهٔ به ټول ښار تباه کوې څهٔ؟ تهٔ به دوئ نهٔ معاف کوې د دې د پاره چې هغه پنځوس کسان بچ شی؟ [۲۵]په رښتیا سره تهٔ به د بد عملو سره صادقان نهٔ وژنې. دا نامُمکن دی، تهٔ داسې نهٔ شې کولے. کهٔ تهٔ داسې وکړې، نو صادقانو خلقو ته به د بد عملو سره سزا مِلاؤ شی. دا نامُمکن دی. د دُنیا اِنصاف کوُونکے به خامخا اِنصاف کوی.“ [۲۶]مالِک خُدائ ورته ووئیل، ”کهٔ په صُدوم کښې پنځوس صادقان کسان هم وی، نو زهٔ به د هغوئ په خاطر ټول ښار بچ کړم.“ [۲۷]اِبراهیم بیا ووئیل، ”مالِکه خُدایه! ما معاف کړه چې زهٔ زړهٔ ور شوم اؤ ستا په مخکښې خبرې کوم. ځکه چې زهٔ ستا په مخکښې هیڅ هم نهٔ یم. [۲۸]خو کیدے شی چې هلته د پنځوسو صادقانو کسانو په ځائ صِرف پینځهٔ څلوېښت وی. نو تهٔ به د پینځو کسانو د کمی په وجه ټول ښار تباه کوې څهٔ؟“ مالِک خُدائ جواب ورکړو، ”کهٔ پینځهٔ څلوېښت صادقان کسان هم وی نو زهٔ به هغه ښار نهٔ تباه کوم.“ [۲۹]اِبراهیم بیا ووئیل، ”کیدے شی چې هلته صِرف څلوېښت کسان وی.“ هغهٔ جواب ورکړو چې، ”کهٔ څلوېښت کسان هم وی نو زهٔ به هغه ښار نهٔ تباه کوم.“ [۳۰]اِبراهیم ووئیل، ”مالِکه خُدایه! غُصه کېږه مه، خو زهٔ یو ځل بیا عرض کوم. کهٔ هلته صِرف دېرش کسان وی نو بیا؟“ هغهٔ ووئیل، ”زهٔ به داسې نهٔ کوم کهٔ دېرش هم وی.“ [۳۱]اِبراهیم ووئیل، ”مالِکه خُدایه! ما معاف کړه چې زهٔ زړهٔ ور شوم اؤ ستا په مخکښې خبرې کوم، خو کهٔ صِرف شل کسان وی؟“ هغهٔ ووئیل، ”زهٔ به هغه ښار نهٔ تباه کوم کهٔ شل کسان هم وی.“ [۳۲]اِبراهیم ووئیل، ”مالِکه خُدایه! غُصه کېږه مه، زهٔ به صِرف یو ځل بیا عرض کوم. کهٔ هلته صِرف لس کسان وی نو

بيا؟“ هغۀ ووئيل، ”کۀ لس کسان هم وی نو زۀ به هغه ښار نۀ تباه کوم.“ [۳۳]چې
د اِبراهيم سره يې خبرې ختمې کړې نو مالِک خُدائ لاړو اؤ اِبراهيم کور ته
راوګرځېدو.

## د صُدوم د خلقو ګناهُونه

۱۹ [۱]په هغه ماښام چې دوه فرِښتې صُدوم ته راغلې، لُوط د ښار د
دروازې سره نزدې د جرګې په ځائ کښې ناست وو. چې څنګه
هغۀ هغوئ وليدې، نو هغه پاڅېدو اؤ سترې مشی له ورَغلو. هغه هغوئ ته د
عِزت نه ټيټ شو [۲]اؤ وې وئيل، ”صاحِبانو! زۀ به ستاسو خِدمت کوم. ما سره
کور ته لاړ شئ. تاسو خپې ووينځئ اؤ شپې ته ايسار شئ. تاسو چې سحر
وختی پاڅئ نو په خپله مخه تلے شئ.“ خو هغوئ جواب ورکړو، ”نه، مُونږ به
دلته د جرګې په ځائ کښې شپه وکړُو.“ [۳]خو هغۀ ډېر زور کولو اؤ آخِر ورسره کور
ته لاړل. لُوط خپلو نوکرانو له حُکم ورکړو چې ډوډۍ پخه کړی اؤ د مېلمنو د
پاره ښۀ خوراک تيار کړی. چې ډوډۍ تياره شوه، نو هغوئ وخوړه. [۴]د مېلمنو
د څملاستو نه مخکښې، د صُدوم خلق د هغه کور نه تاؤ شول. چې د ښار ټول
خلق، واړۀ زاړۀ په کښې وُو. [۵]دوئ لُوط بهر راوغوښتلو اؤ تپوس يې ترې وکړو،
”هغه سړی چرته دی چې نن تا کره ايسار دی؟ مُونږ له يې بهر راوباسه.“ د
صُدوم خلقو د هغوئ سره زنا کول غوښتل. [۶]لُوط بهر ووتلو اؤ ځان پسې يې
دروازه بنده کړه. [۷]هغۀ هغوئ ته ووئيل، ”عزيزانو! زۀ ستاسو مِنت زاری کوم،
داسې بد کار مۀ کوئ. [۸]ګورئ! زما دوه لُوڼه دی چې لا وادۀ شوې نۀ دی.
هغوئ به زۀ بهر تاسو له راولم اؤ چې څۀ مو خوښه وی هغه ورسره وکړئ. خو
دې سړو ته هيڅ هم مه وايئ، دوئ زما مېلمانۀ دی اؤ د دوئ حِفاظت کول په
ما فرض دی.“ [۹]خو دوئ ووئيل، ”ځه مړه ورک شه مُسافر سړے يې! تۀ څوک
يې چې مُونږ ته چل ښائې؟ زمُونږ د مخې نه لرې شه، ګنی د هغوئ نه به دې
هم بد حال وکړُو.“ دوئ لُوط له ديکه ورکړه اؤ د دروازې په ماتېدو يې شروع
وکړه. [۱۰]خو هغه دننه دوه سړو ورمنډه کړل، لُوط يې کور ته واپس راښکلو
اؤ دروازه يې بنده کړه. [۱۱]بيا هغوئ بهر هغه ټول خلق ړاندۀ کړل، نو هغوئ د

دروازې په لټولو ستړی شول.

## د حضرت لُوط صُدوم پرېښودل

۱۲هغه دوه سړو لُوط ته ووئيل، "کۀ دلته ستا نور څوک وی لکه زامن، لُوڼه،
زُومان اؤ يا ستا نور خپلوان په دې ښار کښې وی، نو د دې ځائ نه يې بهر
کړه، ۱۳ځکه چې مُونږ دا ځائ تباه کوُو. مالِک خُدائ ته د دې خلقو خِلاف
فريادُونه رسېدلی دی اؤ مُونږ يې رالېږلی يُو چې صُدوم تباه کړُو." ۱۴بيا لُوط
هغه سړو ته ورَغلو چې کُومو ته يې لُوڼه کوژدن شوې وې اؤ ورته يې ووئيل،
"زر شئ اؤ د دې ځائ نه ووځئ، مالِک خُدائ به دا ځائ تباه کوی." خو د
هغوئ خيال دا وو چې هغه ټوقې کوی. ۱۵سحر وختی فرښتو کوشش وکړو
چې لُوط تېز شی. هغوئ ووئيل، "زر شه! خپله ښځه اؤ دوه لُوڼه روانې کړه
اؤ ووځه، نو داسې به تاسو نۀ مړۀ کېږئ چې کله ښار تباه کېږی." ۱۶خو لُوط
سستی کوله. اؤ مالِک خُدائ په هغۀ رحم وکړو، نو هغه سړو لُوط، د هغۀ ښځه
اؤ د هغۀ دواړه لُوڼه يې د لاس نۀ ونيولې اؤ د ښار نۀ يې بهر ووېستل. ۱۷بيا
يوې فرِښتې ووئيل، "وتښتئ چې ژوندی پاتې شئ، په شا مۀ ګورئ اؤ په مېدان
کښې مۀ پاتې کېږئ. غرُونو ته منډه کړئ، نو داسې به تاسو د مرګ نه بچ شئ."
۱۸خو لُوط جواب ورکړو، "اُف! نه صاحِبانو! په مُونږ داسې مۀ کوئ. ۱۹تاسو
زما سره ډېر ښۀ کړی دی اؤ زما ژوند مو بچ کړو. خو غرُونه ډېر زيات لرې دی،
تباهی به زما په سر راشی اؤ هلته رسېدو نه مخکښې به زۀ مړ شم. ۲۰تاسو ته
هغه وړُوکے ښار ښکاری؟ هغه نزدې دے. زۀ به هلته لاړ شم. ګورئ هغه خو
وړُوکے ځائ دے، خو زۀ به په آمن کښې يم." ۲۱هغۀ جواب ورکړو، "ټيک ده،
زۀ به ستا خبره ومنم. زۀ به هغه ښار نۀ تباه کوم. ۲۲زر منډه کړه! زۀ به تر هغې
پورې هيڅ هم نۀ کوم چې ته هلته رسېدلے نۀ يې." لُوط دې ته وړُوکے ووئيل،
نو ځکه د هغه ښار نُوم ضُغر شو.

## د خُدایٔ پاک صُدوم اؤ عمُوره تباه کول

۲۳نمر په راختو وو چې لُوط ضُعر ته ورسېدو. ۲۴ناڅاپې مالِک خُدایٔ د صُدوم
اؤ عمُوره په ښارُونو باندې د اور د کاڼو باران اؤرولو ۲۵اؤ هغه ښارونه اؤ ټول
مېدان يې تباه کړو، سره د ټولو خلقو اؤ هر هغه څهٔ چې په هغه زمکه زرغُون
شوی وُو، تباه شول. ۲۶خو د لُوط ښځې شا ته وکتل اؤ د مالګې ستن ترې
جوړه شوه. ۲۷په بله ورځ سحر وختی اِبراهيم هغه ځایٔ ته تېز لاړو چرته چې
هغه د مالِک خُدایٔ په حضُور کښې مخکښې ولاړ وو. ۲۸هغهٔ لاندې صُدوم
اؤ عمُوره اؤ د دې ټولو علاقو ته وکتل اؤ وې ليدل چې د هغه وطن نه لُوګې
ختل، دا داسې لُوګې وُو لکه چې د بټۍ نه خېژی. ۲۹خو چې خُدایٔ پاک د
مېدان هغه ښارونه تباه کړل چرته چې لُوط اوسېدو، نو اِبراهيم د هغهٔ ياد وو اؤ
لُوط يې ولېږلو چې ځان بچ کړی.

## موآبيانو اؤ عمونيانو د بې‌شرمۍ بُنياد کېښودل

۳۰لُوط يرېدو چې په ضُعر کښې پاتې شی، نو هغه د خپلو دوه لُوڼو سره پاس
غرُونو ته لاړو اؤ دوئ په يو غار کښې اوسېدل. ۳۱نو مشرې لُور يې خپلې خور
ته ووئيل، "زمُونږ پلار بُوډا کېږی اؤ په ټوله دُنيا کښې سړی نشته چې مُونږ وادهٔ
کړی اؤ بچی مو پيدا شی. ۳۲راځه چې خپل پلار نشه کړُو، نو د هغهٔ سره به
څملُو اؤ بچی به مو پيدا شی." ۳۳په هغه شپه هغوئ هغهٔ له شراب ورکړل اؤ
مشره لُور د هغهٔ سره څملاسته. خو هغه دومره نشه وو چې پته ورته ونهٔ لګېده.
۳۴بله ورځ مشرې لُور خپلې خور ته ووئيل، "تېره شپه زهٔ د هغهٔ سره څملاستم،
اوس راځه چې نن شپه يې بيا نشه کړُو اؤ تهٔ د هغهٔ سره څمله. نو مُونږ دواړه
به د پلار نه اُميدوارې شُو." ۳۵نو هغه شپه هغوئ هغه بيا نشه کړو اؤ کشره لُور
د هغهٔ سره څملاسته. خو بيا هم هغه دومره نشه وو چې هغهٔ ته هيڅ پته ونهٔ
لګېده. ۳۶نو د لُوط دواړه لُوڼه د خپل پلار نه اُميدوارې شوې. ۳۷د مشرې لُور
يې يو زوئ وشو، چې د هغهٔ نُوم يې موآب کېښودو. هغه د نن زمانې د موآبيانو

پلار نیکهٔ وو. ۳۸د کشرۍ لُور یې هم یو زوئ وشو، چې د هغهٔ نُوم یې بِنعمی
کېښودو. هغه د نن زمانې د عمونیانو پلار نیکهٔ وو.

## حضرت اِبراهیم اؤ ابیمِلِک

۲۰
۱اِبراهیم د ممرې نه د کنعان صحرا ته لاړو اؤ د قادِس اؤ شُور په
مېنځ کښې اوسېدو. په هغه وخت کښې چې کله هغه په جرار کښې
اوسېدو، ۲هغهٔ وئیلی وُو چې خپله ښځه ساره یې خور ده. نو د جرار بادشاه
ابیمِلِک ترې ساره بوتلې وه. ۳خو یوه شپه هغهٔ خُدائ پاک په خوب کښې
ولیدو اؤ ورته یې ووئیل: ”ګوره! تهٔ د مرګ په خُله ولاړ یې، ځکه چې کُومه
ښځه تا راوستې ده هغه وادهٔ شوې هم ده.“ ۴خو ابیمِلِک ګوتې هم نهٔ وې
وروړې اؤ هغهٔ ووئیل، ”مالِکه خُدایه! زهٔ بېګُناه یم! تهٔ به ما اؤ زما خلق تباه
کوې څهٔ؟ ۵اِبراهیم خو په خپله وئیلی وُو چې هغه یې خور ده اؤ هغې هم وئیلی
وُو چې هغه یې ورور دے. ما خو دا په صفا نیت کړی دی اؤ زما لاسُونو ګُناه
نهٔ ده کړې.“ ۶خُدائ پاک په خوب کښې جواب ورکړو، ”اؤ، ما ته پته ده چې
تا دا په صفا نیت کړی دی، هغې ته ګوتې وروړلو ته مې ځکه پرې نهٔ ښودلې
چې زما خِلاف ګُناه ونهٔ کړې ۷خو اوس، هغه ښځه خپل خاوند ته واپس کړه.
هغه یو نبی دے اؤ هغه به درته دُعا وکړی اؤ تهٔ به مړ نهٔ شې. خو کهٔ تهٔ هغه
واپس نهٔ ورکوې، نو زهٔ تا خبروم چې تهٔ اؤ ستا ټول خلق به مړهٔ کېږئ.“ ۸بل
سحر وختی ابیمِلِک خپل ټول درباریان راوغوښتل اؤ چې څهٔ شوی وُو ورته
یې ووئیل اؤ هغوئ سخت ویرېدل. ۹بیا ابیمِلِک اِبراهیم راوغوښتلو اؤ تپوس
یې ترې وکړو، ”دا تا په مُونږ څهٔ کړی دی؟ ما تا سره څهٔ بد کړی دی چې تا په
ما اؤ زما په بادشاهۍ دا آفت راوستلے دے؟ داسې خو د هیچا سره هم نهٔ دی
کول پکار، لکه چې تا زما سره کړی دی. ۱۰دا تا ولې کړی دی؟“ ۱۱اِبراهیم
جواب ورکړو، ”زما دا خیال وو چې دلته به داسې هېڅ څوک هم نهٔ وی چې
هغه د خُدائ پاک نه یرېږی اؤ دوئ به ما ووژنی چې زما ښځه بوځی. ۱۲هغه
په رښتیا زما خور ده. هغه زما د پلار لُور ده، خو زما د خپلې مور لُور نهٔ ده اؤ

ما هغه وادهٔ کړه. [13]چې کله خُدائ پاک زهٔ د خپل پلار د کور نه مُسافر کړم، نو ما هغې ته ووئیل، تهٔ به زما سره هغه وخت خپل غېرت څرګند کړې چې هر چا ته وائې چې زهٔ ستا ورور یم.“ [14]بیا ابی‌مِلِک ساره واپس اِبراهیم ته ورکړه، هم هغه وخت یې هغهٔ ته ګډې، څاروی اؤ نوکران هم ورکړل. [15]هغهٔ اِبراهیم ته ووئیل، ”ګوره! دا ټوله زما زمکه ده، چې چرته دې خوښه وی هلته اوسېږه.“ [16]هغهٔ ساره ته ووئیل، ”زهٔ ستا ورور له یو زر د سپینو زرو سیکې ورکوم، دا د دې د پاره چې تا سره څومره خلق دی چې ټولو ته ثابِته شی چې تهٔ بې‌ګُناه یې، هر چا ته به معلُومه شی چې ستا لمن پاکه ده.“ [17-18]نو په دې وجه چې د اِبراهیم د ښځې ساره سره کُومه واقعه شوې وه، مالِک خُدائ د ابی‌مِلِک په محل کښې ټولې ښځې شنډې کړې. نو اِبراهیم د ابی‌مِلِک د پاره دُعا وکړه اؤ خُدائ پاک هغه روغ کړو، خُدائ پاک د هغهٔ ښځه اؤ د هغهٔ وینځې هم روغې کړې، چې د دوئ بچی پېدا شی.

## د حضرت اِسحاق پېدا کېدل

# ۲۱

[1]مالِک خُدائ ساره له برکت ورکړو اؤ خپله وعده یې ورسره پُوره کړه. [2]اګرچې اِبراهیم په خپله ډېر بُوډا وو، خو لکه څنګه چې خُدائ پاک ورته وئیلی وُو ساره اُمیدواره شوه اؤ هم په هغه صحیح وخت د هغې زوئ وشو. [3]اِبراهیم په خپل زوئ اِسحاق نُوم کېښودو، [4]اؤ چې اِسحاق د اتو ورځو شو، نو اِبراهیم سُنت کړو، هم هغه شان چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو. [5]اِبراهیم د سلو کالو وو چې اِسحاق پېدا شو، [6]نو ساره ووئیل، ”خُدائ پاک زهٔ خندولې یم. اوس چې هر څوک د دې نه خبر شی نو زما سره به خاندی. [7]چا به اِبراهیم ته وئیلی وے چې یوه ورځ به زما نه هم د هغهٔ ماشُوم پېدا کېږی؟ خو ګورئ! په زوړ عُمر کښې یې زما نه زوئ پېدا شوے دے.“ [8]چې ماشُوم غټېدو اؤ په خپله د ډوډۍ د خوړلو شو. نو په هغه ورځ اِبراهیم یو لوئ خیرات وکړو.

## د بی‌بی هاجِرې اؤ د حضرت اِسمٰعیل لرې لېږل

[۹-۱۰]یوه ورځ، ساره وکتل چې د هاجِرې زوئ اِسمٰعیل لوبې کولې، نو هغې اِبراهیم ته ووئیل، "دا مِصرئ وینځه اؤ د هغې زوئ ورک کړه، زۀ دا نۀ غواړم چې هغۀ ته دې په میراث کښې یو څیز هم مِلاؤ شی. هر څۀ به زما د زوئ وی." [۱۱]دې مسئلې اِبراهیم ډېر پرېشان کړو، ځکه چې اِسمٰعیل خو هم د هغۀ زوئ وو. [۱۲]خو خُدائ پاک ووئیل، "اِبراهیمه! د خپلې وینځې اؤ د هلک په باره کښې مۀ خفه کېږه. هم هغه شان وکړه چې څنګه درته ساره وائی ځکه چې د اِسحاق په ذریعه به ستا اولاد ډېر شی. [۱۳]خو د وینځې زوئ هم ستا زوئ دے اؤ د هغۀ د اولاد نه به یو لوئ قوم جوړ کړم." [۱۴]بل سحر وختی اِبراهیم پاڅېدو اؤ هاجِرې له یې د اوبو ډک مشک اؤ ډوډئ ورکړه. او دا یې ورله په ولی کېښودل اؤ د زوئ سره یې رُخصت کړه. اؤ هغه لاړه اؤ بیرسبع ته نزدې په صحرا کښې سرګردانه ګرځېدله، [۱۵]اؤ چې د هغوئ سره اوبۀ ختمې شوې، نو هاجِرې زوئ د یو بُوټی لاندې کښېنولو. [۱۶]اؤ لږه لرې ترې کښېناسته، هغې د ځان سره ووئیل چې زۀ دا نۀ شم زغملے چې د خپل زوئ مرګ ووینم. اؤ هغه هلته ناسته وه سلګئ یې وهلې اؤ ژړل یې. [۱۷]چې کله خُدائ پاک د هلک ژړا واؤرېده، نو د خُدائ پاک فرِښتې د آسمان نه هاجِرې ته آواز وکړو اؤ ورته یې ووئیل، "هاجِرې! تۀ ولې پرېشانه یې؟ یرېږه مۀ. خُدائ پاک ستا د زوئ ژړا اؤرېدلې ده. [۱۸]اُوچت یې کړه اؤ په غېږ کښې یې کښېنوه، ځکه چې زۀ به هغه د یو لوئ قوم پلار کړم." [۱۹]بیا خُدائ پاک هغې ته یو کُوهے وښودلو. نو هغه کُوهی ته لاړه اؤ مشک یې د اوبو نه ډک کړو اؤ هلک له یې اوبۀ ورکړې. [۲۰]خُدائ پاک اِسمٰعیل له برکت ورکړو اؤ چې هلک څنګه لوئ شو، نو د هغۀ نه یو تکړه تیر انداز جوړ شو. [۲۱]هغه د فاران په صحرا کښې اوسېدو، مور ورله یوه مِصرئ جینئ خوښه کړه اؤ ورته یې وادۀ کړه.

## د آمن مُعاهده

۲۲تقریباً هم په هغه وخت ابیٰملِک اؤ د هغۀ د لښکر مشر فیکُل اِبراهیم ته ووئیل "خُدائ پاک تا له په هر کار کښې برکت درکوی، ۲۳اوس زۀ غواړم چې تۀ د خُدائ پاک په نُوم دا تړون وکړې چې تۀ به زما سره دهوکه نۀ کوې اؤ همېشه به زما اؤ زما د اولاد وفادار یې، لکه څنګه چې زۀ همېشه تا سره په دې وطن کښې وفادار یم چې تۀ دلته مُسافر وې." ۲۴نو اِبراهیم ورسره وعده وکړه. ۲۵یوه ورځ، اِبراهیم ابیٰملِک ته شکایت وکړو چې، "ستا یو څو نوکرانو زما په یو کُوهی قبضه کړې ده." ۲۶ابیٰملِک ورته ووئیل، "دا خو ما ستا نه په وړومبی ځل واؤرېدل. تا ما ته مخکښې ولی ونۀ وئیل؟ ما ته پته نشته چې دا چا کړی دی." ۲۷اِبراهیم ابیٰملِک ته ګډې اؤ څۀ غواګانې ورکړې، نو د دوئ په مېنځ کښې د آمن مُعاهده وشوه. ۲۸اِبراهیم د خپلې رَمې نه اووۀ ګډې جُدا کړې، ۲۹اؤ ابیٰملِک ترې تپوس وکړو، "تا دا اووۀ ګډې ولې جُدا کړې؟" ۳۰اِبراهیم جواب ورکړو، "زۀ غواړم چې دا اووۀ ګډې زما نه قبُولې کړې نو تۀ به ګواه یې چې ما دا کُوهے کنستلے وو." ۳۱نو په هغه ځائ یې بیرسبع نُوم کېښودو، ځکه چې دوئ دواړو دلته مُعاهده کړې وه. ۳۲چې کله مُعاهده وشوه، نو ابیٰملِک اؤ د هغۀ د لښکر مشر فیکُل واپس د فلسطین وطن ته لاړل. ۳۳اِبراهیم په بیرسبع کښې د غز ونه وکَرله اؤ د مالِک خُدائ د ابدی خُدائ عِبادت یې وکړو. ۳۴اؤ اِبراهیم ډېر وخت مُسافر وو اؤ د فلسطین په وطن کښې اوسېدو.

## د خُدائ پاک اِبراهیم ته د اِسحاق قُربانولو حُکم ورکول

# ۲۲

۱څۀ موده وروستو خُدائ پاک د اِبراهیم اِمتحان واخستو، هغۀ ته یې ووئیل، "اِبراهیمه!" نو اِبراهیم جواب ورکړو، "زۀ حاضر یم." ۲خُدائ پاک ورته ووئیل، "خپل زوئ روان کړه، خپل یکی یو زوئ اِسحاق، د کُوم سره چې تۀ ډېره مینه کوې اؤ د موریاه وطن ته لاړ شه. هلته په یو غر باندې چې زۀ به یې درته ښایم، هغه ما ته د قُربانئ په توګه پېش کړه." ۳نو اِبراهیم سحر وختی پاڅېدو، خپل خر یې کته کړو اؤ خپل دوه ځوانان سړی اؤ اِسحاق

يې ځان سره روان کړل، هغهٔ د سوزېدُونکې قُربانۍ د پاره لرګی پرې کړل اؤ روان شو اؤ هغه ځائ ته لاړو کوم چې خُدائ پاک ورته ښودلے وو. ۴ په دریمه ورځ چې اِبراهیم وکتل نو د لرې نه یې هغه ځائ ولیدو. ۵ نو هغهٔ نوکرانو ته ووئیل، ”دلته د خرهٔ سره ایسار شئ. دا هلک اؤ زهٔ به هلته لاړ شُو اؤ مُونږ به عِبادت وکړُو اؤ واپس به تاسو له راشُو.“ ۶ اِبراهیم په اِسحاق د قُربانۍ لرګی یوړل اؤ په خپله یې یوه چاړهٔ اؤ ژوندی سکارهٔ د اور بلولو د پاره یوړل. چې کله دوئ مزل کولو، ۷ نو اِسحاق ووئیل، ”پلاره!“ هغهٔ جواب ورکړو، ”اؤ! زما زویه؟“ اِسحاق ترې تپوس وکړو، ”ما ته پته ده چې تا سره سکارهٔ اؤ لرګی شته، خو د قُربانۍ د پاره ګډُورے چرته دے؟“ ۸ اِبراهیم جواب ورکړو، ”زما زویه، خُدائ پاک به په خپله د یو ګډ بندُوبست وکړی.“ اؤ دوئ دواړه روان وُو. ۹ کله چې هغه ځائ ته ورسېدل کُوم چې ورته خُدائ پاک ښودلے وو، اِبراهیم یوه قُربانګاه جوړه کړه اؤ لرګی یې پرې سم کېښودل. هغهٔ خپل زوئ وتړلو اؤ په قُربانګاه کښې یې د لرګو د پاسه کېښودو. ۱۰ بیا اِبراهیم د خپل زوئ حلالولو د پاره چاړهٔ راواخستله. ۱۱ خو ناڅاپه د مالِک خُدائ فرِښتې د آسمان نه هغهٔ ته آواز وکړو، ”اِبراهیمه، اِبراهیمه!“ هغهٔ جواب ورکړو، ”زهٔ حاضر یم.“ ۱۲ فرِښتې ووئیل، ”هلک له چې هیڅ تکلیف ورنهٔ کړې اؤ نهٔ ورته څهٔ ووائې. ما ته پته ده چې تهٔ د خُدائ پاک نه یرېږې، ځکه چې تا هغهٔ ته خپل یکی یو زوئ هم پیش کړو.“ ۱۳ اِبراهیم څهٔ ګوری چې یو ګډ د ښکرو نه په غنو کښې اِنښتے وو. هغه لاړو اؤ را وې نیوو اؤ د خپل زوئ په ځائ یې د سوزېدُونکې قُربانۍ په توګه پیش کړو. ۱۴ اِبراهیم په هغه ځائ ”مالِک خُدائ بندُوبست کوی“ نُوم کېښودو. اؤ د تر ننه پورې خلق وائی، ”د مالِک خُدائ په غر به بندُوبست کېږی“. ۱۵ د مالِک خُدائ فرِښتې په دویم ځل د آسمان نه اِبراهیم ته آواز وکړو چې، ۱۶ ”مالِک خُدائ وائی چې زهٔ مالِک خُدائ په خپل نُوم قسم کوم چې زهٔ به تا له ډېر زیات برکت درکړم. ځکه چې تا دا وکړل اؤ خپل یکی یو زوئ دې هم زما نه بچ ونهٔ ساتلو، ۱۷ زهٔ دا وعده کوم چې زهٔ به تا له دومره ډېر اولاد درکړم لکه چې په آسمان کښې څومره ستوری دی اؤ چې د سمندر په غاړه څومره

شکې دي. ستا اولاد به خپلو دُښمنانو له شکست ورکړي. ۱۸تول قومُونه به ما ته سوال کوي چې هغوئ له داسې برکت ورکړم لکه چې ما ستا اولاد له برکت ورکړے دے. ځکه چې تا زما حُکم ومنلو." ۱۹اِبراهيم خپلو نوکرانو ته واپس لاړو اؤ دوئ په يو ځائ بيرسبع ته لاړل، چې چرته اِبراهيم اوسېدو.

## د ناحور اولاد

۲۰څۀ موده وروستو اِبراهيم خبر شو چې د خپل ورور ناحور يې د مَلِکه نه اتۀ بچي پېدا شوي دي: ۲۱مشرے عُوض، د هغۀ ورور بُوز، د ارام پلار قمواېل، ۲۲-۲۳کَسِد، حزو، فِلداس، اِدلاف اؤ بتواېل، د رِبقه پلار. د اِبراهيم د ورور ناحور، د ښځې مَلِکه نه دا اتۀ زامن پېدا شول. ۲۴د ناحور دويمې ښځې، رُومه نه، طِبح، جاحم، تخص اؤ معکه پېدا شول.

## د بی‌بی ساره مرګ اؤ ښخېدل

**۲۳**

۱ساره يو سل اووۀويشت کاله ژوندۍ وه. ۲هغه د کنعان په وطن کښې په قريت اربع کښې په حق ورسېده چې په حبرون مشهُور دے، اؤ اِبراهيم د ساره په غم غمژن شو اؤ هغې پسې يې ژړل. ۳اِبراهيم د مړې خوا نه پاځېدو، حِتيانو له ورَغلو اؤ وې وئيل چې، ۴"زۀ د پردي وطن يم اؤ تاسو سره اوسېږم، زما خپله زمکه نشته چې چرته زۀ خپله ښځه په يو مُناسب ځائ کښې ښخه کړم. لږه زمکه په ما خرڅه کړئ." ۵هغوئ جواب ورکړو چې، ۶"نېکه! زمُونږ خبره واوره، مُونږ تا ته د يو تکړه مشر په سترګه ګورُو. زمُونږ د اديرې د ټولو نه ښۀ ځائ کښې خپل مړے ښخ کړه، تا به هيڅ څوک د يو ځائ نه هم د خپل مړي ښخولو نه نۀ منع کوي." ۷اِبراهيم پاځېدو اؤ د هغه وطن خلقو يعنې حِتيانو ته يې د عِزت نه سر ټيټ کړو. ۸اؤ ورته يې ووئيل، "کۀ ستاسو دا خوښه وي چې زۀ دلته خپل مړے ښخ کړم، نو د صحر زوئ عِفرون ته ووايئ ۹چې د خپل پټي په سر کښې د مکفيله غار په ما خرڅ کړي. زۀ به يې پُوره قيمت ورکړم اؤ تاسو ټول به د دې ګواهان شئ." ۱۰-۱۱عِفرون هلته د ښار د دروازې سره نزدې ناست وو، چې کله اِبراهيم دا عرض وکړو، نو هغۀ جواب ورکړو

چې، ”صاحِبه! دا ټول پټے سره د غار ستا په وړاندې دے. زما د خپلو خلقو په مخکښې زهٔ دا ستا د مړی د قبر د پاره درکوم.“ [12]يو ځل بيا، اِبراهيم د هغه وطن خلقو ته د عِزت نه ټيټ شو [13]اؤ عِفرون ته يې ووئيل، ”د دې ګواهانو په مخکښې، زهٔ تا له د دې پټی پُوره قيمت درکوم، چې خپله ښځه ښخه کړم. دا قيمت زما نه قبُول کړه.“ [14]عِفرون جواب ورکړو چې، [15]”صاحِبه! زما خبره واوره، د دې ځائ قيمت صِرف څلور سوه د سپينو زرو سيکې به وی. په داسې وړُوکی قيمت به مُونږ څهٔ ټينګېږُو؟ خپل مړے ښخ کړه.“ [16]اِبراهيم د عِفرون دا خبره منظُوره کړه اؤ هغه سپين زر يې عِفرون ته وتلل چې د کُومو په باره کښې يې د حِتيانو په مخکښې وئيلی وُو، د هغه وخت د سوداګرو د وزن مُطابق، څلور سوه د سپينو زرو سيکې. [17]نو داسې اِبراهيم د عِفرون نه هغه د ممرئ سره نزدې مکفيله په علاقه کښې هغه پټے واخستلو. پټے سره د هغه غار اؤ ګېرچاپېره چې څومره ونې وې. [18]د ښار په دروازه کښې د جرګې د ټولو سړو په مخکښې دا زمکه د اِبراهيم شوه چرته چې حِتيان د دې ګواهان وُو. [19]د دې نه پس، اِبراهيم خپله ښځه ساره د مکفيله د پټی په غار کښې ښخه کړه [20]چې کُوم يې د حِتيانو نه اخستے وو.

## رِبقه د اِسحاق ښځه کېدل

## ۲۴

[1]اِبراهيم اوس د ډېر عُمر وو. مالِک خُدائ هغهٔ له په هر کار کښې برکت ورکړے وو. [2]يوه ورځ، اِبراهيم خپل مشر نوکر راوغوښتو اؤ هغهٔ ته يې ووئيل، ”زما سره يو پوخ لوظ وکړه، [3]د مالِک خُدائ په نُوم زهٔ تا له قسم درکوم، د هغه خُدائ پاک چې په آسمان اؤ زمکه بادشاهی کوی، چې تهٔ به زما زوئ اِسحاق د پاره د دې ځائ د کنعان د وطن خلقو کښې ښځه نهٔ خوښوې. [4]په ځائ د دې، واپس هغه وطن ته لاړ شه چې چرته زهٔ پېدا شوے وم. اؤ زما زوئ اِسحاق له زما په خپلوانو کښې ښځه وګوره.“ [5]خو نوکر ترې نه تپوس وکړو، ”کهٔ هغه پېغله چې کُومه زهٔ خوښه کړم، دې وطن ته زما سره نهٔ راځی، نو زهٔ څهٔ اِسحاق هغه وطن له واپس ولېږم چې د کُوم نه تهٔ راغلے

يې؟“ [6]اِبراهيم جواب ورکړو، ”نه، خيال کوه چې تهٔ زما زوئ واپس هلته بونهٔ
ځې. [7]مالِک خُدائ هغه خُدائ پاک چې د آسمانُونو بادشاه دے زهٔ د هغه
وطن نه چې چرته زهٔ پېدا شوے وم دلته راوستم، ما ته يې ووئيل اؤ تړون يې
راسره وکړو چې هغه به زما اولاد له دا زمکه ورکوی. چې کله تهٔ هلته ځې، نو
مالِک خُدائ به ستا نه مخکښې خپله يوه فرِښته زما د زوئ د پاره ښځه لټولو
کښې ستاسو مدد له راولېږی. [8]کهٔ هغه ښځه تاسو سره د راتلو نه اِنکار کوی،
نو خېر دے تهٔ د تړون نه آزاد يې. خو زما زوئ به هلته نهٔ بوځې.“ [9]نو نوکر د
اِبراهيم سره پوخ تړون وکړو چې هغه هر څهٔ به وکړی چې هغهٔ ته يې د کولو د
پاره وئيلی وُو. [10]د دې نه پس، هغه نوکر د اِبراهيم لس اُوښان د ښو تُحفو سره
بار کړل. بيا د شام شمال په طرف هغه ښار ته روان شو، چرته چې د اِبراهيم
ورور ناحور اوسېدو. [11]کله چې هغه هلته ورسېدو، هغهٔ د ښار نه بهر د چينې
سره نزدې اُوښان کښېنول. دا د مازيګر وخت وو، چې کله ښځې اوبو وړلو له
راووتلې. [12]نوکر دُعا وکړه: ”تهٔ مالِک خُدائ، زما د نيک اِبراهيم خُدائ پاک
يې ما نن کامياب کړه اؤ زما د نيک سره خپله وعده پُوره کړه. [13]زهٔ دلته د هغه
چينې سره يم چې چرته به د ښار پېغلې اوبهٔ وړلو له راځی. [14]چې کُومې جينۍ
ته زهٔ وايم چې لږ منګے راټيټ کړه، چې اوبهٔ وڅښم، کهٔ هغه ووائی چې وڅښه
اؤ زهٔ به ستا اُوښانو له هم اوبهٔ راوړم، چې دا هم هغه وی چې تا خپل خِدمت
کوُونکی اِسحاق له خوښه کړې ده. کهٔ داسې وشی، نو ما ته به پته ولګې چې تا
زما د نيک سره خپله وعده پُوره کړې ده.“ [15]د دُعا ختمولو نه مخکښې، رِبقه
چې د هغې په ولی منګے وو راووتله. هغه د بتوايل لُور وه، چې هغه د اِبراهيم
د ورور ناحور اؤ د هغهٔ د ښځې مَلِکه زوئ وو. [16]هغه ډېره ښائسته جينۍ وه اؤ
لا وادهٔ شوې نهٔ وه. هغه لاندې چينې ته لاړه، منګے يې ډک کړو اؤ راوختله.
[17]د اِبراهيم نوکر د مِلاوېدو د پاره هغې له ورمنډه کړل اؤ ورته يې ووئيل، ”ستا
د منګی نه ما له لږې اوبهٔ راکړه.“ [18]هغې ووئيل، ”وڅښه، صاحِبه!“ اؤ هغې
زر د خپل ولی نه منګے راټيټ کړو اؤ چې هغهٔ اوبهٔ څښلې نو منګے يې ورته
نيولے وو. [19]چې کله هغې اوبهٔ ورکړلې، هغې ووئيل، ”زهٔ به ستا اُوښانو له هم

اوبۀ راوړم تر هغه پورې چې تنده يې ماته شي.“ [۲۰]هغې زر زر د څاروو د اوبو په ډيګئ کښې منګے تشولو اؤ چينې ته به د نورو اوبو د پاره په منډه تله، تر دې پورې چې ټولو اُوښانو ښۀ وڅښلې. [۲۱]د هغه سړی په هغې باندې نظر وو اؤ غلے ولاړ وو، چې معلُوم کړی چې مالِک خُدائ هغۀ له په سفر کښې کاميابی ورکړې ده کۀ نه. [۲۲]چې کله اُوښانو اوبۀ وڅښلې، هغه سړی د سرو زرو يوه قيمتی نتکئ هغې ته ورپه پوزه کړه اؤ دوه درنې د سرو زرو کَړی يې ورپه لاس کړې. [۲۳]هغۀ ووئيل، ”ما ته ووايه چې ستا پلار څوک دے، د هغۀ په کور کښې زمُونږ د شپې تېرولو ځائ شته؟“ [۲۴]هغې جواب ورکړو، ”زما پلار بتواېل دے، چې د ناحور اؤ مَلِکه زوئ دے. [۲۵]مُونږ سره ډېر بُوس اؤ واښۀ شته اؤ ستاسو د پاتې کېدو د پاره حُجره هم شته.“ [۲۶]بيا هغه سړی خپل سر ټيټ کړو اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې وکړو. [۲۷]هغۀ ووئيل، ”د مالِک خُدائ ثناء دې وی، چې زما د نېک اِبراهيم خُدائ پاک دے، چې هغۀ په رښتيا سره زما د نېک سره خپله وعده پُوره کړې ده. مالِک خُدائ زما د نېک خپلوانو ته زۀ نيغ راوستلم.“ [۲۸]جينئ کور ته منډه کړه اؤ خپلې مور اؤ نورو ټولو ښځو ته يې ټوله قيصه تېره کړه. [۲۹]د رِبقې يو ورور وو چې نُوم يې لابن وو، هغۀ بهر د چېنې طرف ته منډه کړه چې چرته د اِبراهيم نوکر وو. [۳۰]لابن د خپلې خور په پوزه نتکئ اؤ د هغې په لاسُونو کَړې ليدلې وې. اؤ رِبقې دا خبره کوله چې لابن واؤرېدل څۀ چې هغه سړی وئيلی وُو. هغه د اِبراهيم نوکر له ورَغلو چې هغه د خپلو اُوښانو سره د چينې سره ولاړ وو، [۳۱]اؤ لابن ورته ووئيل، ”زما سره کور ته لاړ شه. تۀ هغه سړے يې چې مالِک خُدائ برکت درکړے دے. تۀ دلته بهر ولې ولاړ يې؟ ما په خپل کور کښې ستا د پاره ځائ تيار کړے دے اؤ هلته ستا د اُوښانو د پاره هم ځائ شته.“ [۳۲]نو هغه سړے دننه کور ته لاړو اؤ لابن د اُوښانانو نه بارُونه کُوز کړل اؤ بُوس اؤ واښۀ يې ورته واچول. بيا هغۀ د اِبراهيم د نوکر اؤ د هغۀ د سړو د پاره اوبۀ راوړې چې خپلې خپې ووينځی. [۳۳]چې ډوډئ يې کله راوړه، هغه سړی ووئيل، ”تر هغه پورې به زۀ خوراک نۀ کوم چې تر کُومې پورې ما هغه څۀ وئيلی نۀ وی چې څۀ وئيل غواړم.“ لابن ووئيل، ”ټيک ده ووايه.“ [۳۴]هغۀ خبره

شروع کړه، ”زۀ د اِبراهيم نوکر يم. ۳۵مالِک خُدائ زما نيک له ډير زيات برکت
ورکړے دے اؤ هغه يې ډير مالدار کړے دے. هغۀ له يې د ګډو اؤ چيلو رَمې،
څاروی، سپين زر، سرۀ زر، غُلامان اؤ وينځې، اُوښان اؤ خرۀ هم ورکړی دی.
۳۶زما د نيک د ښځې ساره نه چې کله هغه بُوډۍ وه د هغۀ يو زوئ وشو اؤ زما
نيک هغۀ له خپل هر څۀ ورکړی دی. ۳۷زما نيک زما نه دا پوخ لوظ اخستے
دے چې د هغۀ حُکم به منم. هغۀ ووئيل، د کنعان د وطن د پيغلو نه زما زوئ له
ښځه مۀ خوښوه. ۳۸خو زما د پلار خلقو، زما خپلوانو ته لاړ شه اؤ د هغۀ د پاره
ښځه خوښه کړه. ۳۹اؤ ما د خپل نيک نه تپوس وکړو، فرض کړه کۀ هغه ښځه
زما سره نۀ راځی نو بيا؟ ۴۰هغۀ جواب راکړو چې مالِک خُدائ، چې د کُوم
ما هميشه فرمانبرداری کړې ده، هغه به خپله فرِښته تا ته درولېږی اؤ کاميابی به
درکړی. تۀ به زما د زوئ د پاره زما د خپلو خلقو نه، زما د پلار د کورنۍ نه،
يوه ښځه پيدا کړې. ۴۱ستا د پاره صِرف يوه لار شته چې د تړون نه آزاد شې:
هغه دا چې کۀ تۀ زما خپلوانو ته لاړ شې اؤ هغوئ تا ته اِنکار وکړی، نو بيا
به تۀ آزاد يې. ۴۲چې نن زۀ چينې ته راغلم، ما مالِک خُدائ ته سوال وکړو،
اے مالِکه خُدايه، زما د نيک اِبراهيم خُدايه پاکه! ما له په سفر کښې کاميابی
راکړه. ۴۳زۀ دلته د چينې سره يم، کله چې يوه جينۍ اوبو وړلو له راشی، نو زۀ
به ورته ووايم چې ما له د خپل منګی نه لږې اوبۀ راکړی. ۴۴کۀ هغه ما له اؤ
زما اُوښانو له هم اوبۀ ورکول وغواړی، چې دا هم هغه ښځه وی چې تا زما د
نيک زوئ د پاره خوښه کړې ده. ۴۵د هغې نه مخکښې چې ما پټه په زړۀ کښې
دُعا ختمه کړې وه، رِبقه چې د هغې په ولی منګے وو راغله اؤ لاندې چينې
ته لاړه. ما هغې ته ووئيل چې، څښلو له لږې اوبۀ راکړه. ۴۶هغې زر د خپل
ولی نه منګے راښکته کړو اؤ وې وئيل، اوبۀ وڅښه اؤ زۀ به ستا اُوښانو له هم
اوبۀ ورکړم. نو ما هم اوبۀ وڅښلې اؤ اُوښانو له يې هم ورکړې. ۴۷ما د هغې نه
تپوس وکړو، ستا پلار څوک دے؟ نو هغې جواب راکړو، زما پلار بتوايل دے
چې د ناحور اؤ مَلِکه زوئ دے. بيا ما هغې له نتکۍ ورپه پوزه کړه اؤ کړی مې
ورپه لاس کړې. ۴۸ما خپل سر ټيټ کړو اؤ د مالِک خُدائ عِبادت مې وکړو.
ما د مالِک خُدائ ثناء ووئيله، چې زما د نيک اِبراهيم خُدائ پاک دے، چې

هغهٔ زهٔ سیدها زما د نېک خپلوانو ته روان کړے وم، چرته چې ما د خپل نېک د زوئ د پاره د هغهٔ د ورور لُور ومُوندله. ۴۹نو کهٔ تهٔ زما د نېک سره خپله ذِمه واری پُوره کول غواړې اؤ ښهٔ سلُوک ورسره کوې، نو ما ته ووایه اؤ کهٔ نهٔ وی نو هم ووایه، بیا به زهٔ فېصله وکړم چې ما له څهٔ کول په کار دی.“ ۵۰لابن اؤ بتوایل جواب ورکړو، ”دا خبره د مالِک خُدائ نه راپېښه ده اؤ مُونږ ورته ښهٔ یا بد نهٔ شُو وئیلے. ۵۱دا رِبقه ده، د ځان سره یې بوځه. هغه دې ستا د نېک د زوئ ښځه شی، لکه چې څنګه مالِک خُدائ په خپله وئیلی دی.“ ۵۲چې کله د اِبراهیم نوکر دا خبره واؤرېده، هغه ټیټ شو اؤ د مالِک خُدائ عِبادت یې وکړو. ۵۳بیا هغهٔ ورله جامې، سپین زر اؤ د سرو زرو کالی راوویستل اؤ رِبقې له یې ورکړل. هغهٔ د هغې ورور اؤ مور له هم قیمتی تُحفې ورکړې. ۵۴د دې نه پس، د اِبراهیم نوکر اؤ د هغهٔ سره نورو سړو خوراک څښاک وکړو اؤ هلته یې شپه تېره کړه. چې کله هغوئ سحر پاڅېدل، هغهٔ ووئیل، ”ما خپل نېک له واپس ولېږه.“ ۵۵خو د رِبقې ورور اؤ د هغې مور ووئیل، ”کم ازکم لسو ورځو له دې هغه زمُونږ سره ایساره شی، نو بیا دې لاړه شی.“ ۵۶خو هغهٔ ووئیل، ”مُونږ مهٔ ایساروئ. مالِک خُدائ زما سفر کامیاب کړے دے، ما خپل نېک له واپس ولېږئ.“ ۵۷هغوئ جواب ورکړو، ”مُونږ به رِبقه راوغواړُو اؤ د هغې نه به تپوس وکړُو چې هغه څهٔ وائی.“ ۵۸نو هغوئ رِبقه راوغوښته اؤ تپوس یې ترې وکړو، ”تهٔ د دې سړی سره تلل غواړې څهٔ؟“ هغې جواب ورکړو، ”اؤ زهٔ به لاړه شم.“ ۵۹نو هغوئ رِبقه اؤ د کور یوه زَړه خِدمتګاره د اِبراهیم د نوکر اؤ د هغهٔ د سړو سره ولېږل. ۶۰اؤ دوئ د رِبقې د پاره برکت وغوښتلو اؤ ورته یې ووئیل چې: ”خورې تهٔ دې د زرګُونو مور شې، ستا اولاد دې د خپلو دُښمنانو په ښارُونو بریالے شی.“ ۶۱بیا رِبقه اؤ د هغې نوکرانې تیارې شوې اؤ په اُوښانو سورې شوې چې د اِبراهیم د نوکر سره لاړې شی اؤ دوئ ټول روان شول. ۶۲اِسحاق د ”بیرلحی‌روئ“ نه راغلے وو. اؤ د کنعان صحرا کښې ایسار وو. ۶۳هغه ماښام په پټو کښې چکر لګولو له ووتلو اؤ څهٔ ګوری چې اُوښان راروان وُو. ۶۴چې کله رِبقې اِسحاق ولیدلو، هغه د خپل اُوښ نه کُوزه شوه ۶۵اؤ د اِبراهیم نوکر نه یې تپوس وکړو، ”هغه سړے چې په پټی کښې زمُونږ طرف ته راروان دے

ځوک دے؟“ نوکر جواب ورکړو، ”هغه زما نېک دے.“ نو هغې ځادر واخستلو
اؤ خپل مخ يې پټ کړو. [66]نوکر هغه هر څۀ اِسحاق ته ووئيل چې څۀ يې کړی
وُو. [67]بيا اِسحاق رِبقه خپلې هغه خېمې له راوستله چې د هغۀ مور ساره په
کښې اوسېدلې وه اؤ هغه يې ښځه شوه. اِسحاق د رِبقه سره مينه کوله، نو هغۀ
ته د خپلې مور د مرګ نه پس آرام مِلاؤ شو.

## د حضرت اِبراهيم نور اولاد

(د تاريخ اول کِتاب : )

# ۲۵

[1]بيا اِبراهيم بله ښځه وکړه، چې د هغې نُوم قطوره وو. [2]د هغې
نه يې زمران، يُقسان، مِدان، ميديان، اسباق اؤ سُوخ پېدا شول.
[3]يُقسان د سِبا اؤ دَدان پلار وو اؤ د دَدان اولاد اسوری، لطُوسی اؤ لومی وو. [4]د
ميديان زامن عيفاه، عِفر، حنوک، ابيداع اؤ الدوعا وُو. دا ټول د قطوره اولاد
وو. [5]اِبراهيم چې څۀ هم لرل هغه يې اِسحاق ته ورکړل، [6]هغۀ په خپل ژوندُون
کښې هغه زامنو له تُحفې ورکړلې چې د هغۀ د نورو ښځو نه پېدا شوی وُو. بيا
هغۀ دا زامن د خپل زوئ اِسحاق نه لرې، د نَمرخاتۀ وطن ته ولېږل.

## د حضرت اِبراهيم مرګ اؤ ښخېدل

[7]چې اِبراهيم د يو سل پينځۀ اؤيا اؤ کالو عُمر ته ورسېدو، [8]نو اِبراهيم ساه ورکړه
اؤ ښۀ په پوخ عُمر کښې په حق ورسېدو اؤ د ډېر عُمر سړے وو. [9]د هغۀ زامنو
اِسحاق اؤ اِسمٰعيل، د ممرئ سره نزدې د ضُعر د زوئ عِفرون حِتی په پټی
کښې، د مکفيله په غار کښې ښخ کړو. [10]دا هغه پټے وو چې اِبراهيم د حِتيانو
نه اخستے وو، اِبراهيم اؤ د هغۀ ښځه ساره دواړه هلته ښخ وُو. [11]د اِبراهيم
د مرګ نه پس، خُدائ پاک د هغۀ زوئ اِسحاق له برکت ورکړو، چې هغه
”بيرلحی‌روئ“ ته نزدې اوسېدو.

## د حضرت اِسمٰعیل اولاد

(د تاریخ اول کِتاب : )

۱۲دا د اِبراهیم د زوئ اِسمٰعیل اولاد دے، اِسمٰعیل د هاجِرې مِصرئ زوئ
وو څوک چې د ساره وینځه وه. ۱۳دا د اِسمٰعیل زامن وُو، چې په دې ترتیب سره
پېدا شوی وُو: نبایوت، قیدار، ادبیئل، مِبسام، ۱۴مِشماع، دُومه، مسه، ۱۵حدد،
تیما، یطور، نفیس اؤ قِدمه. ۱۶دوئ د دولسو قبیلو پلاران وُو اؤ د دوئ نومُونه
د دوئ په کلو اؤ د اوسېدو ځایُونو باندې ایښے شوی وُو. ۱۷اِسمٰعیل د یو سل
اووهٔ دېرشو کالو وو چې ساه یې ورکړه اؤ په حق ورسېدو. ۱۸د اِسمٰعیل اولاد د
حویله اؤ شُور علاقې په مېنځ کښې اوسیدل دا د اسُور په لاره مِصر سره نزدې
وو. دوئ د اِبراهیم د نور اولاد نه جُدا اوسېدل.

## د حضرت عیساؤ اؤ حضرت یعقُوب پېدا کېدل

۱۹دا د اِبراهیم د زوئ اِسحاق قیصه ده. ۲۰اِسحاق د څلوېښتو کالو وو چې کله
هغهٔ د رِبقې، د بتوایل لُور، د لابن خور سره وادهٔ وکړو. دوئ د میسوپوتامیه
ارامی وُو. ۲۱اِسحاق مالِک خُدائ ته د خپلې ښځې د پاره سوال وکړو، ځکه
چې هغه شنډه وه. مالِک خُدائ د هغهٔ آواز واؤرېدو اؤ رِبقه اُمیدواره شوه. ۲۲د
هغې جوړه بچی پېدا کېدُونکی وُو اؤ د پېدا کېدو نه مخکښې دوئ د مور په
خېټه کښې په ضد شول. نو هغې د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو، "په ما داسې
ولې کېږی؟"

۲۳مالِک خُدائ هغې ته ووئیل،
"ستا په خېټه کښې دوه قومُونه دی،
ستا نه دوه پېدا کېدُونکی قومُونه به د یو بل خِلاف وی.
یو به د بل نه طاقتور وی،
مشر به د کشر خِدمتګار وی."

۲۴د هغې د بچو د پېدا کېدو وخت راغلو اؤ د هغې جوړه زامن پېدا شول.
۲۵هغه مشر د رنګه سُور وو اؤ د هغهٔ څرمن د ببرې څُوغې په شان وه، نو د هغهٔ

نُوم يې عيساؤ كېښودو. [26]هغه دويم د عيساؤ پُونده ټينګه نيولې وه، نو د هغهٔ نُوم يعقُوب شو. اِسحاق د شپېتو کالو وو چې دوئ پېدا شول.

## د حضرت عيساؤ د خپلې مشرۍ حقُونه خرڅول

[27]هلكان لوئ شول اؤ عيساؤ يو تكړه ښكارى شو اؤ د هغهٔ بهر ګرځېدل خوښ وُو، خو يعقُوب غلے سړے وو چې د كور نه به نهٔ وتلو. [28]عيساؤ په اِسحاق ګران وو، ځكه چې عيساؤ به كُوم ځناور ښكار كړل نو اِسحاق د دې د خوړلو شوقين وو، خو په رِبقه يعقُوب ګران وو. [29]يوه ورځ چې كله يعقُوب د كورښو ښوروا پخوله، عيساؤ د ښكار نه راغلو. هغه وږې وو [30]اؤ يعقُوب ته يې ووئيل، ”زهٔ د لوږې نه مرم، ما له لږه دا د سُور رنګ ښوروا راكړه.“ نو ځكه د هغهٔ نُوم ادوم شو. [31]يعقُوب جواب وركړو، ”زهٔ به دا تا له په دې شرط دركړم كهٔ تهٔ ما له د خپلې مشرۍ حقُونه راكوې.“ [32]عيساؤ ووئيل، ”ټيک ده، زهٔ مرم، بيا به زما دا مشرتوب ما له څهٔ فائده راكړى؟“ [33]يعقُوب جواب وركړو، ”اول زما سره دا لوظ وكړه چې تهٔ به خپل ټول حقُونه ما له راكوې.“ نو عيساؤ ورسره لوظ وكړو اؤ يعقُوب ته يې خپل حقُونه وركړل. [34]بيا يعقُوب هغهٔ له ډوډۍ اؤ څهٔ ښوروا وركړه. هغهٔ خوراک خښاک وكړو اؤ بيا پاځېدو اؤ لاړو. نو داسې عيساؤ د خپلې مشرۍ حقُونو ته سپک وكتل.

## حضرت اِسحاق اؤ ابىمِلِک

## ٢٦

[1]د هغې نه وروستو، په هغه وطن كښې يو بل قحط راغلو كُوم چې مخكښې د اِبراهيم په وخت كښې راغلے وو. اِسحاق په جرار كښې، د فلسطين بادشاه ابىمِلِک له ورَغلو. [2]مالِک خُدائ اِسحاق ته راښكاره شو اؤ ورته يې ووئيل، ”مِصر ته مهٔ ځه، په دې وطن كښې اوسېږه، كُوم ځائ چې زهٔ درته ښايم. [3]دلته اوسېږه اؤ زهٔ به ستا مل شم اؤ بركت به دركړم. زهٔ دا ټوله علاقه تا اؤ ستا اولاد له دركوم. ما چې كُومه وعده ستا پلار اِبراهيم سره

کړې ده زۀ به هغه پُوره کړم. ۴زۀ به تا له دومره ډېر اولاد درکړم لکه چې په آسمان کښې ستورى دى اؤ زۀ به هغوئ له دا ټوله علاقه ورکړم. ټولو قومُونو ته به ستا د اولاد په وسيله برکت ملاوېږى. ۵زۀ به تا له برکت درکړم، ځکه چې اِبراهيم زما فرمانبردارى کړې ده اؤ زما ټول قانُونُونه اؤ حُکمونه يې پُوره کړى دى.“ ۶نو اِسحاق په جرار کښې اوسېدو. ۷کله چې د هغه ځائ خلقو د هغۀ د ښځې په باره کښې تپوس وکړو، هغۀ ووئيل چې هغه زما خور ده. هغۀ دا اِقرار ونۀ کړو چې هغه يې ښځه ده، هغه يرېدو چې هسې نه چې خلق يې مړ کړى اؤ رِبقه به ترې نه بوځى، ځکه چې هغه ډېره ښائسته وه. ۸د اِسحاق هلته د ډېر وخت اوسېدو نه پس، ابىمِلِک بادشاه د کړکۍ نه لاندې وکتل اؤ وې ليدل چې اِسحاق خپله ښځه رِبقه غاړه ويستله. ۹ابىمِلِک اِسحاق راوغوښتلو اؤ ورته يې ووئيل، ”نو دا معلُومه شوه چې هغه ستا ښځه ده. تا ولې وئيلى دى چې هغه ستا خور ده؟“ هغۀ جواب ورکړو، ”زما خيال دا وو چې کۀ دا مې ووئيل چې هغه زما ښځه ده نو زۀ به ووژلے شم.“ ۱۰ابىمِلِک ورته ووئيل، ”دا تا زمُونږ سره څۀ کړى دى؟ زما د خلقو نه يو سړے په آسانۍ سره ستا د ښځې سره څملاستے شو اؤ تا به مُونږ ګُناهګار کړى وُو.“ ۱۱ابىمِلِک ټولو خلقو له خبردارے ورکړو: ”کۀ څوک دې سړى يا د هغۀ ښځې له په بد نيت لاس ووړى نو خامخا به ووژلے شى.“ ۱۲چې کله هغه هلته اوسېدو، اِسحاق هلته زمکه وکَرله اؤ په هغه کال يې چې څومره کَرلى وُو د هغه نه يو په سل زيات فصل يې وشو، ځکه چې مالِک خُدائ هغۀ له برکت ورکړو. ۱۳هغه مالدار کېدو اؤ لوئ سړے شو. ۱۴ځکه چې د هغۀ ډېر نوکران، چېلۍ اؤ څاروى اؤ د ګډو ډېرې رَمې وې، خو په فلسطينيانو هغه بد لګېدو. ۱۵چې کُوم کُوهى د اِبراهيم په ژوند د اِبراهيم نوکرانو کنستلى وُو نو فلسطينيانو هغه کُوهى بند کړل اؤ د خاورو نه يې ډک کړل. ۱۶ابىمِلِک اِسحاق ته ووئيل، ”زمُونږ د وطن نه بهر شه. تۀ زمُونږ نه زيات تکړه شوے يې.“ ۱۷نو اِسحاق لاړو اؤ د جرار په مېدان کښې يې خېمه ولګوله، چې هلته د څۀ وخت د پاره ايسار شو. ۱۸هغۀ يو ځل بيا هغه کُوهى وکنستل کُوم چې د اِبراهيم په وخت کښې کنستلے شوى وُو اؤ فلسطينيانو د

اِبراهيم د مرګ نه پس بند کړی وُو. اِسحاق به هغه کُوهی ته هم هغه نومُونه اخستل کُوم چې د هغهٔ پلار پرې ايښی وُو. [19]د اِسحاق نوکرانو په مېدان کښې يو کُوهے کنستلو اؤ هلته يې د اوبو يوه چينه ومُوندله. [20]د جرار شپُونکی د اِسحاق د شپُونکو سره په جګړه شول اؤ وې وئيل چې، "دا اوبهٔ زمُونږ دی." نو اِسحاق په هغه کُوهی "عِسق" نُوم کېښودو، ځکه چې هغوئ د هغهٔ سره جګړه وکړه. [21]د اِسحاق نوکرانو يو بل کُوهے وکنستلو اؤ په هغه باندې هم جګړه وشوه، نو په هغې يې "سِتنه" نُوم کېښودو. [22]هغه د دې ځائ نه لاړو اؤ يو بل کُوهے يې وکنستلو. اؤ په هغې باندې هيڅ لانجه جوړه نهٔ شوه، نو هغهٔ په دې کُوهی باندې "رحوبت" نُوم کېښودو. هغهٔ ووئيل، "مالِک خُدائ اوس زمُونږ د پاره يو ځائ جوړ کړے دے چې په دې وطن کښې اوسېږُو اؤ مُونږ به دلته آباد شُو." [23]اِسحاق د دې ځائ نه بيرسبع ته لاړو. [24]په هغه شپه مالِک خُدائ هغهٔ ته راښکاره شو اؤ ورته يې ووئيل، "زهٔ ستا د پلار اِبراهيم خُدائ پاک يم. يرېږه مه، زهٔ ستا مل يم. زهٔ به تا له برکت درکړم اؤ د خپل خِدمت کوُونکی اِبراهيم سره زما د وعدې په ذريعه به تا له ډېر اولاد درکوم." [25]اِسحاق هلته يوه قُربانګاه جوړه کړه اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې وکړو. بيا هغهٔ هلته خپله خېمه ولګوله اؤ د هغهٔ نوکرانو بل کُوهے وکنستلو.

## د حضرت اِسحاق اؤ ابی‌مِلِک په مېنځ کښې د آمن مُعاهده

[26]ابی‌مِلِک د جرار نه د خپل مُشير اخوزت سره اؤ د خپل لښکر مشر فيکُل سره د اِسحاق سره مِلاوېدو د پاره راغلو. [27]نو اِسحاق ترې تپوس وکړو، "تهٔ اوس زما سره مِلاوېدو له ولې راغلے يې، چې تهٔ مخکښې زما سره ډېر بد وې اؤ زهٔ دې د خپل وطن نه بهر کړم؟" [28]هغوئ جواب ورکړو چې، "مُونږ ته صفا پته ولګېده چې مالِک خُدائ ستا مل دے اؤ زمُونږ خيال دا دے چې زمُونږ په مېنځ کښې يو پوخ تړون په کار دے. مُونږ ستا سره تړون کول غواړُو. [29]چې تهٔ به مُونږ ته نُقصان نهٔ رسوې، لکه چې څنګه مُونږ تا ته نُقصان نهٔ دے رسولے. اؤ مُونږ هيڅ بد تا سره نهٔ دی کړی اؤ په آمن سره ژوند تېرولو ته مو پرېښودلے

وي. اؤ بې‌شکه چې مالِک خُدائ تا له برکت درکړے دے." ۳۰اِسحاق هغوئ له غټه مېلمستيا وکړه اؤ هغوئ خوراک څښاک وکړو. ۳۱هغوئ سحر وختی پاڅېدل اؤ يو بل ته يې قسمُونه وکړل. اِسحاق هغوئ رُخصت کړل اؤ هغوئ د هغهٔ نه په سلامتۍ سره لاړل. ۳۲هم په هغه ورځ د اِسحاق نوکران راغلل اؤ هغهٔ ته يې د هغه کُوهی په باره کښې ووئيل چې کُوم هغوئ کنستلے وو. هغوئ ووئيل، "مُونږ اوبهٔ مُوندلې دی." ۳۳هغهٔ په هغه کُوهی "سِبع" نُوم کېښودو. اؤ تر نن پورې د هغه ښار نُوم بير سِبع دے.

## د حضرت عيساؤ د بل وطن ښځې

۳۴چې کله عيساؤ د څلوېښتو کالو وو، هغهٔ دوه حِتۍ ښځې د بيرئ لُور يهودِته اؤ د ايلون لُور بشامه وادهٔ کړې. ۳۵هغوئ د اِسحاق اؤ رِبقه ژوند تريخ کړو.

## د حضرت اِسحاق حضرت يعقُوب له برکت ورکول

**۲۷** ۱چې کله اِسحاق ضعيف شو اؤ نظر يې کار پرېښودو، هغهٔ خپل مشر زوئ عيساؤ راوغوښتو اؤ هغهٔ ته يې ووئيل، "اے زما زويه!" هغهٔ جواب ورکړو، "جې زهٔ حاضر يم." ۲اِسحاق ورته ووئيل چې، "گوره! زهٔ ضعيف يم اؤ کېدے شی چې زر وفات شم. ۳خپل غشې اؤ لينده راواخله، بهر پټو ته لاړ شه اؤ زما د پاره ښکار وکړه. ۴ما له زما د خوښې مزېدار خوراک پوخ کړه اؤ ما له يې راوړه. چې کله هغه زهٔ وخورم، نو زهٔ به تا له زما د مرگ نه مخکښې خپل آخری برکت درکړم." ۵چې کله اِسحاق عيساؤ ته دا خبرې کولې، نو رِبقه اؤرېدلې. اؤ چې عيساؤ پټو ته ښکار د پاره لاړو، ۶نو رِبقې يعقُوب ته ووئيل، "گوره! ما ستا د پلار نه د عيساؤ سره دا خبرې واؤرېدې چې، ۷ما له د ښکار غوښه راوړه اؤ ما له يې پخه کړه. چې کله هغه وخورم، نو د مرگ نه مخکښې به د مالِک خُدائ په وړاندې خپل برکت تا له درکړم." ۸رِبقې ورته وئيل، "اوس زما زويه! زما خبره واوره اؤ چې څهٔ درته وايم هم هغه شان وکړه. ۹رَمې ته لاړ شه اؤ دوه څاربهٔ د چېلۍ بچی راونيسه، نو زهٔ به ترې مزېدار

خوراک پوخ کړم کُوم چې ستا د پلار ډېر خوښ دے. [10]هغه تهٔ خپل پلار له
یوسه چې یې وخوری، نو د مرګ نه مخکښې به هغه تا له خپل برکت درکړی.“
[11]خو یعقُوب خپلې مور ته ووئیل، ”تا ته پته ده چې د عیساؤ په ځرمن ویښتهٔ
شته خو زما په ځرمن ویښتهٔ نشته. [12]کېدے شی چې زما پلار ما له لاس راوړی
اؤ هغهٔ ته پته ولګي چې زهٔ یې دهوکه کوم، نو زهٔ به په خپل ځان د برکت په
ځائ لعنت راوړم.“ [13]د هغهٔ مور ورته ووئیل، ”زما زویه! ستا لعنت دې په ما
شی، بس هغه څهٔ وکړه چې څنګه زهٔ درته وایم، لاړ شه اؤ ما له د چېلۍ بچی
راوله.“ [14]نو هغه لاړو اؤ هغه یې راونیول اؤ خپلې مور له یې راوستل اؤ د هغهٔ
مور هغه مزېدار خوراک پوخ کړو کُوم چې د هغهٔ د پلار ډېر خوښ وو. [15]بیا
هغې عیساؤ له هغه خاص جامې راواخستلې، چې کُومې هغې ورله په کور کښې
ساتلې وې اؤ خپل کشر زوئ یعقُوب ته یې ورواغوستلې. [16]هغې د هغه چېلۍ
بچو ځرمنې د هغهٔ لاسُونو اؤ د هغهٔ څټ ته هم ورواغوستلې چرته چې ویښتهٔ
نهٔ وُو. [17]رِبقې هغهٔ له هغه مزېدار خوراک ورکړو اؤ چې کُومه ډوډۍ یې پخه
کړې وه هغه یې هم ورکړه. [18]بیا یعقُوب خپل پلار له ورَغلو اؤ ورته یې ووئیل،
”زما پلاره!“ هغهٔ جواب ورکړو، ”ښه، تهٔ زما کُوم زوئ یې؟“ [19]یعقُوب جواب
ورکړو، ”زهٔ ستا مشر زوئ عیساؤ یم، ما هم هغه شان کړی دی چې څنګه تا ما
ته ووئیل. اوس لږ کښېنه اؤ د ښکار غوښه وخوره چې کُومه ما درله راوړې ده،
نو تهٔ به ما له خپل برکت راکړې.“ [20]اِسحاق ورته ووئیل، ”زما زویه! دومره زر
تا ښکار څنګه وکړو؟“ یعقُوب جواب ورکړو، ”مالِک خُدائ، ستا خُدائ پاک
زهٔ کامیاب کړم.“ [21]اِسحاق یعقُوب ته ووئیل، ”زما زویه! لږ رانزدې شه چې تا
له لاس درووړم. تهٔ په رښتیا عیساؤ یې څهٔ؟“ [22]یعقُوب خپل پلار ته ورنزدې
شو، هغهٔ له یې لاس وروړو اؤ وې وئیل چې، ”ستا آواز د یعقُوب د آواز په
شان دے، خو ستا لاسُونه د عیساؤ د لاسُونو په شان دی.“ [23]هغهٔ یعقُوب ونهٔ
پېژندلو، ځکه چې د هغهٔ لاسُونه د عیساؤ په شان د ویښتو نه ډک وُو. یعقُوب
هغهٔ له د برکت په ورکولو وو، [24]خو چې بیا یې ترې نه تپوس وکړو، ”تهٔ په رښتیا
عیساؤ یې؟“ هغهٔ جواب ورکړو، ”اؤ زهٔ عیساؤ یم کنه.“ [25]اِسحاق ووئیل، ”ما

له د ښکار غوښه لږه رانزدې کړه. چې زهٔ هغه وخورم، زهٔ به تا له خپل برکت درکړم." يعقُوب ورله هغه راوړه اؤ هغهٔ ورله څهٔ شراب هم څښلو له راوړل. [26] بيا د هغهٔ پلار هغهٔ ته ووئيل، "زما زويه! رانزدې شه اؤ ښُکل مې کړه." [27] چې هغه ښُکلولو له ورته راغلو په اِسحاق د هغهٔ د جامو بُوئ ولګېدو. نو هغهٔ خپل برکت ورکړو. هغهٔ ووئيل، "آه! زما د زوئ وږمه د پټو د بُوئ په شان ده کُومې له چې مالِک خُدائ برکت ورکړے دے. [28] خُدائ پاک دې تا له د آسمان نه پرخه درکړی اؤ ستا زمکه دې شنه کړی، هغه دې تا له ډېره زياته غله اؤ د انګُورو شراب درکړی، [29] قومُونه دې ستا خِدمتګاران شی اؤ خلق دې ستا په مخکښې ټيټ شی. تهٔ دې په خپلو خلقو حکومت وکړې اؤ ستا د مور اولاد دې تا ته ټيټ شی. چې په تا څوک لعنت وائی په هغوئ دې لعنت وی اؤ چې څوک تا له برکت غواړی په هغوئ دې برکت وی."

## د حضرت عيساؤ د حضرت اِسحاق نه برکت غوښتل

[30] چې کله اِسحاق خپل برکت ورکول ختم کړل، نو چې څنګه يعقُوب لاړو، نو د هغهٔ ورور عيساؤ د ښکار نه راغلو. [31] هغهٔ هم مزېدار خوراک پوخ کړو اؤ هغه يې خپل پلار له راوړو. هغهٔ ووئيل، "پلاره! لږ راپاځه اؤ د ښکار غوښه وخوره چې کُومه ما تا له راوړې ده، نو تهٔ به ما له خپل برکت راکړې." [32] اِسحاق تپوس وکړو، "تهٔ څوک يې؟" هغهٔ جواب ورکړو، "ستا مشر زوئ عيساؤ يم." [33] اِسحاق ويرېدو اؤ ټول رپېدلو اؤ هغهٔ تپوس وکړو، "نو بيا هغه څوک وو، چې ښکار يې وکړو اؤ هغه غوښه يې ما له راوړه؟ ستا د راتلو نه لږ مخکښې ما هغه وخوړه. ما هغهٔ له خپل آخری برکت ورکړو، نو دا د هغهٔ د همېشه د پاره دے." [34] چې کله عيساؤ دا واؤرېدل، هغهٔ ډېر په چغو چغو وژړل اؤ وې وئيل، "اے پلاره، ما له هم خپل برکت راکړه!" [35] اِسحاق جواب ورکړو، "ستا ورور راغلو اؤ دهوکه يې کړم. هغهٔ ستا برکت وړے دے." [36] عيساؤ ووئيل، "په دې کښې هيڅ شک نشته د هغهٔ نُوم يعقُوب دے. دا دويم ځل دے چې هغهٔ زما ځائ په چل نيولے دے، اول يې زما د مشرئ حق واخستو اؤ اوس يې زما برکت هم واخستو. تا زما د پاره برکت نهٔ دے پرېښے څهٔ؟" [37] اِسحاق جواب وکړو،

”ما هغه په تا اِختیارمن کړے دے اؤ ما د هغهٔ ټول خپلوان د هغهٔ نوکران کړی دی. ما هغهٔ له غله اؤ د انګُورو شراب ورکړی دی. زما زویه! اوس داسې هيڅ هم نشته چې ستا د پاره يې زهٔ وکړم.“ [۳۸]عيساؤ خپل پلار ته سوال زاری کوله: ”پلاره! تا سره صِرف يو برکت وو څهٔ؟ پلاره! ما له هم برکت راکړه.“ هغهٔ ډېره زياته ژړا شروع کړه. [۳۹]بيا اِسحاق هغهٔ ته ووئيل، ”ستا د پاره به د آسمان نه پرخه نهٔ وی،

ستا د پاره به زمکه شنه نهٔ وی.

[۴۰]تهٔ به د خپلې تُورې په زور ژوند تېروې،

خو د خپل ورور به تهٔ غُلام يې.

چې کله تهٔ باغی شې،

نو د هغهٔ پړی به وشلوې.“

[۴۱]عيساؤ د يعقُوب سره کينه ساتله، ځکه چې د هغهٔ پلار، يعقُوب له هغه برکت ورکړے وو. هغهٔ د خپل ځان سره ووئيل، ”زما د پلار مرګ نزدې دے چې کله زما پلار وفات شی، نو بيا به زهٔ يعقُوب ووژنم.“ [۴۲]خو رِبقه د خپل مشر زوئ عيساؤ د دې خبرې نه خبر شوه، نو هغې يعقُوب راوغوښتلو اؤ ورته يې ووئيل، ”دا خبره واوره! ستا ورور عيساؤ بدل اخستل غواړی اؤ تا وژل غواړی. [۴۳]نو زما زويه! چې څهٔ زهٔ وايم هم هغه شان وکړه. سمدستی لابن له وتښته چې په حاران کښې دے، [۴۴]اؤ د هغهٔ سره د څهٔ وخت د پاره پاتې شه، چې ستا د ورور غُصه سړه شی [۴۵]اؤ چې د هغهٔ هغه څهٔ هېر شی چې تا ورسره کړی دی. بيا به زهٔ څوک درولېږم چې تا واپس راولی. زهٔ دې خپل دواړه زامن په يوه ورځ ولې بايلم؟“

## د حضرت اِسحاق د حضرت يعقُوب لابن له لېږل

[۴۶]رِبقې اِسحاق ته ووئيل، ”زهٔ د عيساؤ د بل وطن د ښځو په وجه په خپل ژوند کښې تنګه يم. کهٔ يعقُوب هم د دې وطن د حِتی ښځو نه د يوې حِتی ښځې سره وادهٔ وکړو، نو زما د پاره به مرګ ښهٔ وی.“

## ۲۸

۱اِسحاق یعقُوب راوغوښتلو، په مخه ښه يې ورته ووئيل اؤ هغۀ له يې حُکم ورکړو، ”د يوې کنعانئ جينئ سره وادۀ ونۀ کړې. ۲سمدستی ميسوپوتاميه ته، د خپل نيکۀ بتوايل کور ته لاړ شه اؤ هلته د خپل ماما لابن د لُونړو نه يوې سره وادۀ وکړه. ۳قادر خُدائ پاک دې ستا وادۀ بختور کړی اؤ ډېر اولاد دې درکړی، نو تۀ به د ډېرو قومُونو پلار شې، ۴هغه دې تا اؤ ستا اولاد له برکت درکړی لکه څنګه چې هغۀ اِبراهيم له برکت ورکړے وو اؤ دا وطن دې ستا شی، چې په کُوم کښې تۀ مُسافر وې اؤ چې کُوم خُدائ پاک اِبراهيم له ورکړے وو.“ ۵نو څکه اِسحاق يعقُوب په ميسوپوتاميه کښې، لابن له ولېږلو، چې هغه د بتوايل ارامی زوئ وو اؤ د رِبقې ورور وو، کومه چې د يعقُوب اؤ عيساؤ مور وه.

### د حضرت عيساؤ بلې ښځې سره وادۀ کول

۶عيساؤ ته دا پته ولګېده چې اِسحاق يعقُوب له برکت ورکړے وو اؤ د ښځې لټولو د پاره يې هغه ميسوپوتاميه ته لېږلے وو. هغۀ ته دا هم پته وه چې کله اِسحاق هغۀ له برکت ورکړو اؤ يعقُوب له يې حُکم ورکړو چې د يوې کنعانئ ښځې سره به وادۀ نۀ کوی. ۷هغۀ ته پته ولګېده چې يعقُوب د خپل پلار اؤ مور خبره منلې وه اؤ ميسوپوتاميه ته تلے وو. ۸نو عيساؤ پوهه شو چې د هغۀ د پلار اِسحاق کنعانئ ښځې خوښې نۀ دی. ۹نو هغه د اِبراهيم زوئ اِسمٰعيل له لاړو اؤ د هغۀ لُور مَهلت سره يې وادۀ وکړو، چې هغه د نبايوت خور وه.

### د يعقُوب په بيت‌ايل کښې خوب ليدل

۱۰يعقُوب د بيرسبع نه لاړو اؤ د حاران په طرف روان شو. ۱۱نمر په پرېوتو وو چې هغه يو خاص ځائ ته راغلو اؤ په هغه شپه هلته پاتې شو. هغه د اُودۀ کېدو د پاره ګټملاستو اؤ خپل سر يې په يو کاڼي کېښودو. ۱۲هغۀ په خوب کښې وليدل چې يوه پوړئ د زمکې نه آسمان پورې ختلې ده اؤ دا يې هم وليدل چې د خُدائ پاک فرِښتې په دې باندې بره لاندې، ختلې اؤ راکُوزېدلې. ۱۳اؤ

ګوره! هغهٔ په خوب کښې وليدل چې مالِک خُدائ د هغهٔ سره ولاړ وو. هغهٔ
ووئيل، ”زهٔ مالِک خُدائ يم، د اِبراهيم اؤ د اِسحاق خُدائ پاک يم، زهٔ به تا اؤ
ستا اولاد له دا زمکه ورکوم چې په کُومه تهٔ ملاست يې. ۱۴هغوئ به د زمکې
د شګو په شان زيات شی. دوئ به خپله علاقه په هر طرف خوره کړی، ستا اؤ
ستا د اولاد په وجه به زهٔ د دُنيا ټولو قومُونو له برکت ورکړم. ۱۵ياد ساته! زهٔ
به ستا مل يم اؤ چې چرته هم ځې نو زهٔ به ستا حِفاظت کوم اؤ زهٔ به تا واپس
دې زمکې ته راولم. زهٔ به تا تر هغې پورې نهٔ پرېږدم چې ما تا سره خپله وعده
پُوره کړې نهٔ وی.“ ۱۶يعقُوب د خوب نه پاڅېدو اؤ وې وئيل، ”بې‌شکه چې
مالِک خُدائ دلته دے، هغه په دې ځائ کښې دے، خو ما ته پته نهٔ وه.“ ۱۷هغه
يرېدو اؤ د ځان سره يې ووئيل، ”دا ځائ خو د يرې نه ډک دے! دا به خامخا
د خُدائ پاک کور وی، دا به خامخا د آسمان دروازه وی.“ ۱۸چې کله يعقُوب
بل سحر پاڅېدو، هغه کاڼے يې راواخستلو چې په کُوم يې سر ايښے وو اؤ د يو
يادګار په توګه يې ودرولو. بيا هغهٔ په دې باندې تېل واچول چې خُدائ پاک
ته وقف شی. ۱۹هغهٔ په هغه ځائ بيت‌ايل نُوم کېښودو. دا ښار مخکښې د لُوز
په نُوم مشهُور وو. ۲۰بيا يعقُوب د خُدائ پاک سره وعده وکړه: ”کهٔ تهٔ زما مل
يې اؤ په دې سفر کښې زما حِفاظت کوې اؤ ما له خوړلو له ډوډۍ راکوې اؤ
اغوستلو له جامې راکوې، ۲۱اؤ کهٔ زهٔ په حِفاظت سره بيا د خپل پلار کور ته
راشم، نو تهٔ به زما خُدائ پاک يې. ۲۲دا د يادګار کاڼے چې کُوم ما ودرولے
دے، دا به هغه ځائ وی چې چرته به ستا عِبادت کېږی اؤ چې تهٔ ما له څهٔ
راکوې د هغې لسمه برخه به زهٔ خامخا تا له درکوم.“

## د حضرت يعقُوب د لابن کور ته رسېدل

**۲۹**

۱بيا يعقُوب په خپل سفر روان وو اؤ د نَمرخاتهٔ په طرف د خلقو
وطن ته لاړو. ۲چې څنګه هغهٔ وکتل نو هغهٔ په مېدان کښې يو کُوهے
وليدو اؤ وې ليدل چې درې رَمې ورسره پرتې وې. هغه رَمو به د دې کُوهی نه
اوبهٔ څښلې اؤ د هغه کُوهی په خُله يوه غټه تيږه پرته وه. ۳اؤ چې کله به ټولې

رَمې هلته راغونډې شوې، نو شپانو به هغه تيږه لرې کوله اؤ اوبۀ به يې ورکولې.
بيا به هغوئ هغه تيږه واپس په خپل ځائ د کُوهی په خُله کېښودله. [4]يعقُوب
د شپانو نه تپوس وکړو، "زما ورُورو! تاسو د کُوم ځائ يئ؟" هغوئ جواب
ورکړو، "مُونږ د حاران يُو." [5]هغۀ ترې تپوس وکړو، "تاسو د ناحور نمسے،
لابن پېژنئ؟" هغوئ ورته ووئيل، "اؤ مُونږ يې پېژنُو." [6]هغۀ ترې تپوس وکړو،
"هغه څنګه دے؟" هغوئ جواب ورکړو، "هغه ښۀ دے، ګوره! دلته د هغۀ لُور
راحيل د خپلو رَمو سره راروانه ده." [7]يعقُوب ووئيل، "ګوره تر اوسه پورې نمر
اُوچت ولاړ دے اؤ د رَمو د راغونډولو وخت لا نۀ دے، تاسو ولې اوبۀ نۀ ورکوئ
اؤ واپس يې څرولو له نۀ بوځئ؟" [8]هغوئ جواب ورکړو، "مُونږ داسې تر هغې
پورې نۀ شُو کولے چې ټولې رَمې راغونډې نۀ وی. اؤ چې کله هغه تيږه لرې
کړے شی، نو بيا به مُونږ رَمو له اوبۀ ورکوُو." [9]يعقُوب لا د هغوئ سره خبرې
کولې چې راحيل د خپل پلار د رَمې سره راورسېدله، ځکه چې هغه شپُونکۍ
وه. [10]چې کله يعقُوب خپله د ماما لُور راحيل د هغې د پلار د رَمې سره وليده،
نو هغه کُوهی له ورَغلو، د کُوهی د خُلې نه يې تيږه لرې کړه اؤ د لابن رَمو له
يې اوبۀ ورکړې. [11]بيا يعقُوب، هغه ښُکله کړه اؤ د خوشحالۍ نه په ژړا شو،
[12]هغۀ راحيل ته ووئيل، "زۀ ستا د پلار رِشته‌دار، د رِبقې زوئ يم." هغې منډه
کړه چې خپل پلار ته ووائی، [13]اؤ چې کله لابن د خپل خورئی يعقُوب په حقله
واؤرېدل، نو هغۀ مِلاوېدو له ورمنډه کړه، هغۀ ته غاړه وتلو اؤ ښُکل يې کړو اؤ
هغه يې کور ته دننه راوستلو. يعقُوب لابن ته هغه هر څۀ ووئيل چې څۀ شوی
وُو. [14]لابن ووئيل، "په رښتيا سره، تۀ زما خپله وينه يې." يعقُوب هلته پُوره
مياشت ايسار شو.

## د حضرت يعقُوب دوه وِدُونه کول

[15]لابن يعقُوب ته ووئيل، "تا له صِرف زما د خپلوالۍ په وجه زما خِدمت کول
نۀ دی په کار. ما ته ووايه، چې تۀ به څومره مزدُوری غواړې؟" [16]نو د لابن
دوه لُونړه وې، د مشرې نُوم لِياه اؤ د کشرې راحيل وو. [17]د لِياه سترګې ښُکلې

وې، خو راحيل د بدن نه ښُکلې وه. [18]يعقُوب د راحيل سره مينه کوله، نو ځکه هغهٔ ووئيل، "زهٔ به ستا د کشرې لُور راحيل د پاره ستا اووهٔ کاله خِدمت کوم." [19]لابن جواب ورکړو، "هغه چې بل چا له ورکوم د هغې نه دا ښهٔ ده چې تا له يې درکړم، دلته زما سره اوسېږه." [20]نو يعقُوب د راحيل د پاره اووهٔ کاله خِدمت وکړو اؤ هغه وخت په هغهٔ باندې صِرف د يو څو ورځو په شان تېر شو، ځکه چې هغهٔ د راحيل سره مينه کوله. [21]بيا يعقُوب لابن ته ووئيل، "هغه وخت پُوره شوے دے، ستا لُور راکړه چې وادهٔ يې کړم." [22]نو لابن د وادهٔ ډوډۍ وکړه اؤ ټول خلق يې راوغوښتل. [23]خو په هغه شپه، د راحيل په ځائ هغهٔ لِياه يعقُوب له بوتله اؤ يعقُوب د هغې سره څملاستو. [24]لابن خپله وينځه زِلفه خپلې لُور لِياه له د خِدمتګارۍ په توګه ورکړه. [25]چې کله سحر شو، يعقُوب ته پته ولګېده چې دا خو لِياه ده. هغه لابن له ورَغلو اؤ ورته يې ووئيل، "دا تا زما سره څهٔ کړي دي؟ ما خو د راحيل د پاره خِدمت کړے دے. تا زهٔ ولې دهوکه کړے يم؟" [26]لابن جواب ورکړو، "دلته دا رِواج نهٔ دے چې کشره لُور دې د مشرې نه مخکښې وادهٔ شي. [27]صبر وکړه چې د وادهٔ اوومه تېره شي، نو زهٔ به راحيل هم تا له درکړم، خو کهٔ تهٔ زما نور اووهٔ کاله خِدمت وکړې." [28]يعقُوب راضي شو اؤ چې کله د وادهٔ اووهٔ ورځې پوره شوې، لابن هغهٔ له خپله لُور راحيل هم ورکړه چې ښځه يې شي. [29]لابن خپله وينځه بِلهاه خپلې لُور راحيل له ورکړه چې خِدمتګاره يې شي. [30]يعقُوب د راحيل سره هم څملاستو اؤ هغهٔ د هغې سره د لِياه نه زياته مينه کوله. بيا هغهٔ د لابن نور اووهٔ کاله خِدمت وکړو.

## د حضرت يعقُوب بچي پيداکېدل

[31]چې کله مالِک خُدائ دا وليدل چې د لِياه سره مينه نهٔ کېدله، نو مالِک خُدائ هغې له اولاد ورکړو، خو راحيل شنډه پاتې شوه. [32]لِياه اُميدواره شوه اؤ يو زوئ يې پيدا شو. هغې ووئيل، "مالِک خُدائ زهٔ په تکليف کښې ليدلې يم اؤ اوس به زما خاوند زما سره مينه کوی." نو د هغهٔ نُوم يې روبين کېښودو. [33]هغه

بیا اُمیدواره شوه اؤ یو بل زویٔ یې پېدا شو. نو هغې ووئیل، "مالِک خُدایٔ ما
له دا زویٔ هم راکړے دے، ځکه چې هغهٔ ته پته وه چې زما نه کرکه کېږی."
نو د هغهٔ نُوم یې شمعُون کېښودو. [34]هغه یو ځل بیا اُمیدواره شوه اؤ د هغې
یو بل زویٔ وشو. هغې ووئیل، "زما د خاوند زړهٔ به اوس په ما پورې نور هم
تړلے وی، ځکه چې زما نه د هغهٔ درې زامن پېدا شول." نو د هغهٔ نُوم یې لیوی
کېښودو. [35]بیا هغه یو ځل بیا اُمیدواره شوه اؤ یو بل زویٔ یې پېدا شو. هغې
ووئیل، "دا ځل به زهٔ د مالِک خُدایٔ ثناء ووایم." نو هغې د هغهٔ نُوم یهُوداه
کېښودو. بیا د هغې نور بچی پېدا نهٔ شول.

# ۳۰

[1]خو د راحیل نه د یعقُوب هیڅ بچی پېدا شوی نهٔ وُو. نو په راحیل
خپله خور بده لګېده اؤ یعقُوب ته یې ووئیل، "زهٔ غواړم چې زما
نه دې هم بچی وی ګنی زهٔ به مړه شم." [2]یعقُوب راحیل ته غُصه شو اؤ وې
وئیل، "زهٔ څهٔ خُدایٔ پاک خو نهٔ یم چې تا له د بچو نِعمت نهٔ درکوی." [3]هغې
ووئیل، "زما وینځه بِلهاه بوځه، د هغې سره څمله، نو د هغې به زما د پاره بچی
پېدا شی. اؤ د هغې په وجه به زما کور آباد شی." [4]نو هغې بِلهاه خپل خاوند له
ورکړه اؤ هغه د هغې سره څملاستو. [5]بِلهاه اُمیدواره شوه اؤ د یعقُوب یو زویٔ
ترې پېدا شو. [6]راحیل ووئیل، "خُدایٔ پاک زما په حق کښې فېصله کړې ده.
هغهٔ زما سوال اؤرېدلے دے اؤ ما له یې یو زویٔ راکړے دے"، نو د هغهٔ نُوم یې
دان کېښودو. [7]بِلهاه یو ځل بیا اُمیدواره شوه اؤ د یعقُوب ترې دویم زویٔ وشو.
[8]راحیل ووئیل، "ما د خپلې خور سره لویه مُقابله کړې ده. خو ما ګټلې ده"،
نو د هغهٔ نُوم یې نفتالی کېښودو. [9]چې کله لِیاه ته دا پته ولګېده چې د هغې
به نور بچی نهٔ کېږی، نو هغې خپله وینځه زِلفه یعقُوب له ورکړه چې ښځه یې
شی. [10]بیا د زِلفه نه د یعقُوب یو زویٔ وشو. [11]لِیاه ووئیل، "زهٔ بختوره یم"، نو
د هغهٔ نُوم یې جاد کېښودو. [12]د زِلفه نه د یعقُوب یو بل زویٔ وشو، [13]اؤ لِیاه
ووئیل، "زهٔ خوشحاله یم! اوس به ښځې ما ته خوشحاله وائی"، نو هغې
د هغهٔ نُوم اشیر کېښودو. [14]د غنمو د لَو په وخت روبین پټو ته لاړو اؤ هلته یې

هغه بُوتۍ ومُوندل د کُومو په ذريعه چې د زنانه حمل لګېدلو اؤ هغه يې خپلې مور لِياه له راوړل. راحيل لِياه ته ووئيل، "ما له خو ستا د زوئ بُوټۍ لږ راکړه." [15]لِياه جواب ورکړو، "دا څۀ وړه خبره ده چې زما خاوند دې رانه قبضه کړے دے؟ اؤ اوس تۀ وائې چې ما له هغه د حمل بُوټۍ راکړه کوم چې ستا زوئ راوړې دی." راحيل ووئيل، "کۀ تۀ ما له ستا د زوئ هغه بُوټۍ راکړې، نو تۀ نن شپه د يعقُوب سره څملاستے شې." [16]چې کله يعقُوب ماښام د پټو نه راغلو، لِياه بهر مِلاوېدو له هغۀ له ورغله اؤ وې وئيل، "تۀ به خامخا نن زما سره څملې، ځکه چې ما د خپل زوئ د حمل بُوټۍ ستا په سر ورکړې دی." نو په هغه شپه د هغې سره څملاستو. [17]خُدائ پاک د لِياه سوال واؤرېدو اؤ هغه اُميدواره شوه اؤ د يعقُوب ترې پينځم زوئ وشو. [18]لِياه ووئيل، "خُدائ پاک ما له خپل اجر راکړے دے، ځکه چې ما خپله وينځه خپل خاوند له ورکړه"، نو هغې په خپل زوئ يساکار نُوم کېښودو. [19]لِياه بيا اُميدواره شوه اؤ د يعقُوب ترې شپږم زوئ وشو. [20]هغې ووئيل، "خُدائ پاک ما له يوه ښُکلې تُحفه راکړې ده. اوس به زما خاوند زما قدر کوی، ځکه چې زما نه د هغۀ شپږ زامن پيدا شوی دی"، نو هغې د هغۀ نُوم زبولون کېښودو. [21]وروستو د هغې يوه لُور پيدا شوه، چې د هغې نُوم يې دينه کېښودو. [22]بيا خُدائ پاک راحيل رايادہ کړه، هغۀ د هغې سوال قبُول کړو اؤ هغې له يې هم بچی ورکړل. [23]هغه اُميدواره شوه اؤ يو زوئ يې پيدا شو. هغې ووئيل، "خُدائ پاک ما له يو زوئ راکړو نو زۀ يې د پېغور نه خلاصه کړم. [24]نو هغې د هغۀ نُوم يُوسف کېښودو. مالِک خُدائ دې ما له يو بل زوئ هم راکړی."

## د حضرت يعقُوب رَمې زياتېدل

[25]د يُوسف د پيدا کېدو نه پس، يعقُوب لابن ته ووئيل، "ما له اِجازت راکړه، چې زۀ خپل کور اؤ خپل وطن ته واپس لاړ شم. [26]ما له زما ښځې اؤ زامن راکړه چې ما ستا خِدمت کولو کښې ګټلی دی اؤ زۀ به لاړ شم. ځکه چې تا ته پته ده چې ما ستا څومره ښۀ خِدمت کړے دے." [27]لابن هغۀ ته ووئيل، "کۀ زۀ

ستا په نظر کښې ښۀ يم نو يوه خبره به وکړم: ما ته غيبانه پته لګېدلې ده چې هم ستا په وجه مالِک خُدائ ما له برکت راکړے دے. [28] چې تۀ څومره مزدُوری غواړې نو ووايه اؤ زۀ به يې درکړم.“ [29] يعقُوب جواب ورکړو، ”تا ته په خپله پته ده چې ما ستا څومره خِدمت کړے دے اؤ ستا رَمې زما سره څومره زياتې شوې دی. [30] ځکه چې تا زما د راتلو نه مخکښې لږ څۀ لرل اؤ اوس ډېر زيات شول اؤ چې ما چرته هم ستا رَمې بوتلې دی مالِک خُدائ تا له برکت درکړے دے. اوس هغه وخت راغلے دے چې زۀ د خپلې کورنۍ خيال وساتم.“ [31] لابن ترې تپوس وکړو، ”زۀ تا له څۀ درکړم؟“ يعقُوب جواب ورکړو، ”زۀ درنه هيڅ مزدُوری نۀ غواړم. زۀ به بيا ستا رَمې څروم اؤ ساتم کۀ تۀ زما د پاره يو کار وکړې: [32] نن به زۀ ستا په ټولو رَمو کښې وګرځم اؤ هر تور ګډُورے اؤ ټولې ټکې ټکی اؤ برَګې چېلۍ به راوباسم. بس دا ټوله مزدُوری ده چې زۀ يې غواړم. [33] په راتلُونکی وخت کښې به تا ته په آسانۍ سره پته ولګې کۀ زۀ رښتُونے سړے يم. چې کله تۀ بيا د دې کتلو له راشې، کۀ زما سره توره ګډه، ټکی ټکی يا برَګې چېلۍ نۀ وی، نو تۀ به پوهه شې چې پټې کړے شوې دی.“ [34] لابن جواب ورکړو، ”ټيک ده. مُونږ به هم ستا په خبره کار کوُو.“ [35] خو په هغه ورځ لابن هغه چېلی چې کرښې پرې وې يا برَګ وُو هغه يې بېل کړل اؤ هغه ټولې چېلۍ چې ټکی ټکی اؤ برَګې وې اؤ تورې ګډې يې هم ترې لرې کړې. اؤ هغۀ دا د خپلو زامنو په حواله کړې، [36] اؤ بيا د دې رَمې سره د يعقُوب نه د دريو ورځو د مزل برابر لرې لاړو. يعقُوب د لابن پاتې رَمې ساتلې. [37] يعقُوب د سپېدار، بادام اؤ چِنار د ونو شنې څانګې راماتې کړې اؤ پوستکی يې ترې لرې کړل نو په دې څانګو باندې سپينې کرښې راووتلې. [38] هغۀ دا څانګې د رَمو په مخکښې د اوبو په ډېګو کښې کېښودې. هغۀ دا هلته پرېښودې، ځکه چې کله به څاروی اوبو څښلو له راتلل نو هلته به مال کېدل. [39] نو چې دا د څانګو په مخکښې مال شوې نو هغوئ د کرښو والا، ټکی ټکی اؤ برَګ بچی راوړل. [40] يعقُوب ګډې د چېلو نه بېلې ساتلې اؤ هغۀ د هغوئ مخُونه د لابن د کرښو والا اؤ تورو څاروو ته کړل. نو هغۀ خپله رَمه جوړه کړه اؤ دا يې د لابن د رَمې

نه جُدا کړه. ۴۱ چې کله تکړه څاروی مال کېدل، يعقُوب د هغوئ په مخکښې
د اوبو په هغه ډېګو کښې څانګې کېښودې، نو د هغه څانګو په خوا کښې به
څاروی مال کېدل. ۴۲ خو هغهٔ د کمزورو څاروو په مخکښې هغه څانګې کېنهٔ
ښودلې. نو هغه ټول کمزوری څاروی د لابن شول اؤ تکړه ټول د يعقُوب شول.
۴۳ نو يعقُوب ډېر مالدار شولو. د هغهٔ ډېرې رَمې نوکران، اُوښان اؤ خرهٔ وُو.

## د حضرت يعقُوب د لابن نه تښتېدل

# ۳۱

۱ نو يعقُوب واؤرېدل چې د لابن زامن وائی، "زمُونږ د پلار سره
چې څهٔ هم وُو نو هغه يعقُوب د خپل ځان سره وړی دی. د هغهٔ
سره چې څومره دولت دے هغه ټول زمُونږ د پلار وو." ۲ هغهٔ ته دا پته هم ولګېده
چې لابن اوس دومره ورسره ښهٔ نهٔ دے لکه چې هغه څومره مخکښې وو. ۳ بيا
مالِک خُدائ هغهٔ ته ووئيل، "واپس د خپل پلار نيکهٔ وطن اؤ خپلوانو له لاړ
شه. زهٔ به ستا مل يم." ۴ نو يعقُوب راحيل اؤ لِياه راوغوښتلې چې د هغهٔ سره
په پټی کښې مِلاؤ شی چرته چې د هغهٔ رَمې وې. ۵ هغهٔ هغوئ ته ووئيل، "ما
ته پته لګېدلې ده چې ستاسو پلار زما سره دومره ښهٔ نهٔ دے لکه چې څومره
مخکښې وو، خو زما د پلار خُدائ پاک زما مل دے. ۶ تاسو دواړو ته پته ده
چې ما د خپل ټول طاقت سره ستاسو د پلار خِدمت وکړو. ۷ هغهٔ زهٔ دهوکه
کړم اؤ لس ځل يې زما مزدُوری بدله کړې ده. خو خُدائ پاک هغه ما ته څهٔ
نُقصان رسولو ته پرې نهٔ ښودلو. ۸ چې کله هم لابن وئيلی دی، برَګې چېلۍ
به ستا مزدُوری وی، ټولو رَمو برَګ بچی راوړل. چې کله هغهٔ ووئيل، د کرښو
والا چېلۍ به ستا مزدُوری وی، نو ټولو رَمو د کرښو والا بچی راوړل. ۹ خُدائ
پاک ستاسو د پلار نه رَمې اخستې دی اؤ هغه يې ما له راکړی دی. ۱۰ د څاروو
د وار راوړو په وخت کښې ما يو خوب وليدو اؤ ما وکتل چې کُوم چېلی چې
چېلۍ مال کوی هغه د کرښو والا، ټکي ټکی اؤ برَګ وُو. ۱۱ د خُدائ پاک
فرِښتې ما ته په خوب کښې ووئيل، يعقُوبه! ما جواب ورکړو، زهٔ حاضر يم.
۱۲ هغې ووئيل، وګوره، هغه ټول چېلی کُوم چې چېلۍ مال کوی هغه د کرښو

والا ټکی ټکی او بڅرک دی. زهٔ داسې ځکه کوم چې لابن تا سره څهٔ کوی نو ما ته د هغه هر څهٔ پته ده. [۱۳] زهٔ خُدائ پاک یم چې په بیت‌ایل کښې تا ته راڅرګند شوے وم، چې هلته تا یو کاڼے د یادګار په توګه وقف کړو او په هغې دې تېل واچول او هلته تا زما سره یو لوظ وکړو. اوس تهٔ هغه وطن ته واپس لاړ شه چرته چې تهٔ پېدا شوے یې." [۱۴] راحیل او لِیاه یعقُوب ته ووئیل، "مُونږ ته زمُونږ د پلار په میراث کښې هیڅ هم پاتې نهٔ دی. [۱۵] هغه مُونږ په پردو کښې شمېری. هغهٔ مُونږه خرڅې کړی یُو او زمُونږ په سر هغهٔ چې څومره روپۍ اخستې وې هغه ټولې یې ختمې کړی دی. [۱۶] هغه ټول دولت کُوم چې خُدائ پاک زمُونږ د پلار نه اخستے دے هغه زمُونږ او زمُونږ د بچو دے. چې تا ته خُدائ پاک څهٔ وئیلی دی هم هغسې وکړه." [۱۷-۱۸] نو یعقُوب واپس خپل پلار ته د تلو تیاری وکړه چې د هغهٔ پلار د کنعان په وطن کښې وو. هغهٔ خپل زامن او د هغوئ ښځې په اُوښانو سورې کړې او خپلې ټولې رَمې یې د خپل ځان نه مخکښې روانې کړې، او سره د هغه هر څهٔ چې هغهٔ په میسوپوتامیه کښې ګټلی وُو. [۱۹] لابن د خپلو ګډو نه وړی کلولو د پاره تلے وو او چې هغه نهٔ وو نو راحیل د خپل پلار د کور بُتان پټ کړل. [۲۰] یعقُوب لابن دهوکه کړو ځکه چې هغه یې د خپل تګ نه خبر نهٔ کړو. [۲۱] د هغهٔ سره چې څهٔ وُو هغه یې راواخستل او په تېزۍ سره لاړو. هغه د فرات د سیند نه پورې وتلو او د غرُونو وطن جِلعاد ته روان شو.

## د لابن په حضرت یعقُوب پسې تلل

[۲۲] درې ورځې وروستو لابن خبر شو چې یعقُوب تښتېدلے دے. [۲۳] نو هغهٔ خپل سړی ځان سره کړل او اووهٔ ورځې په یعقُوب پسې وُو چې د غرُونو وطن جِلعاد سره یې را ایسار کړو. [۲۴] په هغه شپه خُدائ پاک لابن ته په خوب کښې راغلو او هغهٔ ته یې ووئیل، "خیال کوه چې یعقُوب ته هیڅ هم ونهٔ وائې." [۲۵] لابن یعقُوب د جِلعاد په غرُونو کښې ګېر کړو، چرته چې یعقُوب خېمه لګولې وه. لابن هم د خپلوانو سره هلته خېمه ولګوله. [۲۶] لابن یعقُوب ته ووئیل، "تا ولې

زهٔ دهوکه کړم اؤ زما لُوڼه دې داسې بوتلې لکه د تُورې په زور دې نيولې وى؟ ۲۷تا ولې زهٔ دهوکه کړم اؤ زهٔ دې خبر هم نهٔ کړم اؤ وتښتېدلې؟ کهٔ تا ما ته وئيلى وے، نو ما به تهٔ په خپله مخه په خوشحالئ سره اؤ د سندرو اؤ د رباب، منګى سره رُخصت کړے وې. ۲۸تا دې ته هم پرې نهٔ ښودم چې ما خپل نمسى اؤ لُوڼه ښُکل کړے وے اؤ دوئ ته مې په مخه ښه وئيلى وے. دا دې د کم عقلئ کار کړے دے. ۲۹زهٔ تا ته د نُقصان رسولو زور لرم، خو تېره شپه زما د پلار خُدائ پاک ما له خبردارے راکړو چې تا ته هيڅ هم ونهٔ وايم. ۳۰ما ته پته وه چې تهٔ ځې ځکه چې تهٔ واپس کور له تلو ته ډېر بې‌صبره وې، خو زما د کور هغه بُتان دې ولې پټ کړل؟“ ۳۱يعقُوب جواب ورکړو، ”زهٔ يرېدم، زما خيال دا وو چې تهٔ خپلې لُوڼه زما نه په زور بوځې. ۳۲خو کهٔ تا دلته د چا سره هم ستا بُتان پېدا کړل، نو هغه به ژوندے نهٔ شى پرېښودلے. دلته زمُونږ د خپلوانو په مخکښې يې وګوره، چې ستا څهٔ څيز هم وى نو خپل څيز يوسه.“ يعقُوب ته پته نهٔ وه چې د لابن بُتان راحيل پټ کړى وُو. ۳۳لابن لاړو اؤ د يعقُوب خېمه يې ولټوله، بيا هغه د لِياه خېمې اؤ د هغه دوه وينځو خېمې ته لاړو، خو هغهٔ خپل بُتان ونهٔ مُوندل. بيا هغه د راحيل خېمې ته لاړو. ۳۴راحيل د کور هغه بُتان راختى وُو اؤ هغه يې د اُوښ د زين په کځوړه کښې کېښودلى وُو اؤ په هغې باندې ناسته وه. لابن هغه ټوله خېمه ولټوله، خو هغه يې ونهٔ مُوندل. ۳۵راحيل خپل پلار ته ووئيل، ”پلاره! ما ته مهٔ غُصه کېږه، خو چې تهٔ دلته يې ستا په مخکښې زهٔ نهٔ شم پاڅېدلے، په ما د ښځو بيمارى راغلې ده.“ لابن لټُون وکړو خو د خپل کور هغه بُتان يې پېدا نهٔ کړل. ۳۶بيا يعقُوب غُصه شو، ”ما څهٔ بد کړى دى؟ زما ګُناه څهٔ ده چې تهٔ داسې تېز په ما پسې راورسېدې؟ ۳۷اوس چې زما سره څهٔ دى هغه ټول دې ولټول، تا د خپل کور کُوم يو څيز مُوندلے دے چې هغه ستا وى؟ دا دلته بهر ښکاره کېږده چې زما اؤ ستا خپلوان يې وګورى اؤ دوئ به فېصله وکړى چې په مُونږ کښې څوک په حقه دے. ۳۸زهٔ ستا سره د شلو کالو نه يم، ستا ګډو اؤ ستا چېلو په يو کال هم بچے نهٔ دے ضائع کړے اؤ ما يو ګډه هم ستا د رَمو نه نهٔ دے خوړلے. ۳۹چې کله هم يو ځنګلى ځناور ستا ګډه خوړلې

ده، ما هغه تاوان په خپله درکړے دے. تا هر هغه څيز زما نه غوښتے دے چې چا د ورځې يا شپې پټ کړے وی. [۴۰] ډېر ځل زهٔ د ورځې ګرمئ سوے يم اؤ د شپې يخنئ وچ کړے يم. اؤ زما خوب تښتيدلے وو. [۴۱] د شلو کالو نه زهٔ ستا په کور کښې يم. څوارلس کاله ما ستا دوه لُوڼو اؤ شپږ کاله ستا د رَمو د پاره، ستا خِدمت کړے دے. اؤ بيا هم، تا لس ځل زما مزدُوری بدله کړه. [۴۲] کهٔ زما د پلار خُدائ پاک، کُوم چې د اِبراهيم اؤ اِسحاق خُدائ پاک دے، زما مل نهٔ وے، نو تا به زهٔ مخکښې خالی لاسُونه ليږلے وے. خو خُدائ پاک زما تکليف اؤ کُوم خِدمت چې ما کړے دے هغه ليدلے دے اؤ ځکه خُدائ پاک تېره شپه تهٔ ملامته کړې."

## د حضرت يعقُوب اؤ لابن په مېنځ کښې مُعاهده

[۴۳] بيا لابن يعقُوب له جواب ورکړو، "دا ځوانې ښځې زما لُوڼه دی، د دوئ بچی زما دی اؤ دا رَمې زما دی. چې تهٔ دلته څهٔ هم ګورې هغه زما دی. خو زهٔ خپلې لُوڼه اؤ د هغوئ بچی نهٔ شم ساتلے، [۴۴] نو زهٔ تا سره يو تړون کولو ته تيار يم. راځه چې داسې څهٔ وکړُو چې زمُونږ دا تړون پرې مُونږ ته رايادېږی." [۴۵] نو يعقُوب يوه تيږه راواخستله اؤ هغه يې د يو يادګار په توګه ودروله. [۴۶] هغهٔ خپلو سړو ته ووئيل چې څهٔ کاڼی راټول کړئ نو هغوئ کاڼی راټول کړل اؤ يو ډېرے يې ترې نه جوړ کړو. بيا هغوئ د هغه کاڼو د ډېری سره ډوډئ وخوړله. [۴۷] لابن په دې يجرشاهدوتها نُوم کېښودو، خو يعقُوب پرې جِلعاد نُوم کېښودو. [۴۸] لابن يعقُوب ته ووئيل، "دا د کاڼو ډېرے به زمُونږ د دواړو د پاره يو يادګار وی." نو ځکه د هغه ځائ نُوم جِلعاد شو. [۴۹] لابن دا هم ووئيل، "مالِک خُدائ دې په مُونږ نظر وساتی چې کله مُونږ د يو بل نه جُدا يُو." نو د هغه ځائ نُوم مصفاه هم شو. [۵۰] لابن ووئيل، "کهٔ تهٔ زما د لُوڼو سره بد سلُوک کوې يا نورې ښځې وادهٔ کوې، کهٔ ما ته پته هم نهٔ وی، ياد لره چې خُدائ پاک مُونږ ګوری. [۵۱] دا هغه کاڼی دی چې ما زمُونږ په مېنځ کښې ډېرے کړی دی اؤ دا هغه يادګاری تيږه ده. [۵۲] دا ډېرے اؤ دا يادګاری تيږه دواړه يادګارُونه دی. زهٔ به کله هم په

تا حمله کولو د پاره د دې نه نهٔ درتېرېږم اؤ تهٔ هم په ما حمله کولو د پاره د
دې يادګارى تيږې نه مهٔ راتېرېږه. ۵۳د اِبراهيم خُدائ پاک اؤ د ناحور خُدائ
پاک به په مُونږ نظر وکړى چې مُونږ کُومه مُعاهده کړې ده چې د هغې خيال
ساتُو.“ بيا، يعقُوب د هغه خُدائ پاک په نُوم د کُوم چې د هغهٔ پلار اِسحاق
عِبادت کولو پوخ لوظ وکړو چې دا وعده به پُوره کوى. ۵۴هغهٔ يو ځناور حلال
کړو اؤ دا يې په غر باندې د قُربانۍ په توګه پېش کړو اؤ يعقُوب ډوډۍ له د
هغهٔ خپلوان راوغوښتل، دوئ ډوډۍ وخوړه اؤ بيا يې په غر باندې شپه تېره
کړه. ۵۵بل سحر وختى لابن خپل نمسى اؤ لُوڼه ښُکل کړل اؤ په مخه ښه يې
ورته ووئيل اؤ واپس کور ته روان شو.

## د حضرت يعقُوب اؤ د حضرت عيساؤ مِلاوېدل

# ۳۲

۱چې يعقُوب څنګه خپل وطن ته لاړو، د خُدائ پاک څهٔ فرِښتې
ورسره مِلاؤ شوې. ۲چې هغه يې وليدلې، نو وې وئيل، ”دا د خُدائ
پاک لښکر دے.“ نو په هغه ځائ يې محنايم نُوم کېښودو. ۳يعقُوب د خپل
ځان نه مخکښې د ادوم په وطن کښې د شعير په علاقه کښې خپل ورور ته پېغام
وړُونکى ولېږل. ۴هغهٔ ورته ووئيل چې زما نېک عيساؤ ته دا پېغام ورسوئ:
”زهٔ ستا تابعدار خِدمتګار يعقُوب يم، چې د ډېر وخت نه د لابن سره د يو
مُسافر په شان دېره يم، ۵زهٔ غويَى، خرهٔ، ګډې، چېلۍ اؤ نوکران لرم. نېکه! زهٔ
تا ته خبر درلېږم، د دې د پاره چې ستا په نظر کښې ښهٔ راشم.“ ۶کله چې هغه
پېغام وړُونکى يعقُوب ته واپس راغلل، هغوئ ووئيل، ”مُونږ ستا ورور عيساؤ
له لاړُو اؤ هغه د مخکښې نه تا سره مِلاوېدو د پاره راروان دے. څلور سوه
کسان ورسره دى.“ ۷يعقُوب سخت وېرېدو اؤ پرېشانه شو. د هغهٔ سره چې کُوم
خلق اؤ رَمې، غواګانې اؤ اُوښان وُو هغه يې په دوه ډلو کښې تقسيم کړل. ۸د
هغهٔ خيال دا وو، ”کهٔ عيساؤ راشى اؤ هغه وړومبۍ ډله ختمه کړى نو هغه بله
ډله چې کُومه پاتې وى هغه به وتښتى.“ ۹بيا يعقُوب دُعا وکړه، ”زما د نيکهٔ
اِبراهيم خُدايه پاکه اؤ زما د پلار اِسحاق خُدايه پاکه! زما سوال واوره، مالِکه

خُدایه! تا ما ته ووئیل چې خپل وطن اؤ خپلوانو ته لاړ شه اؤ تهٔ به زما د پاره
هر څهٔ سم کړې. ۱۰ تا چې خپل خِدمت کوُونکی ته، کُومه مِهربانی اؤ وفاداری
ښودلې ده زهٔ د هغې قابِل نهٔ یم، زهٔ چې د اُردن سیند نه پورېوتم نو زما سره
هیڅ هم نهٔ وُو صِرف یوه امسا وه اؤ اوس زما نه دوه ډلې جوړې شوې دی.
۱۱ زهٔ تا ته سوال کوم چې ما د خپل ورور عیساؤ نه بچ کړه. زهٔ یرېږم هسې نه
چې هغه په مُونږ حمله وکړی نو مُونږ به سره د ښځو اؤ ماشُومانو ټول تباه کړی.
۱۲ هغه وعده رایاده کړه چې تا زما سره کړې وه چې زما د پاره به هر څهٔ سم
کړې اؤ ما له به دومره اولاد راکړې چې څوک به یې شمېرلے نهٔ شی، دومره
ډېر لکه چې د سمندر په غاړه شګې دی.» ۱۳-۱۵ هلته د شپې تېرولو نه پس،
یعقُوب د خپلو څاروو نه د خپل ورور عیساؤ د پاره تُحفې خوښې کړې: دوه
سوه چېلۍ اؤ شل چېلی، دوه سوه ګډې اؤ شل ګډان، دېرش هغه اُوښې چې پیٔ
ورکوی د بچو سره، څلوېښت غواګانې اؤ لس غوَیی، شل خرې اؤ لس خرهٔ.
۱۶ هغهٔ دا په دوه ډلو کښې تقسیم کړل اؤ د خپلو نوکرانو نه یې یو یو په هره ډله
مشران مُقرر کړل. هغهٔ ورته ووئیل، «زما نه مخکښې لاړ شیٔ اؤ د مخکښې
ډلې اؤ ورپسې راروانې ډلې په مېنځ کښې فاصله وساتیٔ.» ۱۷ هغهٔ وړومبی نوکر
له حُکم ورکړو، «زما ورور عیساؤ چې درسره ملاوېږی اؤ تپوس کوی چې، ستا
نېک څوک دے؟ تهٔ چرته ځې؟ ستا نه مخکښې دا ځناور د چا دی؟ ۱۸ نو ته
ورته وایه چې دا ستا د خِدمتګار یعقُوب دی. هغه دا خپل نېک عیساؤ له په
تُحفه کښې لېږی. اؤ یعقُوب په خپله په مُونږ پسې راروان دے.» ۱۹ هغهٔ دویم
اؤ دریم له هم دغه شان حُکم ورکړو اؤ هغه ټولو له چې کُوم د ډلو مشران وُو:
«تاسو به خامخا داسې وایئ چې کله تاسو د عیساؤ سره مِلاوېږئ. ۲۰ تاسو به
خامخا وایئ چې ستا خِدمتګار یعقُوب په خپله په مُونږ پسې راروان دے.» د
یعقُوب خیال دا وو چې، «زهٔ به د دې تُحفو سره د هغهٔ غُصه سړه کړم اؤ چې
کله ورسره مخامخ شم کېدے شی چې هغه ما ته په خېر راغلے ووائی.» ۲۱ هغهٔ
هغه تُحفې د ځان نه مخکښې ولېږلې اؤ هغه شپه په محنایم کښې پاتې شو.

## د حضرت يعقُوب په فنی‌اېل کښې کُشتی کول

[22]هم په هغه شپه يعقُوب پاځېدو، هغهٔ خپلې دوه نِکاح کړې ښځې، د هغهٔ دوه نورې ښځې اؤ خپل يولس زامن روان کړل اؤ د يبوق په سيند کښې هغه ځائ کښې پورې وتل چرته چې اوبهٔ کمې وی. [23]هغهٔ هغوئ روان کړل اؤ پورې يې ويستل، د هغهٔ سره چې څهٔ وُو هغه يې هم پورې ولېږل، [24]خو هغه يواځې پاتې شو. بيا يو سړے راغلو اؤ د هغهٔ سره يې د سحر د رڼا پورې کُشتی وکړه. [25]چې کله هغه سړی ته پته ولګېده چې مُقابله يې نهٔ شوه کېدلے، نو هغهٔ يعقُوب په پتُون ووهلو اؤ پتُون يې د بند نه ووتلو. [26]هغه سړی ووئيل، "د سحر رڼا شوه، ما پرېږده چې لاړ شم." يعقُوب ورته ووئيل، "زهٔ به تا کله هم نهٔ پرېږدم، چې تر څو پورې دې ما له برکت نهٔ وی راکړے." [27]هغه سړی ترې تپوس وکړو، "ستا څهٔ نُوم دے؟" نو هغهٔ ورته ووئيل، "يعقُوب." [28]هغه سړی ورته ووئيل، "د نن نه پس به ستا نُوم يعقُوب نهٔ وی. تا د خُدائ پاک اؤ د اِنسان سره مُقابله کړې ده اؤ تا ګټلې ده، د اوس نه به ستا نُوم اِسرائيل وی." [29]يعقُوب ورته ووئيل، "اوس تهٔ ما ته خپل نُوم وښايه." خو هغهٔ ورته ووئيل، "تهٔ ولې زما د نُوم تپوس کوې؟" بيا هغهٔ يعقُوب له برکت ورکړو. [30]يعقُوب ووئيل، "ما خُدائ پاک مخامخ ليدلے دے اؤ بيا هم لا ژوندے پاتې يم"، نو په هغه ځائ يې فنی‌اېل نُوم کېښودو. [31]نمر راختلو چې يعقُوب د فنی‌اېل نه تلو اؤ د خپل پتُون په وجه ګُډ ګُډ روان وو. [32]تر نن ورځې پورې د اِسرائيل اولاد هغه پله نهٔ خوری کُومه چې د پتُون په بند پورې وی، ځکه چې د پتُون د بند هم په دې ځائ هغه سړی يعقُوب وهلے وو.

## د حضرت يعقُوب د حضرت عيساؤ سره مِلاوېدل

**۳۳** [1]يعقُوب چې وکتل نو عيساؤ يې وليدو اؤ څهٔ کوری چې څلور سوه کسان ورسره راروان وُو. نو هغهٔ خپل بچی په لِياه، راحيل اؤ په هغه دوه نورو ښځو باندې تقسيم کړل. [2]هغهٔ نورې ښځې اؤ د هغوئ بچی

مخکښې کړل، بيا يې لِياه اؤ د هغې بچې کړل اؤ راحيل اؤ يُوسف يې وروستو کړل. [3]يعقُوب د دوئ نه مخکښې لاړو اؤ چې څنګه خپل ورور ته ورسېدو، نو ټيټ شو اؤ اووهٔ ځل يې تندې په زمکه ولګولو. [4]خو عيساؤ مِلاوېدو د پاره هغهٔ له ورمنډه کړل اؤ د هغهٔ نه يې لاسُونه تاؤ کړل، غاړه يې ويستلو اؤ ښُکل يې کړو. دوئ دواړو وژړل. [5]چې کله عيساؤ وکتل اؤ هغه ښځې اؤ ماشُومان يې وليدل، نو هغهٔ تپوس وکړو، "دا ستا سره څوک دی؟" يعقُوب ورته ووئيل، "صاحِبه! خُدائ پاک په ما ډېر مهربان دے اؤ دا بچې يې راکړی دی." [6]بيا هغه نورې ښځې اؤ د هغوئ بچې رامخکښې شول اؤ ورته ټيټ شول، [7]بيا لِياه اؤ د هغې بچې راغلل اؤ په آخِر کښې يُوسف اؤ راحيل راغلل اؤ ورته ټيټ شول. [8]عيساؤ ترې تپوس وکړو، "د هغې بلې ډلې سره چې زهٔ مِلاؤ شوم هغه دې د څهٔ مقصد د پاره راوستلې ده؟" يعقُوب ورته ووئيل، "د دې د پاره چې زما نېک راسره ښهٔ شی." [9]خو عيساؤ ووئيل، "زما وروره! زما سره هر څهٔ ډېر دی، چې ستا سره هم څهٔ دی هغه د ځان د پاره وساته." [10]يعقُوب ووئيل، "نه، زهٔ تا ته سوال کوم، کهٔ تهٔ په ما مهربان يې، نو زما د لاسُونو نه دا تُحفه قبُوله کړه. چې ستا مخ ته مې وکتل دا داسې شوه لکه چې د خُدائ پاک مخ ته مې کتلی وی، اوس تهٔ زما سره ډېر ښهٔ يې. [11]زهٔ تا ته سوال کوم چې دا تُحفه زما نه قبُوله کړه کُومه چې ما تا له راوړې ده، خُدائ پاک په ما مهربان دے اؤ چې د څهٔ څيز هم ضرُورت وو هغه يې راکړے دے." يعقُوب په هغهٔ زور راوړو نو هغه يې قبُوله کړه. [12]عيساؤ ووئيل، "ځئ چې په خپل سفر باندې ځُو. زهٔ به ستاسو سره ځم." [13]يعقُوب ووئيل، "زما نېکه! تا ته پته ده چې ماشُومان کمزوری دی، په کار دی چې زهٔ د دې ګډو اؤ څاروو اؤ د دوئ د بچو خيال وساتم. کهٔ دا مُونږ يوه ورځ هم تېز بوځُو، نو ټول څاروی به مړهٔ شی. [14]زهٔ خپل نېک ته سوال کوم چې د خپل خِدمتګار نه مخکښې لاړ شی اؤ نېکه! زهٔ به په مزه مزه د څاروو اؤ د هغوئ د بچو په قدم په تا پسې درځم اؤ په ادوم کښې به درسره مِلاؤ شم." [15]عيساؤ ووئيل، "زهٔ به تا سره زما خپل څهٔ کسان پرېږدم." خو يعقُوب ورته ووئيل، "د دې هيڅ حاجت نشته، زهٔ صِرف دا غواړم

چې ستا په نظر کښې ښهٔ راشم.“ ۱۶نو هم په هغه ورځ عیساؤ په خپله مخه ادوم
ته واپس شو. ۱۷خو یعقُوب سُکات ته لاړو، چرته چې هغهٔ د خپل ځان د
پاره کور اؤ د څاروو د پاره شپولُونه جوړ کړل. نو د هغه ځائ نُوم سُکات شو.
۱۸د میسوپوتامیه نه په واپسۍ کښې یعقُوب د کنعان په وطن کښې شِکم ښار ته
په سلامتۍ سره ورسېدو اؤ د ښار سره نزدې یې په یو پټۍ کښې خپلې خېمې
ولګولې. ۱۹هغهٔ د هغه پټۍ دا حِصه د شِکم پلار همور د اولاد نه د سپینو زرو
په سلو سیکو واخستله. ۲۰هغهٔ هلته یوه قُربانګاه جوړه کړه اؤ ایل نُوم یې پرې
کېښودو کُوم چې د اِسرائیلو خُدائ پاک دے.

## د دینه بې عِزتی کېدل

۳۴ ۱یوه ورځ، د یعقُوب اؤ لِیاه لُور دینه، د کنعانی ښځو سره مِلاوېدو
د پاره ووتله. ۲همور حِوی د هغې علاقې مَلک وو. د هغهٔ زوئ
شِکم هغه ولیده، نو هغه یې بوتله اؤ د هغې بې عِزتی یې وکړه. ۳خو د یعقُوب
لُور دینه د هغهٔ نه زړهٔ یوړو اؤ هغه په هغې مئین شو اؤ هغهٔ د هغې سره خوږې
خبرې وکړې. ۴نو شِکم خپل پلار همور ته ووئیل، ”دا جینۍ ما ته وادهٔ کړه.“
۵یعقُوب خبر شو چې د هغهٔ د لُور بې عِزتی شوې ده، خو د هغهٔ زامن د خپلو
څاروو سره په پټو کښې وُو نو ځکه هغهٔ د هغوئ د راتلو نه مخکښې څهٔ ونهٔ
وئیل. ۶د شِکم پلار همور ووتلو چې د یعقُوب سره د دې مسئلې په حقله
خبرې وکړی، ۷د یعقُوب زامن د پټو نه واپس راروان وُو چې کله هغوئ خبر
شول چې شِکم د یعقُوب د لُور بې عِزتی کړې ده نو هغوئ خفه شول اؤ سخت
غُصه شول ځکه چې دا د اِسرائیلیانو د برداشت نه بهر غلط کار وو. ۸همور هغهٔ
ته ووئیل، ”زما زوئ شِکم ستا په لُور مئین شوے دے، زهٔ تا ته سوال کوم چې
هغه پرېږده چې وادهٔ یې کړی. ۹زمُونږ سره خپلولۍ وکړئ، خپلې لُونړه مُونږ
له راکړئ اؤ زمُونږ لُونړه تاسو وکړئ. ۱۰نو تاسو دلته زمُونږ سره په دې وطن
کښې اوسېدے شئ، چې تاسو چرته اوسېدل غواړئ دا وطن ستاسو په وړاندې

دے، په آزادئ سره کاروبار کوئ اؤ خپل جائيدادُونه جوړ کړئ.“ [11]بيا شِکم د دينه پلار اؤ ورُوڼو ته ووئيل، ”کهٔ تاسو زما سره دا ښېګړه کول غواړئ، نو چې تاسو څهٔ هم غواړئ زهٔ به يې درکړم. [12]ما ته ووايئ، چې تاسو څومره مهر هم غواړئ زهٔ به يې درکړم، خو تاسو اِجازت راکړئ چې دا جينئ زهٔ وادهٔ کړم.“ [13]شِکم د هغوئ د خور دينه بې عِزتی کړې وه، نو ځکه د يعقُوب زامنو شِکم اؤ د هغهٔ پلار همور ته په چل سره جواب ورکړو. [14]دوئ ورته ووئيل، ”مُونږ خپله خور داسې سړی ته نهٔ شُو ورکولے چې هغه سُنت نهٔ وی، دا به زمُونږ د پاره د شرم خبره وی. [15]مُونږ به دا صِرف په يو شرط درکړُو چې تاسو زمُونږ په شان شئ اؤ تاسو ټول نران سُنت کړئ. [16]بيا به مُونږ تاسو له خپلې لُوڼه درکړُو اؤ ستاسو لُوڼه به خپلو ځانُونو له وکړُو. مُونږ به ستاسو سره اوسېږُو اؤ يو قوم به شُو. [17]کهٔ تاسو ته زمُونږ شرطونه منظُور نهٔ وی اؤ سُنت نهٔ شئ، نو مُونږ به خپله خور بوځُو اؤ لاړ به شُو.“ [18]د همور اؤ د هغهٔ د زوئ شِکم دا خبرې خوښې شوې، [19]اؤ هغه ځوان په دې کارکولو کښې سستی ونهٔ کړه، ځکه چې هغه د يعقُوب په لُور مئين وو. هغه د پلار په کورنئ کښې د ټولو نه عِزتمند سړے وو. [20]همور اؤ د هغهٔ زوئ شِکم د ښار د دروازې سره نزدې د جرګې ځائ ته لاړل. اؤ د ښار خلقو سره يې خبره وکړه چې: [21]”دا د خېر خلق دی، دوئ دې زمُونږ سره په دې وطن کښې اوسېږی اؤ کاروبار دې کوی. دا وطن د دوئ د پاره هم ښهٔ لوئ دے. مُونږ به د دوئ لُوڼه وکړُو اؤ خپلې لُوڼه به دوئ له ورکړو. [22]خو دا خلق به صِرف په يو شرط زمُونږ سره اوسېږی اؤ يو قوم به شُو چې مُونږ خپل ټول نران سُنت کړُو، لکه چې دوئ هم سُنت شوی دی. [23]د دوئ ټول څاروی اؤ د نور هر څهٔ دې زمُونږ نهٔ شی څهٔ؟ راځئ چې جوړه ورسره وکړُو نو دوئ به زمُونږ سره اوسېږی.“ [24]د ښار ټول خلق د همور اؤ شِکم په خبره باندې راضی شول اؤ ټول نران سُنت شول. [25]په دريمه ورځ چې د سُنت کېدو په وجه ټول سړی خوږېدل، د يعقُوب دوه زامنو، د دينه سکه ورُوڼو، شمعُون اؤ ليوی، خپلې تُورې راواخستلې، ښار ته دننه په آسانئ سره راغلل اؤ ټول سړی يې ووژل. [26]دوئ همور اؤ د هغهٔ زوئ شِکم په تُوره ووژل. بيا دوئ دينه د

شِکم د کور نه بوتله اؤ لاړل. ۲۷د دې قتلِ‌عام نه پس د يعقُوب نورو زامنو
ښار لُوټ کړو چې د خپلې خور د بې‌عِزتئ بدل واخلی. ۲۸دوئ رَمې څاروی،
خرۀ اؤ په ښار اؤ پټو کښې چې څۀ هم وُو هغه يې يوړل. ۲۹دوئ مال دولت
يوړو، ټولې ښځې اؤ ماشُومان يې ونيول اؤ د کورُونو نه يې هر څۀ لُوټ کړل.
۳۰يعقُوب، شمعُون اؤ ليوی ته ووئيل، ”تاسو زۀ په تکليف کښې اچولے يم،
اوس به کنعانيان، فرزيان اؤ د دې وطن هر يو کس زما نه نفرت کوی. زما سره
دومره سړی نشته، کۀ دوئ ټول زما خِلاف يو ځائ شی اؤ په ما حمله وکړی
نو زمُونږ ټوله کورنئ به تباه شی.“ ۳۱خو هغوئ ووئيل، ”مُونږ دا نۀ شُو زغملے
چې زمُونږ خور سره دې د کنجرې په شان سلُوک وشی.“

## د يعقُوب واپس بيت‌ايل ته راتلل

۳۵ ۱څۀ موده وروستو خُدائ پاک يعقُوب ته ووئيل، ”پاڅه اؤ
سمدستی بيت‌ايل ته لاړ شه اؤ هلته اوسېږه. هلته ما ته يوه قُربان‌ګاه
جوړه کړه. زۀ هغه خُدائ پاک يم چې تا ته راښکاره شوے وم چې کله تۀ د
خپل ورور عيساؤ نه تښتېدلې.“ ۲نو يعقُوب خپلې کورنئ ته اؤ هغه ټولو ته چې
د هغۀ سره وُو ووئيل، ”تاسو سره چې کُوم پردی بُتان دی هغه وغورزوئ، خپل
ځانُونه پاک کړئ اؤ صفا جامې واغوندئ. ۳مُونږ به د دې ځائ نه بيت‌ايل ته
ځُو، هلته به زۀ خُدائ پاک ته يوه قُربان‌ګاه جوړه کړم چا چې په تکليف کښې
زما سوال اؤرېدلے دے اؤ چې زۀ چرته هم تلے يم نو هغه زما مل وو.“ ۴نو
هغوئ هغه ټول پردی بُتان چې د دوئ سره وُو اؤ د دوئ په غوږُونو کښې چې
کُومې والئ وې، هغه يې يعقُوب له ورکړل. هغۀ دا شِکم ته نزدې د څېړئ
د ونې لاندې ښخ کړل. ۵چې کله يعقُوب اؤ د هغۀ زامن په سفر روان وُو، نو
د ګېرچاپېره ښارُونو په خلقو باندې د خُدائ پاک سخته يره راغله، نو هيڅ
څوک ورپسې نۀ شول. ۶يعقُوب د خپلو ټولو خلقو سره لُوز ته راغلو، کُوم چې
د کنعان په وطن کښې په بيت‌ايل مشهُور دے. ۷هغۀ هلته يوه قُربان‌ګاه جوړه
کړه اؤ په هغه ځائ يې ”د بيت‌ايل خُدائ پاک“ نُوم کېښودو، ځکه چې خُدائ

پاک هغهٔ ته هلته راڅرګند شوے وو کله چې هغه د خپل ورور نه تښتېدلو. [8]د
رِبقه خِدمتګاره دبوره مړه شوه اؤ بیت‌ایل ته نزدې د څېړۍ د ونې لاندې ښخه
شوه. نو ځکه د دې نُوم "د ژړا څېړۍ" شو. [9]چې کله یعقُوب د میسوپوتامیه
نه راواپس شو، خُدائ پاک یعقُوب ته بیا راڅرګند شو اؤ هغهٔ له یې برکت
ورکړو. [10]خُدائ پاک هغهٔ ته ووئیل، "ستا نُوم یعقُوب دے، خو د نن نه پس
ستا نُوم اِسرائیل شو." نو د هغهٔ نُوم یې اِسرائیل کېښودو. [11]اؤ خُدائ پاک
هغهٔ ته ووئیل، "زهٔ قادر خُدائ پاک یم. تهٔ ډېر اولاد پېدا کړه. قومُونه به ستا
د اولاد نه جوړېږی اؤ ستا په اولاد کښې به بادشاهان جوړېږی. [12]زهٔ به هغه
وطن تا له درکړم کُوم چې ما اِبراهیم اؤ اِسحاق له ورکړے وو اؤ ستا نه پس به
دا وطن ستا اولاد له هم ورکوم." [13]بیا خُدائ پاک د هغهٔ نه لاړو. [14]چرته چې
خُدائ پاک د هغهٔ سره خبرې کړې وې، نو یعقُوب یو یادګاری کاڼے ودرولو
اؤ وقف یې کړو، شراب اؤ تېل یې پرې واچول. [15]هغهٔ په هغه ځائ بیت‌ایل
نُوم کېښودو.

## د راحیل مرګ

[16]بیا یعقُوب اؤ د هغهٔ کورنۍ د بیت‌ایل نه کډه وکړه اؤ چې کله دوئ د اِفرات نه
لږ غوندې لرې وُو، د راحیل د ماشُوم د پېدا کېدو وخت راغلو اؤ هغه په سخت
درد کښې وه. [17]چې کله هغه په سخت درد کښې وه د هغې ماشُوم پېدا شو،
دایئ هغې ته ووئیل، "راحیل! یرېږه مه، اوس ستا بل زوئ هم شته." [18]هغه
مړه کېدله اؤ د هغې ساه په وتلو وه. نو هغې په خپل زوئ بِن اَونی نُوم کېښودو،
خو یعقُوب پرې بنیامین نُوم کېښودو. [19]چې راحیل په حق ورسېده، نو هغه د
اِفرات د لار په غاړه ښخه کړے شوه، چې هغه ځائ اوس د بیت‌لحم په نُوم
یادېږی. [20]یعقُوب هلته یو یادګاری کاڼے ودرولو اؤ دا تر نن ورځې پورې د
راحیل د قبر نښه ده. [21]یعقُوب بیا کډه یوړه اؤ د عدر د څوکیدارۍ د برج بل
طرف ته یې خېمه ولګوله.

## د حضرت یعقُوب زامن

(د تاریخ اول کِتاب : )

[22]چې کله یعقُوب په هغه وطن کښې اوسېدو، روبین لاړو اؤ د خپل پلار د بلې ښځې بِلهاه سره څملاستو، یعقُوب د دې نه خبر شو اؤ غُصه شو. د یعقُوب دولس زامن وُو. [23]دا د لِیاه زامن دی: روبین د یعقُوب مشر زوئ، شمعُون، لیوی، یهُوداه، یساکار اؤ زبولون. [24]د راحیل زامن یُوسف اؤ بنیامین وُو. [25]د راحیل د وینځې بِلهاه زامن، دان اؤ نفتالی وُو. [26]د لِیاه د وینځې زِلفه زامن جاد اؤ اشیر وُو. دا د یعقُوب زامن دی چې په میسوپوتامیه کښې پیدا شوی وُو.

## د حضرت اِسحاق وفات کېدل

[27]یعقُوب واپس خپل پلار اِسحاق ته، حبرون سره نزدې ممرې ته راغلو، دا هغه ځائ دې چرته چې اِبراهیم اؤ اِسحاق اوسېدلی وُو. [28]د اِسحاق ټول عُمر یو سل اتیا کاله وو [29]اؤ اِسحاق ساه ورکړه اؤ ښۀ په پوخ عُمر کښې وفات شو اؤ هغه خپلو زامنو عیساؤ اؤ یعقُوب ښخ کړو.

## د حضرت عیساؤ اولاد

(د تاریخ اول کِتاب : )

**۳۶** [1]دا د عیساؤ اولاد دے، چې د ادوم په نُوم هم یادېدو. [2]عیساؤ کنعانئ جینکئ وادۀ کړې: د حِتی ایلون لُور عده، د صبعون حِوی د عنه د زوئ لُور، اُهلیبامه، [3]اؤ د اِسمٰعیل لُور د نبایوت خور، بشامه. [4]د عده نه الیفز پیدا شو، د بشامه نه رُعوایل پیدا شو، [5]اؤ اُهلیبامه نه یعوس، یعلام اؤ قورح پیدا شول، د عیساؤ دا ټول زامن د کنعان په وطن کښې پیدا شوی وُو. [6]بیا عیساؤ د خپلو ښځو، خپلو زامنو، لُوڼو اؤ د خپل کور ټولو خلقو سره اؤ خپلو ټولو څاروو اؤ د هغه هر څۀ سره چې هغۀ په کنعان کښې ګټلی وُو، روان شو اؤ د

خپل ورور یعقُوب نه بل وطن ته لاړو. [۷]هغه ځکه لاړو چې په کُوم ځائ کښې هغه اؤ یعقُوب اوسېدل هلته یې گُزاره نه کېدله، د هغوئ څاروی ډېر زیات وُو اؤ نور دوئ په یو ځائ اوسېدلے نۀ شول. [۸]نو عیساؤ د غرُونو وطن ادوم کښې اوسېدو. [۹]دا د ادومیانو د پلار نیکۀ، د عیساؤ اولاد دے. [۱۰-۱۳]د عیساؤ د ښځې عده نه یو زوئ، الیفز پېدا شو. اؤ د الیفز پینځۀ زامن وُو: تیمان، اومر، صفو، جعتام اؤ قنز. اؤ د بلې ښځې، تمنت نه د هغۀ یو بل زوئ عمالیق وو. د عیساؤ د ښځې بشامه نه د هغۀ یو زوئ رُعواېل پېدا شو اؤ د رُعواېل څلور زامن وُو: نحت، زارح، سمه اؤ مِزه. [۱۴]د عنه لُور د صبعون نمسۍ چې د عیساؤ ښځه وه د هغې نوم اُهلیبامه وو د هغې د عیساؤ نه دا درې زامن پېدا شول: یعوس، یعلام اؤ قورح. [۱۵]دا د عیساؤ اولاد نه جوړې شوې قبیلې دی. د عیساؤ مشر زوئ الیفز د دې قبیلو پلار نیکۀ وو: تیمان، اومر، صفو، قنز، [۱۶]قورح، جعتام اؤ عمالیق. دا ټول د عیساؤ د ښځې عده اولاد دے. [۱۷]د عیساؤ زوئ رُعواېل د دې قبیلو پلار نیکۀ وو: نحت، زارح، سمه اؤ مِزه. دا ټول د عیساؤ د ښځې بشامه اولاد وو. [۱۸]دا قبیلې د عیساؤ د ښځې اُهلیبامه اولاد دے چې هغه د عنه لُور وه: یعوس، یعلام اؤ قورح. [۱۹]دا ټولې قبیلې د عیساؤ په اولاد کښې راځی.

## د شعیر اولاد

(د تاریخ اول کِتاب ۱: )

[۲۰-۲۱]د ادوم د وطن اصلی اوسېدُونکی په قبیلو کښې تقسیم وُو چې د دوئ نسب‌نامه د حوری، شعیر دې اولاد ته ځی: لوطان، سوبل، صبعون، عنه، دیسون، ایصر اؤ دیسان. [۲۲]لوطان د حوری اؤ هیمان قومُونو پلار نیکۀ وو. د لوطان د خور تمنت نُوم وو. [۲۳]سوبل د علوان، منحات، عیبال، سفو اؤ د اونام قومُونو پلار نیکۀ وو. [۲۴]د صبعون دوه زامن آیه اؤ عنه وُو. دا هغه عنه دے چې کله هغۀ د خپل پلار خرۀ څرول نو په صحرا کښې یې گرمې چینې ومُوندلې. [۲۵-۲۶]عنه د دیسون پلار وو، هغه د حمدان، اشبان، یتران اؤ کِران

قومُونو پلار نیکۀ وو. د عنه یوه لُور وه چې د هغې نُوم هم اُهلیبامه وو. [۲۷]ایصر د بِلهان، زعوان اؤ عقان قومُونو پلار نیکۀ وو. [۲۸]دیسان د عُوض اؤ اِران قومُونو پلار نیکۀ وو. [۲۹-۳۰]دا د ادوم په وطن کښې حوری قبیلې دی: لوطان، سوبل، صبعون، عنه، دیسون، ایصر اؤ دیسان.

## د ادوم بادشاهان

(د تاریخ اول کِتاب ۱: )

[۳۱-۳۹]د دې نه مخکښې په بنی اِسرائیلو هیڅ‌چا هم بادشاهی نۀ وه کړې اؤ دې بادشاهانو د ادوم په وطن بادشاهی وکړه: د دِنهابا نه د بعور زوئ بالع، د بصرا نه د زارح زوئ یوباب، د تیمان د علاقې نه حشیم اؤ د عویت نه د بدد زوئ هدد. هدد د موآب په وطن کښې په یو جنګ کښې میدیانو ته شکست ورکړے وو: د مُسرقه نه شمله، د سیند د غاړې رحوبوت نه شاؤل، د عکبور زوئ بعل حنان، د پاؤُ نه حدد، د هغۀ ښځه مهیطب‌اېل، د مطرِد لُور اؤ میضاهاب نمسۍ وه. [۴۰-۴۳]عیساؤ د دې ادومی قبیلو پلار نیکۀ وو: تمنت، علوه، یتیت، اُهلیبامه، ایله، فینون، قنز، تیمان، مِبصار، مجداِیل اؤ عِرام. یوه علاقه به د هم هغه قبیلې په نُوم مشهُوره وه چې چرته به هغه قبیله اوسېده.

## حضرت یُوسف اؤ د هغۀ ورُوڼه

# ۳۷

[۱]یعقُوب د کنعان په وطن کښې اوسېدو، چرته چې د هغۀ پلار د مُسافر په توګه اوسېدلے وو، [۲]اؤ دا د یُوسف د کورنۍ قیصه ده. د اوولسو کالو ځوان ځلمی، یُوسف، د ورُوڼو سره ګډې اؤ چېلۍ څرولې، چې هغوئ د هغۀ د پلار د نورو ښځو، زِلفه اؤ بِلهاه زامن وُو. هغۀ خپل پلار د هغه غلطو کارُونو نه خبر کړو کُوم چې د هغۀ ورُوڼو کول.

[۳]یعقُوب د یُوسف سره د نورو ټولو زامنو نه زیاته مینه کوله، ځکه چې هغه د هغۀ د سپین سر زوئ وو. یعقُوب د هغۀ د پاره د اُوږدو لستُوڼو والا یوه ښُکلې چُوغه جوړه کړه. [۴]چې کله د هغۀ ورُوڼو دا ولیدل چې د هغوئ پلار د

يُوسف سره د هغوئ نه زياته مينه کوی، نو په هغوئ باندې هغه دومره بد لګېدو
چې هغوئ به د هغهٔ سره په سمه خُله خبرې هم نهٔ کولې. ۵يو ځل يُوسف
خوب وليدو نو چې هغهٔ خپل ورُوڼه د دې نه خبر کړل، نو د هغوئ کينه د
يُوسف سره نوره هم زياته شوه. ۶هغهٔ ووئيل، ”ما چې کُوم خوب ليدلے دے
هغه واورئ. ۷مُونږ ټولو په پټی کښې د غنمو ګېډې تړلې، ناڅاپه زما ګېډۍ
پاڅېدله اؤ نېغه ودرېدله. ستاسو ګېډې زما د ګېډې نه ګېرچاپېره تاؤ شولې اؤ
هغې ته ټيټې شولې.“ ۸د هغهٔ ورُوڼو ترې تپوس وکړو، ”ستا څهٔ خيال دے تهٔ به
بادشاه جوړېږې اؤ په مُونږ به بادشاهی کوې څهٔ؟“ نو د يُوسف د خوبُونو اؤ چې
هغهٔ د وړُونو په باره کښې څهٔ وئيلی وُو په دې وجه، د هغوئ ورسره کينه نوره
هم زياته شوه. ۹بيا يُوسف يو بل خوب وليدو اؤ خپلو ورُوڼو ته يې ووئيل، ”ما
يو بل خوب ليدلے دے، چې په هغې کښې ما نمر اؤ سپوږمۍ وليدل اؤ يولس
ستوری هم چې ما ته ټيټېدل.“ ۱۰هغهٔ دا خوب خپل پلار ته هم ووئيلو اؤ پلار
هغه ورټلو: ”دا څنګه خوب دے چې تا ليدلے دے؟ ستا خيال دا دے چې ستا
مور، ستا ورُوڼه اؤ زهٔ، مُونږ به راځُو اؤ تا ته به په زمکه پرېوځُو؟“ ۱۱يُوسف په
ورُوڼو بد لګېدو، خو د هغهٔ پلار دا ټوله خبره په ذهن کښې کېښودله.

## د حضرت يُوسف خرڅېدل اؤ مِصر ته بوتلل

۱۲يوه ورځ چې کله د يُوسف ورُوڼه د خپل پلار رَمې څرولو له شِکم ته تلی وُو،
۱۳يعقُوب يُوسف ته ووئيل، ”زهٔ غواړم چې تهٔ شِکم ته لاړ شې، چرته چې ستا
ورُوڼه رَمه څروی.“ يُوسف ورته ووئيل، ”زهٔ تيار يم.“ ۱۴د هغهٔ پلار ووئيل، ”لاړ
شه اؤ وګوره کهٔ رَمه اؤ ستا ورُوڼه په خېر وی، بيا واپس راشه اؤ ما خبر کړه.“ نو
د هغهٔ پلار هغه د حبرون مېدان نه ولېږلو اؤ يُوسف شِکم ته ورسېدو ۱۵اؤ هلته
د څران په ځائ کښې اخوا دېخوا ګرځېدو چې کله يو سړی هغه وليدو نو تپوس
يې ترې وکړو، ”تهٔ څهٔ لټوې؟“ ۱۶هغهٔ ورته ووئيل، ”زهٔ خپل ورُوڼه لټوم، ما ته
ووايه چې هغوئ خپله رَمه چرته څروی.“ ۱۷هغه سړی ورته ووئيل، ”هغوئ خو
تلی دی. د هغوئ نه ما واؤرېدل چې دوئ دُوتين ته ځی.“ نو يُوسف په خپلو
ورُوڼو پسې لاړو اؤ هغوئ يې په دُوتين کښې ومُوندل. ۱۸هغوئ هغه د لرې نه

ولیدو اؤ د رسېدو نه مخکښې یې د هغهٔ خِلاف منصُوبه جوړه کړه اؤ د هغهٔ د وژلو فېصله یې وکړه. [19]هغوئ یو بل ته ووئیل، "ګورئ! د خوبُونو اُستاذ راروان دے. [20]نو اوس راځئ، چې وې وژنُو اؤ په یو وچ کُوهی کښې یې وغورزوو. مُونږ به وایُو چې هغه یو ځنګلی ځناور خوړلے دے. بیا به مُونږ وګورُو چې د هغهٔ د خوبُونو څهٔ نتیجه راوځی." [21]روبین د هغوئ خبرې واؤرېدې اؤ د هغهٔ د بچ کولو کوشش یې وکړو. هغهٔ ووئیل، "یُوسف به نهٔ مړ کوُو." [22]هغهٔ ووئیل، "هغه په دې صحرا کښې دې کُوهی ته وغورزوئ، خو د هغهٔ وینه مهٔ تویَوئ." هغهٔ دا خبره د دې د پاره وکړه، چې د دوئ نه یې بچ کړی اؤ هغه واپس خپل پلار له ولېږی. [23]کله چې یُوسف خپلو ورُوڼو له راغلو، هغوئ د هغهٔ نه د اُوږدو لستُوڼو والا ښُکلې چُوغه راوویسته. [24]بیا هغوئ هغه اُوچت کړو اؤ هغه وچ کُوهی ته یې وغورزولو. [25]چې کله دوئ ډوډۍ ته ناست وُو، نو هغوئ د اِسمٰعیلیانو یو کاروان ولیدو چې هغوئ د جِلعاد نه مِصر ته په سفر روان وُو. د هغوئ په اُوښانو خوشبُوداره مصالحې اؤ عطر بار وُو. [26]یهُوداه خپلو ورُوڼو ته ووئیل، "زمُونږ د ورور وژل اؤ د هغهٔ مرګ پټول به مُونږ له څهٔ فائده راکړی؟ [27]راځئ چې هغه په دې اِسمٰعیلیانو خرڅ کړُو. مُونږ به هغهٔ له څهٔ ضرر نهٔ رسوُو، آخِر بیا هم، هغه زمُونږ ورور دے اؤ زمُونږ خپله وینه ده." د هغهٔ ورُوڼه په دې راضی شول، [28]اؤ چې کله څهٔ سوداګر هلته تېرېدل، د هغهٔ ورُوڼو یُوسف د کُوهی نه بهر راوویستلُو اؤ هغه یې د سپینو زرو په شلو سیکو په اِسمٰعیلیانو باندې خرڅ کړو، نو هغوئ مِصر ته بوتلو. [29]چې کله روبین واپس کُوهی ته راغلو اؤ وې لیدل چې یُوسف هلته نهٔ وو، نو هغهٔ د خفګان په وجه خپلې جامې وشلولې. [30]هغه واپس ورُوڼو ته راغلو اؤ ورته یې ووئیل، "هلک خو هلته نشته! زهٔ څهٔ وکړم؟" [31]بیا هغوئ یو چېلے حلال کړو اؤ د یُوسف چُوغه یې په وینه کښې ډُوبه کړه. [32]هغوئ هغه چُوغه خپل پلار له یوړه اؤ وې وئیل، "مُونږ دا ومُوندله. دا وګوره چې دا ستا د زوئ ده که نهٔ ده؟" [33]هغهٔ دا وپېژندله اؤ وې وئیل، "اؤ، دا چُوغه هم زما د زوئ ده! څهٔ ځنګلی ځناورو هغه خوړلے دے. زما زوئ یُوسف به په رښتیا سره ټوټې ټوټې شوے وی."

۳۴یعقُوب د خفګان نه خپلې جامې وشلولې اؤ د ټاټ جامې يې واغوستلې. د
زوئ په غم کښې هغه ډېرې ورځې غمژن وو. ۳۵ټول زامن اؤ لُوڼه تسلۍ ورکولو
له ورله راغلل، خو په هغهٔ دې تسلۍ اثر ونهٔ کړو اؤ وې وئيل، "زهٔ به د خپل
زوئ په غم کښې تر مرګه پورې ژاړم." نو هغه د خپل زوئ يُوسف په غم کښې
غمژن وو. ۳۶په دې دوران کښې، سوداګرو يُوسف په مِصر کښې، د فِرعون په
يو آفسر، فوطيفار باندې خرڅ کړو، چې هغه د محل د فوجيانو مشر وو.

## يهُوداه اؤ تامار

# ۳۸

۱هم هغه وخت يهُوداه خپل ورُوڼه پرېښودل، لاړو اؤ د حيره نُومې
يو سړی سره اوسېدو، چې هغه د عدولام د ښار وو. ۲هلته يهُوداه
د يوې کنعانۍ جينۍ سره مِلاؤ شو چې د هغې د پلار نُوم سُوع وو. يهُوداه
هغه وادهٔ کړه اؤ ورسره څملاستو، ۳د هغې يو زوئ وشو، چې هغهٔ پرې عير
نُوم کېښودو. ۴هغه بيا اُميدواره شوه اؤ يو بل زوئ يې پيدا شو اؤ هغې پرې
اونان نُوم کېښودو. ۵د هغې يو بل زوئ وشو اؤ د هغهٔ نُوم يې سيله کېښودو.
يهُوداه په کزيب کښې وو چې کله دا ماشُوم پيدا شو. ۶يهُوداه د خپل مشر زوئ
د پاره ښځه وکړه چې د هغې نُوم تامار وو. ۷د عير سلُوک د مالِک خُدائ په
نظر کښې ډېر خراب وو اؤ هغه ترې ناراضه شو، نو مالِک خُدائ هغه مړ کړو.
۸بيا يهُوداه د عير ورور اونان ته ووئيل، "لاړ شه اؤ د خپلې کونډې ورندارې
سره څمله. د هغې د خاوند د ورور په توګه د هغې سره خپله ذِمه وارى پُوره
کړه، نو داسې ستا د ورور به هم اولاد وی." ۹خو اونان ته پته ولګېده چې هغه
بچی به د اونان خپل نهٔ وی، نو چې کله به هغه د خپلې کونډې ورندارې سره
څملاستو نو هغهٔ به د نر اوبهٔ په زمکه څڅولې، چې داسې به د هغهٔ د ورور
بچی نهٔ وی. ۱۰هغهٔ چې څهٔ کول مالِک خُدائ ترې نه په دې ناراضه شو اؤ
مالِک خُدائ هغه هم ووژلو. ۱۱بيا يهُوداه خپلې اينږور تامار ته ووئيل، "د خپل
پلار کور ته لاړه شه اؤ تر هغې پورې کونډه پاتې شه چې زما زوئ سيله لوئ
شوے نهٔ وی." هغهٔ دا څکه ووئيل چې هغه يرېدو چې سيله به ووژلے شی،

لکه چې د هغهٔ خپل ورُونه هم وژلے شوی وُو. نو تامار لاړه اؤ د خپل پلار په کور کښې اوسېده. [12] څهٔ وخت وروستو د یهُوداه ښځه مړه شوه. چې کله په هغهٔ د غم ورځې تېرې شوې، هغه اؤ د هغهٔ ملګرې د عدولام حیره، تمنت ته لاړل، چرته چې د هغهٔ د ګډو وړی کلېدلې. [13] تامار ته چا ووئیل چې د هغې سخر ګډو کلولو له تمنت ته ځی. [14] نو هغې د کونډتوب جامې وویستلې چې هغې اغوستې وې اؤ مخ یې په څادر پټ کړو اؤ د تمنت په لاره د عینیم ښار سره نزدې ورته کښېناسته. ځکه چې هغې ته ښه پته وه چې د یهُوداه وړُوکے زوئ لوئ شوے وو اؤ تر اوسه پورې یې ودېدو له نهٔ وه ورکړې. [15] چې کله یهُوداه هغه ولیده، نو خیال یې دا وو چې ګنی کنجره ده، ځکه چې هغې خپل مخ پټ کړے وو. [16] هغه د لار په غاړه هغې له ورَغلو اؤ وې وئیل، "زهٔ تا سره څملاستل غواړم." هغهٔ ته پته نهٔ وه چې هغه یې اېنږور ده. هغې ووئیل، "تهٔ به ما له څهٔ راکړې؟" [17] هغهٔ جواب ورکړو، "زهٔ به تا له د خپلې رَمې نه یوه چېلۍ درولېږم." هغې ووئیل، "ټیک ده، خو تهٔ ما له په ضمانت کښې څهٔ راکړه چې د ځان سره یې تر هغې پورې کېږدم چې تا چېلۍ نهٔ وی رالېږلې." [18] هغهٔ ترې تپوس وکړو، "زهٔ په ضمانت کښې څهٔ درسره کېږدم؟" هغې ورته ووئیل، "ستا په غاړه کښې خپل مُهر سره د مزی اؤ ستا په لاس کښې دا لختہ." هغهٔ دا څیزُونه هغې له ورکړل. بیا دوئ څملاستل اؤ هغه اُمیدواره شوه. [19] تامار کور ته لاړه، څادر یې لرې کړو اؤ د کنډتوب جامې یې بیا واغوستلې. [20] وروستو یهُوداه خپل ملګرے حیره د چېلۍ سره ورولېږلو چې د ضمانت څیزُونه د هغه ښځې نه واپس راوړی، خو حیره هغه ونهٔ مُونده. [21] هغهٔ په عینیم کښې د څهٔ کسانو نه تپوس وکړو، "هغه کنجره چرته ده چې د لارې په غاړه ناسته وه؟" هغوئ جواب ورکړو، "دلته خو کنجره نهٔ وه." [22] هغه یهُوداه ته واپس راغلو اؤ وې وئیل، "ما هغه ونهٔ مُوندله. د هغه ځائ خلقو ووئیل چې په هغه ځائ کښې کله هم کنجره نهٔ وه." [23] یهُوداه ووئیل، "پرېږده چې هغه څیزُونه هغه د ځان سره وساتی. مُونږ نهٔ غواړُو چې خلق راپورې وخاندی. ما هغې له د مزدُورۍ ورکولو کوشش وکړو، خو تا هغه ونهٔ مُوندله." [24] تقریباً درې میاشتې وروستو یهُوداه ته چا ووئیل، "ستا اېنږور تامار کنجرتوب کولو اؤ اوس هغه اُمیدواره

ده.“ یهُوداه ووئیل، ”هغه بهر راوباسئ اؤ په اور کښې یې وسوزوئ.“ [۲۵]چې
هغه بهر راوویستلے شوه، هغې خپل سخر له خبر ورولېږلو: ”زهٔ د هغه سړی نه
اُمیدواره یم چې دا څیزُونه د چا وی. دې ته وګورئ چې دا مُهر سره د مزی اؤ
دا لخته د چا دی.“ [۲۶]یهُوداه دا وپېژندل اؤ وې وئیل، ”هغه په حقه ده. زهٔ د
هغې سره په خپله ذِمه واریٔ کښې ناکام شوے یم. ځکه چې ما هغه خپل زوئ
سیله ته وادهٔ نهٔ کړه.“ اؤ یهُوداه د هغې سره بیا شپه تېره نهٔ کړه. [۲۷]چې کله د
هغې د بچی پېدا کېدو وخت راغلو، دا پته ولګېده چې د هغې جوړه بچی پېدا
کېدُونکی دی. [۲۸]چې کله هغه په تکلیف کښې وه، یو ماشُوم لاس رابهر کړو،
دایئې یې لاس راونیولو، سُور تار یې ترې تاؤ کړو اؤ وې وئیل، ”دا وړومبے
پېدا شوے دے.“ [۲۹]خو هغهٔ خپل لاس واپس راښکلو اؤ د هغهٔ ورور وړومبے
پېدا شو. بیا هغه دایئې ووئیل، ”تا څنګه د ځان د پاره د راوتلو لار جوړه کړې
ده!“ نو د هغهٔ نُوم فرص شو. [۳۰]بیا د هغهٔ ورور پېدا شو چې د هغهٔ د لاس نه
سُور تار تاؤ وو اؤ د هغهٔ نُوم زارح شو.

## حضرت یُوسف اؤ د فوطیفار ښځه

## ۳۹

[۱]کله چې اِسمٰعیلیانو یُوسف مِصر ته بوتلو، هغه یې فوطیفار نُومې د
فِرعون په یو آفسر باندې خرڅ کړو، چې هغه د محل د څوکیدارانو
مشر وو. [۲]مالِک خُدائ د یُوسف مل وو اؤ هغه یې کامیاب کړو. هغه د خپل
مِصری نیک په کور کښې اوسېدو، [۳]چې هغهٔ ولیدل چې مالِک خُدائ د یُوسف
مل دے اؤ هغه یې په هر کار کښې کامیاب کړے دے. [۴]نو فوطیفار د هغهٔ نه
خوشحال وو اؤ هغه یې خپل ذاتی خِدمتګار اؤ د خپل کور مشر یې جوړ کړو
اؤ خپل هر څهٔ یې هغهٔ ته وسپارل. [۵]هم د هغه وخت نه، هم د یُوسف په وجه
مالِک خُدائ د دې مِصری کورنیٔ له برکت ورکړے وو اؤ ورسره هغه هر څیز
له یې برکت ورکړو چې د هغهٔ په کور اؤ په پټو کښې وُو. [۶]فوطیفار چې څهٔ هم
لرل هغه یې یُوسف له ورکړل چې خیال یې ساتی اؤ په خپله یې د خوراک نه
بغېر د یو څیز فکر هم نهٔ کولو. نو یُوسف ښائسته بدن لرلو اؤ ښُکلے ځوان وو،

۷اؤ څۀ موده وروستو د هغۀ د نېک ښځې يُوسف ته د شوق په سترګه کتل اؤ
ورته يې ووئيل، "راشه اؤ ما سره څمله." ۸هغۀ اِنکار وکړو اؤ ورته يې ووئيل،
"ګوره! زما نېک په خپله په دې کور کښې د يو څيز فکر هم نۀ کوی، ځکه
چې زۀ دلته يم. هغۀ زۀ په خپل هر څيز مشر جوړ کړے يم. ۹زۀ په دې کور
کښې د هغۀ هومره اِختيار لرم اؤ هغۀ ستا نه بغېر زما نه هيڅ څيز هم نۀ دے
منع کړے. نو بيا زۀ داسې غلط کار څنګه وکړم چې د خُدائ پاک ګُناهګار
شم؟" ۱۰اګرچې هغې به هره ورځ يُوسف ته وئيل، خو هغۀ د هغې نۀ خبره
منله چې ورسره څملی اؤ نۀ ورنزدې کېدو. ۱۱خو يو ورځ چې کله يُوسف د
کار د پاره کور ته ننوتو، په کور کښې يو خِدمتګار هم نۀ وو. ۱۲هغې هغه د
قميص نه ونيوو اؤ ورته يې ووئيل، "راشه! ما سره څمله." خو هغۀ بهر منډه
کړل اؤ وتښتېدو اؤ د هغۀ قميص د هغې په لاس کښې پاتې شو. ۱۳کله چې
هغې وليدل چې د هغۀ نه قميص پاتې شو اؤ د کور نه يې بهر منډه کړل، ۱۴هغې
د کور خِدمتګاران راوغوښتل اؤ وې وئيل، "دا وګورئ! زما خاوند چې کور
ته کُوم عبرانے راوستلے دے هغه مُونږ شرموی. هغه زما کوټې ته راننوتو اؤ ما
ته يې د لاس راچولو کوشش وکړو، خو ما په زوره زوره چغې ووهلې. ۱۵نو
زما چغو سره هغۀ بهر منډه کړل اؤ قميص يې زما سره پرېښودو." ۱۶هغې دا
قميص د يُوسف د نېک کور ته راتلو پورې وساتلو. ۱۷بيا هغې هغۀ ته هم هغه
شان قيصه تېره کړه: "تا چې کُوم عبرانے نوکر دلته راوستلے دے هغه زما کوټې
ته راننوتو اؤ لاس يې راواچولو. ۱۸خو چې کله ما چغې ووهلې، هغۀ بهر منډه
کړل اؤ خپل قميص يې زما سره پرېښودو." ۱۹چې کله د يُوسف نېک دا قيصه
واؤرېده کومه چې خپلې ښځې ورته بيان کړه، نو هغه د غُصې نه تک سُور
شو. ۲۰نو يُوسف يې ونيولو اؤ په هغه قېدخانه کښې يې بند کړو چرته به چې
د بادشاه قېديان قېد کولے شول اؤ هغه هلته په قېدخانه کښې وو. ۲۱خو مالِک
خُدائ د يُوسف مل وو نو رحم يې پرې وکړو اؤ هغه د قېدخانې د آفسر په نظر
کښې ښۀ راغلو. ۲۲هغۀ يُوسف د نورو ټولو قېديانو مشر جوړ کړو اؤ چې په
قېدخانه کښې څۀ هم کېدل د هر څۀ ذِمه واری يې ورکړه. ۲۳د قېدخانې آفسر د
هغه يو څيز فکر هم نۀ کولو چې يُوسف له يې کُومه ذِمه واری ورکړې وه، ځکه

چې مالِک خُدائ د يُوسف مل وو اؤ هغه يې په هر کار کښې کامياب کولو.

## حضرت يُوسف د قېديانو د خوبُونو تعبير ښودل

**۴۰** [۱] څۀ موده وروستو د مِصر د بادشاه ساقى اؤ مشر نانبائى داسې څۀ غلط کار وکړو چې بادشاه ورباندې خفه شو. [۲] فِرعون دې دواړو افسرانو ته سخت غُصه شو [۳] اؤ دوئ يې د څوکيدارانو د مشر په کور کښې قېد کړل، هم په هغه ځائ کښې چې چرته يُوسف قېد وو. [۴] دوئ ډېر وخت په قېدخانه کښې تېر کړو اؤ د څوکيدارانو مشر يُوسف ته حواله کړل چې د دوئ خِدمت کوى. [۵] يوه شپه په قېدخانه کښې د مِصر د بادشاه ساقى اؤ مشر نانبائى دواړو خوب وليدو اؤ د هر يو خوب خپل خپل مطلب وو. [۶] چې کله يُوسف هغوئ له سحر ورَغلو، هغۀ دوئ پرېشانه وليدل. [۷] هغۀ د هغوئ نه تپوس وکړو، "تاسو ولې نن پرېشانه ښکارئ؟" [۸] هغوئ ورته ووئيل، "مُونږ دواړو يو يو خوب ليدلے دے اؤ دلته داسې هيڅ څوک هم نشته چې تعبير يې وکړى." يُوسف ورته ووئيل چې، "دا خو خُدائ پاک دے چې هغه د خوبُونو د تعبير عِلم ورکوى، تاسو ما ته خپل خوبُونه ووايئ." [۹] نو ساقى ووئيل، "زما په خوب کښې زما په مخکښې د انګُورو بُوټے وو، [۱۰] د دې درې څانګې وې. چې څنګه د دې نه پاڼې راووتلې، غُوټۍ راښکاره شوې اؤ انګُور پاخۀ شول. [۱۱] ما د فِرعون پيالۍ په لاس کښې نيولې وه، نو ما انګُور راواخستل اؤ دا مې په پياله کښې نچوړ کړل اؤ هغۀ له مې ورکړل." [۱۲] يُوسف ووئيل، "د دې تعبير دا دے: دا درې څانګې درې ورځې دى. [۱۳] په دې دريو ورځو کښې به بادشاه تا آزاد کړى اؤ په خپل ځائ به دې کښېنوى. تۀ به هغۀ له پيالۍ ورکړې اؤ د مخکښې په شان به د هغۀ ساقى يې. [۱۴] خو چې کله ستا د پاره هر څۀ سم شى نو ما مۀ هېروه اؤ په ما ډېره مِهربانى وکړه فِرعون ته زما ذِکر وکړه اؤ د دې قېدخانې نه خلاصېدلو کښې زما مدد وکړه. [۱۵] ځکه چې زۀ د عبرانيانو د وطن نه راتښتولے شوے وم اؤ ما دلته په مِصر کښې داسې هيڅ کار نۀ دے کړے چې په دې قېدخانه کښې بندى شم." [۱۶] چې کله مشر نانبائى پوهه شو چې د ساقى د خوب تعبير

ښهٔ وو، هغهٔ هم يُوسف ته ووئيل ”ما هم خوب ليدلے دے، ما په سر د ډوډۍ
درې ټوکرۍ راواني کړې وې. ^۱۷^د ټولو سر ته ټوکرۍ کښې د فِرعون د پاره هر
قِسم ډوډۍ وې اؤ مارغانو دا خوړلې.“ ^۱۸^يُوسف جواب ورکړو، ”د دې تعبير
دا دے: هغه درې ټوکرۍ درې ورځې دی. ^۱۹^په دريو ورځو کښې به فِرعون
ستا نه سر لرې کړی. بيا به تا په يوه ونه کښې راځوړند کړی اؤ مارغان به ستا
غوښه وخوری.“ ^۲۰^په دريمه ورځ دا د فِرعون د پېدايښت ورځ وه، هغهٔ خپلو
ټولو درباريانو له يوه لويه ډوډۍ وکړه، هغهٔ خپل ساقی اؤ مشر نانبائی رابهر
کړل اؤ د خپلو درباريانو په مخکښې يې حاضر کړل. ^۲۱^فِرعون، ساقی بيا په
خپل وړومبی ځائ کښېنولو اؤ ساقی پيالۍ فِرعون له په لاس کښې ورکړه، ^۲۲^خو
هغه مشر نانبائی يې راځوړند کړو. دا ټول هم هغه شان وشول لکه څنګه چې
يُوسف وئيلی وُو. ^۲۳^خو ساقی يُوسف راياد نهٔ کړو. اؤ هېر يې کړو.

## د حضرت يُوسف د فِرعون د خوبُونو تعبير کول

**۴۱** ^۱^پُوره دوه کاله تېر شوی وُو چې د مِصر فِرعون خوب وليدو چې
هغه د نيل درياب په غاړه ولاړ وو، ^۲^چې کله اووهٔ ښې ښائسته اؤ
څربې غواګانې د درياب نه راوختلې اؤ په واښو کښې په څرېدلو شروع شوې.
^۳^اووهٔ نورې غواګانې هم راوختلې، دا کمزورې اؤ نرۍ وې. دا راغلې اؤ د
درياب په غاړه د نورو غواګانو سره ودرېدلې، ^۴^هغه نرو اؤ کمزورو غواګانو،
ښائسته اؤ څربې غواګانې وخوړلې. بيا فِرعون راويښ شو. ^۵^هغه بيا اُودهٔ شو
اؤ يو بل خوب يې وليدو. هغهٔ د غلې اووهٔ ډک اؤ پاخهٔ وږی وليدل، چې په يو
ډنډر باندې راشوی وُو. ^۶^بيا هغهٔ يو بل ډنډر وليدو چې په دې باندې اووهٔ نور
وږی راشوی وُو چې نری وُو اؤ ګرمې هوا وچ کړی وُو، ^۷^اؤ د غلې هغه نرو وږو
هغه ډک اؤ پاخهٔ وږی تېر کړل. فِرعون راويښ شو اؤ پوهه شو چې هغهٔ خوب
ليدلو. ^۸^سحر هغه پرېشان وو، نو هغهٔ د مِصر ټول نجوميان اؤ هوښيار خلق
راوغوښتل. هغهٔ ورته خپل خوبُونه ووئيل، خو هيڅوا هم هغهٔ ته د دې تعبير نهٔ
شو ښودلے. ^۹^بيا ساقی فِرعون ته ووئيل، ”صاحِبه! نن زهٔ دا خبره څرګندوم چې
زما نه غلطی شوې ده. ^۱۰^يو ځل چې فِرعون خپلو خِدمتګارانو ته غُصه شو نو

زهٔ اؤ مشر نانبائی يې د څوکيدارانو مشر د کور په قېدخانه کښې قېد کړُو. [11]يوه شپه مُونږ دواړو يو يو خوب وليدو اؤ د هغه خوبُونو بېل بېل مطلبُونه وُو. [12]يو ځوان عبرانے هلته زمُونږ سره وو چې هغه د څوکيدارانو د مشر خِدمتګار وو. مُونږ هغهٔ ته خپل خوبُونه ووئيل اؤ هغهٔ مُونږ ته د دې تعبيرُونه وښودل. [13]چې څنګه هغهٔ وئيلی وُو هم هغه شان وشول: تا زهٔ بيا په خپل ځائ کښېنولم، خو نانبائی دې راځوړند کړو.“ [14]فِرعون يُوسف راوغوښتو اؤ هغه فوراً د قېدخانې نه راوستلے شو. چې هغهٔ د سر اؤ ګيرې وېښتهٔ کل کړل اؤ جامې يې بدلې کړې، نو هغه فِرعون ته پېش شو. [15]فِرعون يُوسف ته ووئيل، ”ما يو خوب ليدلے دے اؤ هيڅ څوک هم د دې تعبير نهٔ شی ښودلے. ما ته چا وئيلی دی چې تهٔ په خوبُونو پوهېږې اؤ تعبير يې ښودلے شې.“ [16]يُوسف جواب ورکړو، ”صاحِبه! زهٔ دا نهٔ شم کولے، خو خُدائ پاک دې ښهٔ تعبير درکړی.“ [17]فِرعون يُوسف ته ووئيل، ”ما خوب وليدلو چې زهٔ د نيل درياب په غاړه ولاړ وم، [18]چې کله اووهٔ ښائسته اؤ څربې غواګانې د درياب نه راوختلې اؤ په واښو کښې په څرېدلو شروع شوې. [19]بيا اووهٔ نورې غواګانې راوختلې چې نرۍ اؤ کمزورې وې. ما په مِصر کښې دومره ډېرې بېکاره غواګانې چرته هم نهٔ دی ليدلې. [20]بيا دې کمزورو غواګانو هغه څربې غواګانې وخوړلې، [21]خو هيچا به داسې نهٔ وې وئيلی چې هغه يې خوړلې دی، ځکه چې هم هغه شان کمزورې معلُومېدې لکه چې څنګه مخکښې وې. بيا زهٔ راوېښ شوم. [22]ما دا خوب هم وليدو چې په يو ډنډر باندې د غلې اووهٔ ډک اؤ پاخهٔ وږی راشوی وُو، [23]بيا د غلې اووهٔ نور وږی راوشول، چې دا نری اؤ د صحرا هوا سوزولی وُو، [24]اؤ د غلې اووهٔ نرو وږو هغه ډک وږی تېر کړل. ما دا خوبُونه نجوميانو ته ووئيل، خو هيچا ما ته د دې تعبير نهٔ شو ښودلے.“

[25]يُوسف فِرعون ته ووئيل، ”صاحِبه! د دې دواړو خوبُونو هم يو مطلب دے، خُدائ پاک تا ته وښودل چې هغه به په راتلُونکی وخت کښې څهٔ کوی. [26]دا اووهٔ څربې غواګانې اووهٔ کالونه دی اؤ دا د غلې اووهٔ ډک وږی هم اووهٔ کالونه دی، د دې دواړو هم يو مطلب دے. [27]هغه اووهٔ نرۍ غواګانې چې کُومې وروستو راوختلې اؤ هغه اووهٔ د غلې نری وږی کُوم چې ګرمې هوا وچ

کړل د قحط اووهٔ کالونه دی. ۲۸لکه څنګه چې ما تا ته ووئیل، خُدائ پاک تا
ته ښودلی دی چې هغه به په راتلُونکی وخت کښې څهٔ کوی. ۲۹اووهٔ کاله به د
ټول مِصر په وطن کښې ښهٔ ډېر پېداوار کېږی. ۳۰د هغې نه پس به اووهٔ کاله د
قحط وی اؤ هغه ټول آباد کالونه به مو هېر شی، ځکه چې قحط به وطن تباه
کړی. ۳۱آباد وخت به مو بېخی هېر شی، ځکه چې ورپسې کُوم قحط راځی
هغه به ډېر سخت وی. ۳۲ستا د دوه ځل خوبُونو مطلب دا دے چې دا د خُدائ
پاک فېصله ده اؤ زر به خُدائ پاک داسې وکړی. ۳۳اوس تاسو یو هوښیار اؤ
ښهٔ پوهه سړے ولټوئ اؤ هغه د مِصر د وطن مشر مُقرر کړئ. ۳۴تاسو له نور
آفسران هم مُقررول په کار دی اؤ د آبادئ په دې اووهٔ کالونو کښې د فصلُونو
پینځمه حِصه اخلئ. ۳۵نو هغوئ له حُکم ورکړئ چې راروان ښهٔ کالونه دی
چې د خوراک ټول څیزُونه راغونډ کړی اؤ هغوئ له اِختیار ورکړئ چې په
ښارُونو کښې غله جمع کړی اؤ د هغې حِفاظت وکړی. ۳۶هغه خوراک به د دې
وطن د پاره یوه ذخیره وی، د قحط د هغو اووهٔ کالونو د پاره کُوم چې د مِصر
په وطن راروان دی. نو داسې خلق به د لوږې نه نهٔ مری."

## د حضرت یُوسف مشر مُقررېدل

۳۷د فِرعون اؤ د هغهٔ د درباریانو په نظر کښې دا منصُوبه ښهٔ راغله، ۳۸اؤ فِرعون
هغوئ ته ووئیل، "مُونږ ته به هیڅ کله هم د یُوسف نه ښهٔ سړے مِلاؤ نهٔ شی،
یو داسې سړے چې په هغهٔ کښې د خُدائ پاک رُوح وی." ۳۹فِرعون یُوسف ته
ووئیل، "خُدائ پاک تا ته هر څهٔ ښودلی دی، دا څرګنده خبره ده چې ستا نه
لوئ هوښیار اؤ ښه پوهه لرُونکے کس بل نشته. ۴۰زهٔ به تا د خپل وطن مشر
جوړ کړم اؤ زما ټول خلق به ستا حُکم منی. تهٔ به ما پسې دویم اِختیارمن سړے
یې. ۴۱زهٔ اوس تا په ټول مِصر مشر مُقرروم." ۴۲فِرعون خپله ګوته د لاس نه
وویستله چې په هغې د بادشاهۍ مُهر لګېدلے وو اؤ یُوسف ته یې ورپه ګوته
کړه. هغهٔ ته یې د رېښمو یوه ښائسته چُوغه ورواغوستله اؤ د سرو زرو هار یې
ورپه غاړه کړو. ۴۳هغهٔ له یې د ګرځېدو د پاره هغه دویمه د اسُونو بادشاهی

ګاډۍ ورکړه اؤ عِزت ورکوُونکي فوجيان د هغهٔ نه مخکښې روان وُو اؤ چغې يې وهلې چې، ”لار پرېږدئ! مشر راروان دے.“ نو يُوسف په ټول مِصر مشر مُقرر شو. [۴۴]بادشاه هغهٔ ته ووئيل، ”زهٔ فِرعون يم. اؤ ستا د اِجازت نه بغېر به په ټول مِصر کښې هيڅ څوک هم لاس خپه نهٔ شي ښوزولے.“ [۴۵-۴۶]په هغهٔ يې د مِصريانو نُوم ”صافنت فعينح“ کېښودو اؤ هغهٔ ته يې يوه ښځه آسِناتهٔ په نِکاح کړه، چې هغه د اُون د يو اِمام فوطيفرع لُور وه. يُوسف د دېرشو کالو وو چې هغهٔ د مِصر د فِرعون خِدمت کول شروع کړل. هغه د فِرعون د دربار نه لاړو اؤ د مِصر ټول وطن يې وکتلو، [۴۷]د آبادۍ په هغو اووهٔ کالونو کښې هغه وطن ډېره زياته غله وکړه، [۴۸]هغه هر څهٔ يُوسف راغونډ کړل اؤ په ښارُونو کښې يې ذخيره کړل. هغهٔ په هر ښار کښې د ګېرچاپېره پټو نه خوراک راجمع کړو. [۴۹]دا غله دومره زياته وه چې يُوسف يې تلل پرېښودل. دا د سمندر په غاړه د شګو په شان ډېره وه. [۵۰]د قحط د کالونو نه مخکښې د يُوسف د آسِناتهٔ نه دوه زامن پېدا شول. [۵۱]هغهٔ ووئيل، ”خُدائ پاک زما ټولې سختۍ اؤ زما د پلار ټوله کورنۍ زما نه هېره کړې ده“، نو يُوسف په خپل مشر زوئ منشه نُوم کېښودو. [۵۲]هغهٔ دا هم ووئيل، ”خُدائ پاک زما د تکليف په وطن کښې ما له بچي راکړي دي“، نو هغهٔ په خپل دويم زوئ اِفرائيم نُوم کېښودو. [۵۳]د مِصر د وطن د آبادۍ هغه اووهٔ کالونه ختم شول، [۵۴]اؤ د قحط اووهٔ کالونه شروع شول هم هغه شان لکه چې څنګه يُوسف وئيلي وُو. په نورو ټولو وطنُونو کښې قحط وو، خو د مِصر په ټول وطن کښې خوراک وو. [۵۵]چې کله مِصريان ډېر زيات وږي شول، دوئ فِرعون ته د خوراک د پاره فرياد وکړو. نو هغهٔ هغوئ له حُکم ورکړو چې يُوسف ته لاړ شئ اؤ هم هغسې وکړئ چې څنګه هغه تاسو ته وائي. [۵۶]قحط سخت شو اؤ په ټول وطن کښې خور شو، نو يُوسف ټول ګودامُونه کولاؤ کړل اؤ په مِصريانو به يې غله خرڅوله. [۵۷]د يُوسف نه غله اخستلو د پاره د ټولې دُنيا نه خلق مِصر ته راتلل، ځکه چې قحط په هر ځائ کښې ډېر سخت وو.

## د حضرت يُوسف د ورُوڼو غلې پسې مِصر ته تلل

**۴۲** [۱]چې کله يعقُوب خبر شو چې په مِصر کښې غله شته، هغهٔ خپلو زامنو ته ووئيل چې، "ولې يو بل ته گورئ؟ [۲]گورئ! ما اؤرېدلی دی چې په مِصر کښې غله شته، هلته لاړ شئ اؤ لږه واخلئ چې ژوندی پاتې شُو اؤ د لوږې نه مړهٔ نهٔ شُو." [۳]نو د يُوسف لس مېرنی ورُوڼه د غلې اخستلو د پاره مِصر ته لاړل، [۴]خو يعقُوب د يُوسف سکه ورور بنيامين د هغوئ سره ونهٔ لېږلو، ځکه چې هغه په دې يرېدو چې څهٔ نُقصان به ورته ورسېږی. [۵]نو د يعقُوب زامن د نورو خلقو سره غلې اخستلو د پاره راغلل ځکه چې د کنعان په وطن کښې قحط وو. [۶]يُوسف د مِصر د وطن د مشر په توگه د ټولې دُنيا په خلقو باندې غله خرڅوله. نو د يُوسف ورُوڼه راغلل اؤ د هغهٔ په مخکښې ټيټ شول اؤ خپل سرُونه يې ورته په زمکه ولگول. [۷]يُوسف خپل ورُوڼه وليدل، هغهٔ دوئ وپېژندل، خو ځان يې داسې کړو لکه چې هڅو دوئ پېژنی نه. اؤ د هغوئ سره يې سختې خبرې کولې، "تاسو د کُوم ځائ نه راغلی يئ؟" هغوئ ورته ووئيل، "صاحِبه! مُونږ د خوراک اخستلو د پاره د کنعان نه راغلی يُو." [۸]يُوسف خپل ورُوڼه وپېژندل، خو هغوئ هغه ونهٔ پېژندو. [۹]هغهٔ ته هغه خوبُونه راياد شول کُوم يې چې د هغوئ په باره کښې ليدلی وُو اؤ ورته يې ووئيل، "تاسو جاسُوسان يئ، تاسو زمُونږ د وطن کمزوری معلُومولو له راغلی يئ." [۱۰]هغوئ جواب ورکړو، "نه، صاحِبه! مُونږ ستا خِدمتگاران د خوراک د پاره راغلی يُو. [۱۱]مُونږ ټول د يو سړی زامن يُو. صاحِبه! مُونږ جاسُوسان نهٔ يُو، مُونږ صحيح خلق يُو." [۱۲]يُوسف ورته ووئيل، "نه، تاسو زمُونږ د وطن کمزوری معلُومولو له راغلی يئ." [۱۳]هغوئ ورته ووئيل، "صاحِبه! مُونږ دولس ورُوڼه وُو. د کنعان په وطن کښې د يو سړی زامن يُو. يو ورور مو مړ دے اؤ کشرے ورور مو اوس د خپل پلار سره دے." [۱۴]يُوسف ورته ووئيل، "هم دغه شان ده لکه چې څنگه ما ووئيل تاسو جاسُوسان يئ. [۱۵]زهٔ دا معلُومول غواړم چې په رښتيا سره تاسو څوک يئ: زهٔ د فِرعون په سر قسم کوم چې تاسو به تر هغې پورې لاړ نهٔ شئ چې ستاسو کشرے ورور دلته راغلے نهٔ وی. [۱۶]ستاسو نه يو کس ورولېږئ اؤ هغه راولئ. تاسو باقی نور به په قيدخانه کښې واچولې شئ چې ستاسو دا خبره

معلُومه کړے شی چې تاسو رښتیا وايئ کهٔ نهٔ. ګنی، د فِرعون په سر مې قسم دے چې تاسو په رښتیا جاسُوسان يئ.“ [17]بيا درې ورځې يې هغوئ ټول په قيدخانه کښې بند کړل. [18]په دريمه ورځ يُوسف هغوئ ته ووئيل، ”زهٔ د خُدائ پاک نه يريږم اؤ زهٔ به تاسو په يو شرط ژوندی پرېږدم، [19]چې دا ثابِته شی چې تاسو رښتونی يئ، ستاسو نه به يو کس په قيدخانه کښې بند وی، باقی نور ټول تلے شئ اؤ چې کُومه غله تاسو اخستې ده هغه خپلو قحط وهلو خلقو له يوسئ. [20]خو تاسو به خامخا خپل کشرے ورور ما له راروليئ. د دې نه به دا ثابِته شی چې تاسو رښتيا وايئ اؤ زهٔ به تاسو نهٔ وژنم.“ نو هغوئ دې ته راضی شول. [21]اؤ يو بل ته يې ووئيل، ”دا اوس چې مُونږ کړېږُو دا د هغې نتيجه ده چې مُونږ د خپل ورور سره څهٔ کړی وُو، هغه چې په کُوم لوئ مُصيبت کښې وو مُونږ وليدلو چې کله هغهٔ مِنت زاری کوله، خو مُونږ وانهٔ وريدله. دا ځکه اوس مُونږ په دې تکليف کښې راګېر يُو.“ [22]روبين ووئيل، ”ما تاسو ته وئيل چې هلک له تکليف مهٔ ورکوئ، خو تاسو وانهٔ وريدل. اؤ اوس به زمُونږ نه د هغهٔ د وينې حِساب غوښتې شی.“ [23]هغوئ ته پته ونهٔ لګېده چې يُوسف د دوئ په خبرو پوهېږی، ځکه چې هغهٔ د هغوئ سره د يو تُرجمان په ذريعه خبرې کولې. [24]يُوسف د هغوئ نه لاړو اؤ په ژړا شو. چې کله هغهٔ د ژړا نه پس خبرې کولے شوې نو راواپس شو، شمعُون يې رابېل کړو اؤ د هغوئ په مخکښې يې وتړلو.

## د حضرت يُوسف د ورُوڼو واپس کنعان ته تلل

[25]يُوسف حُکم ورکړو چې د هغهٔ د ورُوڼو بوجۍ د غلې نه ډکې کړئ، د هر يو کس روپۍ واپس د هغهٔ په بوجۍ کښې کېږدئ اؤ هغوئ له د سفر د پاره خوراک هم ورکړئ. اؤ هم دغه شان يې ورسره وکړل. [26]د هغهٔ ورُوڼو چې کُومه غله اخستې وه د هغې نه يې خپل خرُونه بار کړل اؤ بيا دوئ لاړل. [27]چې کله په سرائی کښې يو کس خپله بوجۍ کولاؤ کړه چې خپل خرهٔ له خوراک ورکړی نو د بوجۍ په خُله کښې يې روپۍ وليدلې. [28]هغهٔ خپل ورُوڼه راوغوښتل، ”دېخوا ګورئ! ما ته يې خپلې روپۍ واپس کړې دی، دا دی زما په بوجۍ کښې!“ د هغوئ ساه ډُوبه شوه اؤ ويرېدل اؤ هغوئ د يو بل نه پوښتنه وکړه، ”دا خُدائ

پاک زمُونږ سره څۀ کوی؟“ [29]چې کله دوئ په کنعان کښې خپل پلار یعقُوب له راغلل، هغوئ هغۀ ته هر څۀ ووئیل چې د هغوئ سره شوی وُو: [30]”د مِصر مشر زمُونږ سره سختې خبرې کولې اؤ هغۀ په مُونږ اِلزام ولګولو چې مُونږ د هغۀ په وطن کښې جاسُوسی کوُو. [31]مُونږ ورته ووئیل چې مُونږ جاسُوسان نۀ یُو مُونږ صحیح خلق یُو. [32]مُونږ ټول دولس ورُوڼه د یو پلار زامن وُو. یوورور مو مړ دے اؤ کشرے ورور مو د پلار سره په کنعان کښې دے. [33]هغه سړی مُونږ ته ووئیل، یو کس زما سره پاتې شئ نو ما ته به پته ولګي چې تاسو صحیح خلق یئ، اؤ باقی نور به خپلو نهَرو کورَنو له غله یوسئ اؤ لاړ شئ. [34]خپل کشرے ورور ما ته راولئ. بیا به ما ته پته ولګي چې تاسو جاسُوسان نۀ یئ اؤ صحیح خلق یئ، زۀ به تاسو له خپل ورور درواپس کړم اؤ بیا تاسو دلته پاتې شئ اؤ سوداګری کوئ.“ [35]نو چې کله هغوئ خپلې بوجۍ تشولې نو هر یو کس د رُوپو کڅوړې ومُوندلې، اؤ چې روپۍ یې ولیدلې، نو هغوئ اؤ د هغوئ پلار ویرېدل. [36]خپل پلار یعقُوب هغوئ ته ووئیل، ”تاسو ما د ټولو زامنو نه خلاصول غواړئ څۀ؟ یُوسف لاړو، شمعُون لاړو، اؤ اوس به تاسو بنیامین هم بوځئ! دا ټول تکلیفُونه په ما راغلی دی.“ [37]روبین خپل پلار ته ووئیل، ”کۀ بنیامین ما واپس تا له رانۀ وستلو، نو تۀ زما دوه زامن ووژنه. بنیامین زما په حواله کړه اؤ زۀ به یې واپس تا له راولم.“ [38]خو یعقُوب ووئیل، ”زما زوئ به ستاسو سره نۀ ځی، د هغۀ ورور مړ دے اؤ هغه یکی یواځې پاتې دے. په لار کښې به په هغۀ څۀ وشی. زۀ ضعیف سړے یم اؤ چې تاسو ما په کُوم غم آخته کوئ نو ما سپین ږیرے به قبر ته ولېږئ.“

## مِصر ته دویم سفر

# ۴۳

[1]نو په کنعان کښې قحط نور هم سخت شو، [2]اؤ چې کله د یعقُوب کورنۍ ټوله غله وخوړله کُومه چې د مِصر نه راوړلے شوې وه، یعقُوب خپلو زامنو ته ووئیل، ”بیا لاړ شئ اؤ زمُونږ د پاره لږه نوره غله راوړئ.“ [3]یهُوداه هغۀ ته ووئیل، ”هغه سړی مُونږ ته په ټینګه خبردارے راکړے دے چې مُونږ د ځان سره خپل ورور نۀ وی راوستلے مُونږ د هغۀ په دربار کښې نۀ شُو

حاضرېدلے. [۴]کۀ تۀ زمُونږ سره زمُونږ وړوړ لېږل غواړې، نو مُونږ به لاړ شُو اؤ ستا د پاره به خوراک واخلُو. [۵]اؤ کۀ تۀ نۀ غواړې، نو مُونږ به نۀ ځُو، ځکه چې هغه سړى مُونږ ته وئيلى دى چې زمُونږ سره خپل وړوړ نۀ وى نو مُونږ د هغۀ په دربار کښې نۀ شُو حاضرېدلے.“ [۶]يعقُوب ورته ووئيل، ”تاسو زۀ په دومره سخت تکليف کښې ولې آخته کړے يم چې هغه سړى ته مو ووئيل چې زمُونږ بل وړوړ هم شته؟“ [۷]هغوئ جواب ورکړو، ”هغه سړى زمُونږ اؤ زمُونږ د کورنۍ په باره کښې تپوسُونه کول چې، ستاسو پلار تر اوسه پورې ژوندے دے څۀ؟ ستاسو بل وړوړ شته څۀ؟ مُونږ خو صِرف د هغۀ د تپوسُونو جواب ورکولو. مُونږ ته څۀ پته وه چې هغه به مُونږ ته وائى چې تاسو د ځان سره خپل وړوړ هم راولئ؟“ [۸]يهُوداه خپل پلار ته ووئيل، ”دا هلک ما سره ولېږه اؤ مُونږ به سمدستى لاړ شُو. هسې نه چې زمُونږ ماشُومان اؤ مُونږ د لوږې نه مړۀ شُو. [۹]زۀ به په خپله د هغۀ حِفاظت کوم اؤ تۀ د هغۀ ذِمه وارى زما په غاړه کولے شې. کۀ زۀ دا تا له واپس روغ اؤ سلامت رانۀ ولم، نو زۀ به همېشه تا ته ملامته يم. [۱۰]کۀ مُونږ دومره وخت ضائع کړے نۀ وے، نو مُونږ هلته تلې شوُو اؤ تر اوسه پورې دوه ځل واپس هم راتلے شوُو.“ [۱۱]خپل پلار هغوئ ته ووئيل، ”کۀ هم دغه شان کېږى، نو د دې وطن د ټولو نه ښۀ څيزُونه په خپلو بوجو کښې کېږدئ اؤ هغه مشر له يې په تُحفه کښې يوسئ: لږ عطر، شات، خوشبُودارې مصالحې، پسته اؤ بادام. [۱۲]د خپل ځان سره يو په دوه روپۍ هم يوسئ، ځکه چې کُومې روپۍ ستاسو د بوجو په خُلو کښې واپس کړے شوے وې هغه به يې خامخا ستاسو نه واپس اخلى. کېدے شى چې په غلطۍ سره داسې شوى وى. [۱۳]خپل وړوړ روان کړئ اؤ سمدستى هغه سړى له واپس ورشئ. [۱۴]قادر خُدائ پاک دې هغه سړے په تاسو مِهربانه کړى، نو هغه به بنيامين تاسو له درکړى اؤ هغه بل وړوړ به هم تاسو ته واپس کړى. کۀ زما بچى خامخا مړۀ کېږى، نو مړۀ دې شى.“ [۱۵]نو هغه کسانو هغه تُحفې اؤ يو په دوه روپۍ واخستلې اؤ مِصر ته د بنيامين سره روان شول. اؤ هلته د يُوسف په حضُور کښې پېش شول. [۱۶]چې کله يُوسف بنيامين د هغوئ سره وليدلو، نو هغۀ د خپل کور مشر خِدمتګار ته ووئيل، ”دا سړى زما کور ته بوځه. د غرمې ډوډۍ به دوئ زما سره خورى، نو

يو څاروے حلال کړه اؤ تيار يې کړه.“ [17]نو خِدمتګار هم هغه شان وکړل چې څنګه ورته حُکم شوے وو اؤ هغه کسان يې د يُوسف کور ته بوتلل.
[18]چې کله يې هغوئ کور ته راروان کړی وُو، هغوئ ويرېدل اؤ فکر يې کولو چې، ”مُونږ ته په وړومبی ځل چې کُومې روپۍ واپس کړے شوې وې د هغې په وجه يې دلته راروان کړی يُو. دوئ به ناڅاپی په مُونږ حمله وکړی، زمُونږ خرۀ به بوځی اؤ مُونږ به خپل غُلامان کړی.“ [19]نو د کور د دروازې سره هغوئ مشر خِدمتګار ته ووئيل، [20]”اے صاحِبه! مُونږ دلته يو ځل مخکښې د خوراک اخستلو د پاره راغلی وُو. [21]مُونږ چې کله سرائی ته ورسېدو، مُونږ خپلې بوجۍ کولاؤ کړې، نو هر يو کس خپلې تولې روپۍ د خپلې خپلې بوجۍ په خُله کښې ومُوندلې. مُونږ هغه د ځان سره واپس راوړې دی. [22]مُونږ د ځان سره د نور خوراک اخستلو د پاره نورې روپۍ هم راوړې دی. مُونږ ته پته نشته چې هغه روپۍ زمُونږ په بوجو کښې چا واپس ايښې وې.“ [23]د خِدمتګارانو مشر ورته ووئيل، ”خير به شی، مۀ يرېږئ. ستاسو اؤ ستاسو د پلار خُدائ پاک درله هغه روپۍ ستاسو په بوجو کښې ايښې وې. ستاسو روپۍ ما ته مِلاؤ شوې.“ بيا هغۀ شمعُون هغوئ له راوستلو. [24]هغه خِدمتګار دوئ دننه کور ته بوتلل اؤ هغوئ له يې د خپو وينځلو د پاره اوبۀ ورکړې اؤ د هغوئ خرُونو ته يې واښۀ واچول. [25]هغوئ خپلې تُحفې تيارې کړې چې يُوسف ته يې پېش کړی چې کله هغه د غرمې راورسېږی، ځکه چې هغوئ ته وئيلی شوی وُو چې هغوئ به د هغۀ سره ډوډۍ خوری. [26]چې کله يُوسف کور ته راغلو، هغوئ تُحفې دننه کور ته هغۀ له يوړې اؤ د هغۀ په مخکښې زمکې ته ټيټ شول. [27]هغۀ د هغوئ نه د خير خيريت پوښتنه وکړه اؤ بيا يې ورته ووئيل، ”تاسو ما ته د خپل ضعيف پلار په باره کښې وئيلی وُو، هغه څنګه دے؟ هغه ژوندے دے؟“ [28]هغوئ ورته ووئيل، ”زمُونږ پلار ستاسو خِدمتګار تر اوسه پورې ژوندے دے اؤ روغ جوړ دے.“ اؤ هغوئ د هغۀ په مخکښې خپل سرُونه ټيټ کړل. [29]چې کله يُوسف د خپلې مور زوئ، خپل سکه ورور بنيامين وليدو، هغۀ ووئيل، ”نو دا ستاسو کشرے ورور دے، چې تاسو د هغۀ په باره کښې ما ته وئيلی وُو؟ زما زويه! خُدائ پاک دې په تا مِهربانه شی.“ [30]بيا يُوسف فوراً لاړو، ځکه چې د خپل ورور په ليدو

د هغهٔ زړهٔ نرم شو. اؤ د ژړا نه يې ستړګې ډکې شوې، نو هغه خپلې کوټې ته لاړو اؤ وې ژړل. [31]د هغې نه پس چې کله هغهٔ مخ ووينځلو، هغه بهر راغلو اؤ خپل زړهٔ يې کلک کړو، هغهٔ حُکم وکړو چې ډوډۍ راوړئ. [32]يُوسف په يو دسترخوان ډوډۍ ته ناست وو اؤ په بل باندې د هغهٔ ورُوڼه ناست وُو. اؤ چې کُومو مِصريانو هلته ډوډۍ خوړله، هغوئ ته يې په بل ځائ کښې ډوډۍ کېښودله، ځکه چې هغوئ د عبرانيانو سره ډوډۍ خوړل حرام ګڼل. [33]د هغهٔ ورُوڼه په دسترخوان ناست وُو، د هغوئ د عُمر په حِساب سره د مشر نه کشر پورې يُوسف ته مخامخ کښېنولے شوی وُو. چې کله هغوئ ته پته ولګېده چې هغوئ څنګه کښېنولے شوی دی، نو دوئ په حېرانتيا سره يو بل ته کتل. [34]د يُوسف د دسترخوان نه هغوئ له ډوډۍ ورکولے شوه اؤ د بنيامين د نورو نه يو په پينځهٔ زياته مېلمستيا وشوله. نو هغوئ د يُوسف سره خوړل څښل وکړل اؤ ښهٔ په سُر کښې شول.

## د سپينو زرو جام ورکېدل

**۴۴** [1]يُوسف د خپل کور مشر خِدمتګار له حُکم ورکړو چې، "د هغه کسانو بوجۍ د غلې نه دومره ډکې کړئ چې هغوئ څومره وړلے شی اؤ د هر يو کس روپۍ د هغهٔ د بوجۍ په خُله کښې کېږدئ. [2]زما د سپينو زرو جام د کشر ورور د بوجۍ په خُله کښې کېږده اؤ ورسره هغه د غلې روپۍ هم کېږده." نو هم هغه شان يې وکړل چې څنګه ورته وئيلے شوی وُو. [3]بل سحر وختی، د هغهٔ ورُوڼه د خپلو خرُونو سره په خپله مخه لاړل. [4]چې کله دوئ د ښار نه لږ غونډې لرې لاړل، نو يُوسف د خپل کور مشر خِدمتګار ته ووئيل، "په هغه کسانو پسې زر لاړ شه. چې کله تهٔ هغوئ ته ورسېږې نو د هغوئ نه تپوس وکړه چې، تاسو د ښو په بدل کښې بد ولې کړی دی؟ [5]تاسو زما د نيک د سپينو زرو جام ولې پټ کړے دے؟ دا هغه جام دے چې په کُوم کښې هغه څښی اؤ د فال د پاره يې استعمالوی. دا تاسو غلط کار کړے دے." [6]چې کله خِدمتګار هغوئ له وروړسېدلو، هم هغه خبرې يې ورته وکړې. [7]هغوئ هغهٔ ته ووئيل، "صاحِبه! داسې خبرې تهٔ ولې کوې؟ مُونږ قسم کوُو چې مُونږ داسې

کار نۀ دے کړے. [8]تاسو ته پته ده چې مُونږ د کنعان د وطن نه هغه روپۍ تاسو له واپس راوړې چې مُونږ د بوجو په خُلو کښې ومُوندلې. نو بیا مُونږ څنګه ستا د نیک د کور نه سرۀ زر یا سپین زر پټ کړُو؟ [9]صاحِبه! کۀ په مُونږ کښې د چا سره هغه ومُوندلے شو، نو هغه به مړ کړے شی اؤ مُونږ نور ټول به د خپل نیک غُلامان شُو.“ [10]هغه ووئیل، ”ټیک ده، خو د چا سره چې جام ومُوندلے شی نو صِرف هغه به زما غُلام شی اؤ نور خلاص یئ تلے شئ.“ [11]نو هغوئ زر زر خپلې بوجۍ زمکې ته راکُوزې کړې اؤ هر یو کس خپله بوجۍ کولاؤ کړه. [12]د یُوسف خِدمتګار هغوئ د مشر ورور نه واخله تر کشر پورې ټول ښۀ ولټول اؤ جام د بنیامین په بوجۍ کښې راووتلو. [13]د هغه ورُوڼو د خفګان نه خپلې جامې وشلولې، خرُونه یې بار کړل اؤ ښار ته واپس شول. [14]چې کله یهُوداه اؤ د هغۀ ورُوڼه د یُوسف کور ته راغلل، نو هغه تر اوسه پورې هلته وو. اؤ هغوئ د هغۀ په مخکښې په زمکه پرېوتل، [15]اؤ یُوسف ورته ووئیل، ”تاسو څۀ کړی دی؟ تاسو ته پته نۀ وه چې زما په شان سړے په فال څیزُونه معلُوموی؟“ [16]یهُوداه ورته ووئیل، ”صاحِبه! مُونږ تا ته څۀ ووایُو؟ مُونږ څۀ وئیلے شُو؟ مُونږ د خپل ځان صفائی څنګه پېش کړُو؟ خُدائ پاک زمُونږ غلطی راښکاره کړې ده. اوس به مونږ ټول سره د هغه وروره چې جام ورسره نیولے شوے دے ستا غُلامان شُو.“ [17]یُوسف ورته ووئیل، ”نه! زۀ به هیڅ کله هم داسې ونۀ کړم، هم هغه یو به زما غُلام وی چې د چا سره جام راوتلے وو. باقی نور په خېر سره خپل پلار ته واپس تلے شئ.“

## د یهُوداه د بنیامین د پاره مِنت زاری کول

[18]یهُوداه یُوسف ته ورنزدې شو اؤ ورته یې ووئیل، ”اے نیکه! زۀ تا ته سوال کوم چې خپل خِدمتګار له اِجازت ورکړه، زۀ به د خپل نیک په غوږ کښې یوه خبره وکړم. ما ته مۀ غُصه کېږه، تۀ د فِرعون برابر طاقت لرې. [19]نیکه! تا زمُونږ نه تپوس وکړو چې ستاسو پلار یا بل ورور هم شته؟ [20]نو مُونږ درته ووئیل چې زمُونږ پلار شته چې ضعیف سړے دے اؤ زمُونږ یو کشر ورور هم شته چې د هغۀ په بُوډاتوب کښې پیدا شوے دے. د دې هلک ورور مړ دے اؤ دا د مور

یکی یو ژوندے بچے دے. خپل پلار ورسره ډېره مینه کوی. [21]صاحِبه! تا مُونږ ته ووئیل چې هغه دلته راولئ، چې تهٔ هغه وګورې، [22]اؤ مُونږ ووئیل چې هغه هلک د خپل پلار نه نهٔ شی جُدا کېدے، کهٔ هغه جُدا شی، نو د هغهٔ پلار به مړ شی. [23]بیا تا ووئیل چې کهٔ تاسو سره خپل کشرے ورور نهٔ وی راغلے نو تاسو زما په دربار کښې نهٔ شئ حاضرېدلے. [24]کله چې مُونږ واپس خپل پلار له لاړُو، صاحِبه! چې تا څهٔ وئیلی وُو هغه خبرې مو هغهٔ ته وکړې. [25]هغهٔ مُونږ ته ووئیل چې بیا لاړ شئ اؤ لږه نوره غله واخلئ. [26]مُونږ ورته ووئیل چې مُونږ تر هغې پورې نهٔ شُو تلے، چې خپل کشرے ورور راسره نهٔ وی نو مُونږ د هغه سړی په دربار کښې نهٔ شُو حاضرېدلے. مُونږ صِرف په دې یو شرط تلے شُو کهٔ کشرے ورور هم زمُونږ سره لاړ شی. [27]زمُونږ پلار مُونږ ته ووئیل، تاسو ته پته ده چې زما د ښځې راحیل نه زما صِرف دوه زامن پېدا شوی دی. [28]هغه یو خو زما نه مخکښې تلے دے. هغه به خامخا ځنګلی ځناورو ټوټې ټوټې کړے وی، ځکه چې ما بیا نهٔ دے لیدلے. [29]کهٔ تاسو اوس دا هم زما نه بوځئ اؤ په هغهٔ څهٔ وشی اؤ تاسو چې په کُوم غم ما آخته کوئ نو ما سپین‌ګیرے به قبر ته ولېږئ، زهٔ ضعیف سړے یم." [30-31]یهُوداه خبرې کولې، "اؤ اوس صاحِبه! کهٔ د دې هلک نه بغېر واپس خپل پلار ته لاړ شم، چې څنګه هغه ما وګوری اؤ هلک زما سره نهٔ وی، نو هغه به مړ شی. د هغهٔ ژوند د دې هلک په ژوند پورې تړلے دے، هغه ډېر ضعیف سړے دے اؤ چې مُونږ یې په کُوم غم آخته کړُو د هغې نه به مړ شی. [32]بله خبره دا ده چې، ما خپل پلار له خپل ځان په ضمانت کښې ورکړے دے. ما هغهٔ ته وئیلی دی چې کهٔ دا هلک مې واپس هغهٔ له رانهٔ وستلو، نو زهٔ به همېشه د پاره هغهٔ ته ملامته یم. [33]اؤ اوس صاحِبه! د دې هلک په ځائ به زهٔ ستا غُلام شم، دا پرېږده چې واپس د خپلو ورُوڼو سره لاړ شی. [34]چې دا هلک زما سره نهٔ وی نو زهٔ څنګه واپس خپل پلار له لاړ شم؟ داسې غم چې زما په پلار راشی نو هغه زهٔ نهٔ شم زغملے."

## د حضرت يُوسف په ورُونړو ځان پېژندل

**۴۵** [1]بيا يُوسف د خپلو خِدمتګارانو په مخکښې زړۀ نۀ شو کلک کولے، نو هغۀ ټولو مِصريانو له حُکم ورکړو چې د هغۀ نه لاړ شی. چې کله يُوسف په خپلو ورُونړو ځان پېژندلو د هغۀ سره نور هيڅ څوک هم نۀ وُو. [2]هغۀ دومره په چغو چغو وژړل چې مِصريانو هم دا ژړا واورېده اؤ دا خبر د فِرعون محل ته ورسېدو. [3]يُوسف خپلو ورُونړو ته ووئيل، "زۀ يُوسف يم. ولې زما پلار لا ژوندے دے؟" خو چې د هغۀ ورُونړو دا واورېدل، هغوئ دومره ويرېدل چې هغوئ خبرې هم نۀ شوې کولے. [4]بيا يُوسف هغوئ ته ووئيل، "ما ته لږ رانزدې شئ." اؤ هغوئ ورنزدې شول اؤ هغۀ ورته ووئيل، "زۀ ستاسو ورور يُوسف يم، کُوم چې تاسو په مِصر کښې خرڅ کړے وو. [5]اوس مۀ خفه کېږئ اؤ مۀ خپل ځانُونه ملامته کوئ چې تاسو دلته زۀ خرڅ کړم. بې‌شکه زۀ خُدائ پاک ستاسو نه مخکښې ولېږلم چې د خلقو ژوند بچ کړم. [6]دا خو په زمکه د قحط صِرف دويم کال دے، پينځه نور کالونه به هم وی چې کَرل اؤ رېبل به په کښې نۀ کېږی. [7]خُدائ پاک زۀ ستاسو نه مخکښې دلته رالېږلے يم چې تاسو په دُنيا کښې داسې په عجيبه طريقه بچ شئ اؤ چې دا خبره يقينی وی چې تاسو اؤ ستاسو اولاد ژوندے پاتې شی. [8]نو دا تاسو نۀ وئ، خُدائ پاک وو چې هغۀ زۀ دلته راولېږلم. هغۀ زۀ د فِرعون د ټولو نه لوئ وزير، د هغۀ د دربار مشر اؤ په ټول مِصر مشر جوړ کړے يم. [9]اوس زر زر واپس زما پلار له لاړ شئ اؤ هغۀ ته ووايئ چې ستا زوئ يُوسف داسې وائی: خُدائ پاک زۀ په ټول مِصر مشر جوړ کړے يم، زر زر ما ته راشه. [10]تاسو به د جشن په علاقه کښې اوسېږئ، چرته چې به تۀ، ستاسو بچی، نمسی، ستاسو ګډې، چېلۍ، څاروی اؤ ستاسو هر څۀ به ما ته نزدې وی. [11]کۀ تاسو په جشن کښې يئ نو زۀ به ستاسو خيال ساتم. د قحط پينځۀ کالونه خو لا پاتې دی، اؤ زۀ دا نۀ غواړم چې تاسو، ستاسو کورنۍ اؤ ستاسو څاروی دې د لوږې نه مړۀ شی. [12]اؤ ګورئ، اوس بنيامين اؤ تاسو هم ما وينئ چې زۀ په رښتيا يُوسف يم چې ستاسو سره خبرې کوم. [13]زما پلار ته ووايئ چې ما ته دلته په مِصر کښې څومره عِزت مِلاؤ شوے دے اؤ هغه هر

څۀ ورته ووايئ چې تاسو ليدلی دی. اؤ زر زر يې دلته راولئ.“ [14]هغۀ د خپل
وروور بنيامين نه لاسُونه تاؤکړل اؤ وې ژړل، بنيامين هم وژړل چې هغه يې غاړه
ويستلو. [15]بيا په ژړا ژړا کښې، هغۀ خپل ټول ورُونه غاړه ويستل اؤ ښُکل يې
کړل. د هغې نه پس د هغۀ ورُونو ورسره خبرې اترې شروع کړې. [16]چې کله
دا خبر محل ته ورسېدو چې د يُوسف ورُونه راغلی دی، نو فِرعون اؤ د هغۀ
درباريان خوشحال شول. [17]فِرعون يُوسف ته ووئيل، ”خپلو ورُونو ته ووايه
چې خپل څاروی بار کړی اؤ د کنعان وطن ته دې واپس لاړ شی. [18]هغوئ
دې خپل پلار اؤ خپلې کورنۍ دلته راولی اؤ دلته دې واپس راشی. زۀ به دوئ
له په مِصر کښې د ټولو نه ښۀ زمکه ورکړم اؤ هغوئ به د هغې زمکې نه ښۀ
ډېره ګټه واخلی. [19]هغوئ ته دا هم ووايه چې د مِصر نه خپل ځان سره ګاډۍ
بوځی چې په کښې خپلې ښځې، ماشُومان اؤ خپل پلار د ځان سره راولی. [20]د
هغوئ نه چې کُوم مالُونه اؤ سامانونه پاتې شی د هغې غم دې نۀ کوی، ځکه
چې په مِصر کښې د ټولو نه ښۀ زمکه به د هغوئ وی.“ [21]د يعقُوب زامنو هم
هغه شان وکړل چې څنګه فِرعون حُکم کړے وو نو يُوسف هغوئ له ګاډۍ
اؤ د سفر د پاره خوراک هم ورکړو. [22]هغۀ هر يو له د جامو نوې جوړې هم
ورکړې، خو هغۀ بنيامين له درې سوه د سپينو زرو سيکې اؤ پينځۀ جوړه نوې
جامې ورکړې. [23]هغۀ خپل پلار له د مِصر په ښۀ سامانُونو بار لس خرې اؤ لس
د غلې بار خرې، ډوډۍ اؤ د سفر د پاره خوراک هم ورولېږلو. [24]هغۀ خپل
ورُونه رُخصت کړل اؤ چې هغوئ څنګه روان شول هغۀ هغوئ ته ووئيل، ”په
لاره کښې بحث مۀ کوئ.“ [25]دوئ د مِصر نه روان شول اؤ د کنعان په وطن کښې
خپل پلار اؤ کور ته لاړل. [26]هغوئ هغۀ ته ووئيل چې، ”يُوسف ژوندے دے.
هغه د ټول مِصر مشر دے.“ يعقُوب حق حېران شو اؤ د هغوئ په خبرو يې يقين
نۀ راتلو. [27]خو چې کله هغوئ ورته هغه هر څۀ ووئيل کُوم چې يُوسف هغوئ
ته وئيلی وُو اؤ چې هغه ګاډۍ يې هم وليدلې کُومې چې يُوسف رالېږلې وې
چې هغه به په کښې مِصر ته بوځی، نو د هغوئ پلار يعقُوب کښې ساه راغله.
[28]هغۀ ووئيل، ”زما زوئ يُوسف ژوندے دے! بس هم دغه مې غوښتل! زۀ

ورځم چې د مرګ نه مخکښې يې ووينم.“

## د حضرت يعقُوب دکورنۍ مِصر ته تلل

**۴۶** [۱]يعقُوب د خپل هر څۀ سره په خپل سفر روان شو اؤ بيرسبع ته راغلو، هلته يې د خپل پلار اِسحاق خُدائ پاک ته قُربانۍ پېش کړې. [۲]د شپې خُدائ پاک په خوب کښې د هغۀ سره خبرې وکړې اؤ ورته يې ووئيل، ”يعقُوبه، يعقُوبه!“ هغۀ ورته ووئيل، ”اؤ، زۀ حاضر يم.“ [۳]ورته يې ووئيل، ”زۀ ستا د پلار خُدائ پاک يم. مِصر ته تلو نه مۀ يرېږه، زۀ به هلته ستا د اولاد نه يو لوئ قوم جوړوم. [۴]زۀ ستا سره مِصر ته تلو کښې مل يم اؤ زۀ به ستا اولاد واپس دې وطن ته راولم. چې تۀ وفات شې نو يُوسف به تا کفن دفن کړی.“ [۵]نو يعقُوب د بيرسبع نه روان شو. د هغۀ زامنو، هغه، خپل واړۀ بچی اؤ خپلې ښځې يې په هغه ګاډو کښې کښېنولې کُومې چې فِرعون رالېږلې وې. [۶]هغوئ خپل څاروی اؤ هغه هر څۀ کُوم چې دوئ په کنعان کښې ګټلی وُو، روان کړل اؤ مِصر ته لاړل. يعقُوب د ځان سره خپل ټول اولاد روان کړو: [۷]خپل زامن، نمسی، خپلې لُوڼه اؤ نمسۍ. [۸]دا د يعقُوب د اولاد نومُونه دی کُوم چې د هغۀ سره مِصر ته لاړل، خپل مشر زوئ روبين ورسره وو [۹]اؤ د روبين زامن: حنوک، فلو، حصرون اؤ کرمی. [۱۰]شمعُون اؤ د هغۀ زامن: يموايل، يمين، اُهد، يکين، صحر اؤ شاؤل د کنعانۍ ښځې زوئ. [۱۱]ليوی اؤ د هغۀ زامن: جيرسون، قُهات اؤ مراری. [۱۲]يهُوداه اؤ د هغۀ زامن: سيله، فرص اؤ زارح. د يهُوداه نور زامن، عير اؤ اونان د کنعان په وطن کښې مړۀ وُو. د فرص زامن حصرون اؤ حمُول وُو. [۱۳]يساکار اؤ د هغۀ زامن: تولع، فووه، يوب اؤ سِمرون. [۱۴]زبولون اؤ د هغۀ زامن: سرد، ايلون اؤ يحلی‌ايل. [۱۵]دا د يعقُوب هغه زامن دی کُوم چې د هغۀ د ښځې لِياه نه په ميسوپوتاميه کښې پېدا شوی وُو، د هغۀ د لُور دينه نه بغير. د لِياه نه د هغۀ ټول اولاد په شمېر کښې درې دېرش کسان وُو. [۱۶]جاد اؤ د هغۀ زامن: صفيان، حجی، سونی، اصبان، عيری، ارودی اؤ اريلی. [۱۷]اشير اؤ د هغۀ زامن: يمنه، اسواه، اِسوی، بريعاه اؤ د هغوئ خور سِره. د بريعاه زامن حِبر اؤ ملکی‌ايل وُو. [۱۸]دا شپاړس تنه، د زِلفه نه د يعقُوب اولاد دے، هغه

وینځه کُومه چې لابن خپلې لُور لِیاه له ورکړې وه. [۱۹]د یعقُوب د ښځې راحیل نه د یعقُوب دوه زامن پېدا شول: یُوسف اؤ بنیامین. [۲۰]په مِصر کښې، د اون د یو اِمام فوطیفرع د لُور آسِناتھ نه، د یُوسف دوه زامن، منشه اؤ اِفرائیم پېدا شول. [۲۱]د بنیامین زامن، بالع، بکر، اشبیل، جیرا، نعمان، احی، رَوس، مُفیم، حُفیم اؤ ارد وُو. [۲۲]دا څوارلس تنه، د راحیل نه د یعقُوب اولاد دے. [۲۳]دان اؤ د هغهٔ زوئ حشیم. [۲۴]نفتالی اؤ د هغهٔ زامن: یحصیاېل، جونی، یصر اؤ سلیم. [۲۵]دا اووهٔ تنه، د بِلهاه نه د یعقُوب اولاد دے، دا هغه وینځه وه کُومه چې لابن خپلې لُور راحیل له ورکړې وه. [۲۶]په خپله د یعقُوب د اولاد ټول شمېر شپېږ شپېتهٔ ووکُوم چې مِصر ته لاړل، دا د هغهٔ د زامنو د ښځو نه بغېر دی. [۲۷]د یُوسف دوه زامن په مِصر کښې پېدا شوی وُو، کُوم چې هلته لاړل د یعقُوب د کورنۍ هغه ټول کسان په شمېر کښې اؤیا تنه وُو.

## حضرت یعقُوب اؤ د هغهٔ کورنۍ په مِصر کښې

[۲۸]یعقُوب یهُوداه د ځان نه مخکښې یُوسف ته ولېږلو چې د جشن په علاقه کښې د یعقُوب سره مِلاؤ شی. چې کله هغوئ د جشن علاقې ته ورسېدل، [۲۹]نو یُوسف په خپله بادشاهی ګاډۍ کښې سور شو اؤ د خپل پلار سره مِلاوېدو د پاره جشن ته لاړو. چې کله هغوئ مِلاوېدل، نو یُوسف د خپل پلار نه لاسُونه تاؤکړل اؤ غاړه یې ویستلو اؤ ډېر وخت یې وژړل. [۳۰]یعقُوب یُوسف ته ووئیل، "چې تهٔ ژوندے یې اؤ زما ستا سره مُلاقات وشولو، نو کهٔ اوس مړ شم نو خېر دے." [۳۱]بیا یُوسف خپلو ورُوڼو اؤ د خپل پلار د کورنۍ باقی نورو کسانو ته ووئیل، "زهٔ ځم چې فِرعون اؤ نورکسانو ته ووایم چې زما ورُوڼه اؤ زما د پلار ټوله کورنۍ، چې د کنعان په وطن کښې وُو، ما له راغلی دی. [۳۲]زهٔ به هغهٔ ته ووایم چې تاسو شپانهٔ یئ اؤ څاروی ساتئ اؤ تاسو خپلې رَمې اؤ څاروی اؤ چې تاسو څهٔ هم لرل هغه تاسو راوړی دی. [۳۳]چې کله فِرعون تاسو راوغواړی اؤ تپوس درنه کوی چې ستاسو کسب څهٔ دے، [۳۴]نو هغهٔ ته ووایئ چې تاسو د وړُوکوالی نه تر اوسه پورې څاروی ساتئ، لکه څنګه چې ستاسو پلار نیکهٔ

ساتل. نو داسې هغه به تاسو د جشن په علاقه کښې اوسېدو ته پرېږدی.“ يُوسف داسې ځکه ووئيل چې مِصريانو شپانو ته په سپک نظر کتل.

# ۴۷

[۱]نو يُوسف د هغوئ نه پينځهٔ ورُونړه روان کړل اؤ فِرعون له ورغلل. هغهٔ فِرعون ته ووئيل، ”زما پلار اؤ زما ورُونړه د خپلو رَمو، څاروو اؤ چې څهٔ يې هم لرل د هغې سره د کنعان د وطن نه راغلی دی. دوئ اوس د جشن په علاقه کښې دی.“ [۲]هغهٔ بيا خپل ورُونړه د فِرعون سره مِلاؤ کړل. [۳]فِرعون د هغوئ نه تپوس وکړو، ”ستاسو کسب څهٔ دے؟“ هغوئ ورته ووئيل، ”صاحِبه! مُونږ شپانهٔ يُو، لکه چې څنګه زمُونږ پلار نيکهٔ وُو.“ [۴]”مُونږ دې وطن ته د اوسېدو د پاره راغلی يُو، ځکه چې د کنعان په وطن کښې ډېر سخت قحط دے اؤ زمُونږ د څاروو د څرېدلو ځائ نشته. صاحِبه! مُونږ تا ته سوال کوُو، مُونږ له اِجازت راکړه چې د جشن په علاقه کښې اوسېږُو.“ [۵]فِرعون يُوسف ته ووئيل، ”اوس ستا پلار اؤ ستا ورُونړه راغلی دی، [۶]نو د ټول مِصر زمکه د دوئ شوه. دوئ پرېږده چې د جشن په علاقه کښې اوسېږی چې د دې وطن د ټولو نه ښهٔ ځائ دے. اؤ کهٔ په دوئ کښې تکړه کسان وی، نو هغوئ زما په خپلو څاروو مشران مُقرر کړه.“ [۷]بيا يُوسف خپل پلار يعقُوب راوستلو اؤ د فِرعون سره يې مِلاؤ کړو. يعقُوب فِرعون ته د برکت د پاره دُعا وکړه، [۸]اؤ فِرعون د هغهٔ نه تپوس وکړو، ”تهٔ به د څو کالو يې؟“ [۹]يعقُوب جواب ورکړو، ”يو ځائ بل ځائ اوسېدو کښې زما يو سل دېرش کاله تېر شوی دی. زما عُمر لږ اؤ سخت دے، دا زما د پلار نيکهٔ د اُوږدو عُمرونو په شان نهٔ دے.“ [۱۰]يعقُوب فِرعون ته د برکت دُعا وکړه اؤ د هغهٔ نه لاړو. [۱۱]بيا يُوسف خپل پلار اؤ خپلو ورُونړو له رعمسيس ته نزدې د مِصر د ټولو نه ښهٔ زمکه ورکړه، لکه څنګه چې فِرعون حُکم کړے وو. [۱۲]يُوسف خپل پلار، ورُونړو اؤ ټولو خپلوانو له، د هغوئ د کورَنو په مُطابق خوراک ورکولو.

## قحط

[۱۳]قحط دومره سخت وو چې هيچرته هم ډوډۍ نهٔ مِلاوېدله اؤ د مِصر اؤ د کنعان د وطن خلق د لوږې نه کمزوری شول. [۱۴]چې خلقو به ترې نه غله اخستله، نو يُوسف هغه ټولې روپۍ جمع کولې اؤ هغه روپۍ به يې د فِرعون په خزانه

کښې کېښودلې. [15] چې کله په مِصر اؤ د کنعان په وطن کښې ټولې روپۍ ختمې شوې، مِصریان یُوسف له راغلل اؤ ورته یې ووئیل، "مُونږ له ډوډۍ راکړه! تهٔ اوس مُونږ دې ته پرېږدی چې ستا په مخکښې مړهٔ شُو! ځکه چې زمُونږ سره ټولې روپۍ ختمې شوې دی." [16] یُوسف ورته ووئیل، "خپل څاروی راولئ، کهٔ ستاسو سره ټولې روپۍ ختمې شوې وی نو د څاروو په بدل کښې به زهٔ تاسو له خوراک درکړم." [17] نو هغوئ خپل څاروی یُوسف له راوستل اؤ هغهٔ په دې کال کښې د هغوئ د اسُونو، گډو، چېلو، څاروو اؤ خرو په بدل کښې خوراک ورکولو. [18] ورپسې کال هغوئ هغهٔ له راغلل اؤ ورته یې ووئیل، "صاحِبه! مُونږ به دا حقیقت ستا نه نهٔ پټوُو، چې زمُونږ سره ټولې روپۍ ختمې شوې اؤ زمُونږ څاروی هم ستا شول. زمُونږ سره زمُونږ د زمکو اؤ زمُونږ د ځانُونو نه بغېر هیڅ هم پاتې نهٔ دی. [19] نو تهٔ مُونږ دې ته پرېږدی چې ستا په مخکښې مړهٔ شُو! زمُونږ زمکه شاړه کېدو ته مهٔ پرېږده. د خوراک په بدل کښې مُونږ اؤ زمُونږ زمکه واخله. مُونږ به د فِرعون نوکران شُو اؤ زمُونږ زمکه به د هغهٔ شی. مُونږ له غله راکړه چې ژوندی پاتې شُو اؤ تُخم راکړه چې خپله زمکه وکَرُو." [20] نو یُوسف د مِصر ټوله زمکه د فِرعون د پاره واخستله. هر یو مِصری خپله زمکه د مجبُورۍ نه خرڅه کړه، ځکه چې قحط ډېر سخت وو، اؤ هغه ټوله زمکه د فِرعون شوه. [21] یُوسف د مِصر د یو سر نه تر بل سَره پورې خلق غُلامان کړل. [22] خو صِرف هغه زمکه یې وانهٔ خستله کُومه زمکه چې د اِمامانو وه. هغوئ د پاره دا ضرُوری نهٔ وه چې خپله زمکه خرڅه کړی، ځکه چې فِرعون هغوئ له د اوسېدو د پاره وظیفه ورکوله. [23] نو یُوسف هغه خلقو ته ووئیل، "تاسو ته پته ده چې ما تاسو اؤ ستاسو زمکې هم د فِرعون د پاره اخستې دی. د خپلې خپلې زمکې کَرلو د پاره دا تُخم واخلئ. [24] د رېبلو په وخت کښې پینځمه حِصه فِرعون له ورکوئ. باقی نور تُخم تاسو د کَرلو د پاره اؤ د خپلو ځانُونو، کورَنو اؤ د خپلو وړو ماشُومانو د پاره د خوراک په توګه اِستعمالولے شئ." [25] هغوئ ورته ووئیل، "تا زمُونږ ژوند بچ کړے دے، صاحِبه! تهٔ په مُونږ مهربان یې اؤ مُونږ به د فِرعون غُلامان یُو." [26] نو یُوسف د مِصر وطن د پاره دا یو قانُون جوړ کړو چې د فصل پینځمه حِصه به د فِرعون وی. دا قانُون تر اوسه پورې شته

دے. خو صِرف د اِمامانو زمکې د فِرعون نۀ شوې.

## د حضرت يعقُوب وصيت

[27]بنى اِسرائيل په مِصر کښې د جشن په علاقه کښې اوسېدل، چرته چې هغوئ مالدار شول اؤ ډېر اولاد يې پېدا شو. [28]يعقُوب په مِصر کښې اوولس کاله اوسېدو، نو د يعقُوب ټول عُمر يو سل اووۀ څلوېښت کاله وو. [29]چې کله د هغۀ د مرګ وخت رانزدې شو، نو هغۀ خپل زوئ يُوسف راوغوښتلو اؤ هغۀ ته يې ووئيل، "کۀ زۀ رښتيا په تا ګران يم، نو تۀ زما سره پوخ لوظ وکړه چې تۀ به ما په مِصر کښې نۀ ښخوې. [30]زۀ هلته ښخېدل غواړم چرته چې زما پلار نيکۀ ښخ دی. ما د مِصر نه يوسه اؤ هلته مې ښخ کړه چرته چې هغوئ ښخ دی." يُوسف ورته ووئيل، "زۀ به هم دغه شان وکړم چې څنګه تا ووئيل." [31]يعقُوب ورته ووئيل، "زما سره لوظ وکړه چې تۀ به هم دغه شان وکړې." نو يُوسف ورسره لوظ وکړو. اؤ يعقُوب په خپل کټ باندې سر ټيټ کړو اؤ شُکر يې ادا کړو.

## د حضرت يعقُوب د اِفرائيم اؤ منشه د پاره د خُدائ پاک نه برکت غوښتل

# ۴۸

[1]څۀ موده وروستو يُوسف خبر شو چې د هغۀ پلار بيمار دے. نو هغۀ خپل دوه زامن، منشه اؤ اِفرائيم روان کړل اؤ د خپل پلار پوښتنې له ورَغلو. [2]چې يعقُوب خبر شو چې خپل زوئ يې پوښتنې له راغلے دے، هغۀ خپل ځان تکړه کړو اؤ په کټ کښې نېغ کښېناستو. [3]يعقُوب يُوسف ته ووئيل چې، "قادر خُدائ پاک د کنعان د وطن په لُوز کښې ما ته راښکاره شو اؤ برکت يې راکړو." [4]هغۀ ما ته ووئيل، "زۀ به تا له ډېر اولاد درکړم، نو داسې ستا د اولاد نه به ډېر قومُونه جوړ شی. زۀ به ستا اولاد له دا وطن ورکوم چې هميشه د پاره د هغوئ شی." [5]"نو اوس يُوسفه! چې ستا کُوم دوه زامن زما د راتلو نه مخکښې په مِصر کښې پېدا شوی دی، دوئ هم زما بچی دی، اِفرائيم اؤ منشه زما د خپلو بچو روبين اؤ شمعُون په شان دی. [6]خو کۀ ستا نور زامن

پېدا کېږي، نو هغوئ به زما نۀ شي ګڼلے، هغوئ به د اِفرائيم اؤ د منشه نه ميراث اخلي. [۷] زۀ داسې ستا د مور راحيل په خاطر کوم. چې کله زۀ د ميسوپوتاميه نه واپس راتلم، نو هغه اِفرات ته نزدې د کنعان په وطن کښې زما د ډېر غم سره وفات شوه. ما هغه د اِفرات د لارې په غاړه ښخه کړه.“ اِفرات اوس د بيت‌لحم په نُوم مشهُور دے. [۸] چې کله يعقُوب د يُوسف زامن وليدل، هغۀ تپوس وکړو، ”دا څوک دي؟“ [۹] نو يُوسف خپل پلار ته ووئيل، ”دا زما زامن دي، کُوم چې خُدائ پاک ما له دلته په مِصر کښې راکړي دي.“ يعقُوب ووئيل، ”دوئ ما له راوله چې د دوئ د پاره برکت وغواړم.“ [۱۰] د ډېر عُمر په وجه د يعقُوب نظر کمزورے شوے وو اؤ د هغۀ نظر سم نۀ لګېدو. يُوسف هغۀ له زامن راوستل اؤ هغوئ يې غاړه ويستل اؤ ښُکل يې کړل. [۱۱] يعقُوب يُوسف ته ووئيل، ”ما هيڅ کله هم دا ګُمان نۀ وو کړے چې زۀ به بيا تا ووينم اؤ اوس خُدائ پاک راباندې ستا بچي هم وليدل.“ [۱۲] بيا يُوسف هغوئ د هغۀ د غېږ نه واخستل اؤ د هغۀ په مخکښې يې د عِزت نه سر زمکې ته ټيټ کړو. [۱۳] يُوسف اِفرائيم د يعقُوب ګڅ طرف ته اؤ منشه د هغۀ ښي طرف ته نزدې راوستل. [۱۴] نو يعقُوب خپل لاسُونه اُوږدۀ کړل اؤ خپل ښے لاس يې د اِفرائيم په سر کېښودو، اګرچې هغه کشر وو اؤ خپل ګڅ لاس يې د منشه په سر کېښودو، چې هغه مشر وو. [۱۵] بيا هغۀ يُوسف د پاره برکت وغوښتلو اؤ وې وئيل: ”د کُوم خُدائ پاک چې زما پلار نيکۀ اِبراهيم اؤ اِسحاق خِدمت کړے دے هغه دې، دې هلکانو له برکت ورکړي! کُوم خُدائ پاک چې تر ننه پورې ټول عُمر زما ساتنه کړې ده! [۱۶] هغه فرِښته دې دوئ له برکت ورکړي، چې هغې زۀ د هرې بدۍ نه بچ ساتلے يم! د دې هلکانو په ذريعه دې زما اؤ زما د پلار نيکۀ اِسحاق اؤ اِبراهيم نُوم ژوندے وساتلے شي! اؤ په زمکه دې د دوئ ډېر اولاد پېدا شي!“ [۱۷] چې کله يُوسف دا وليدل چې د هغۀ پلار خپل ښې لاس د اِفرائيم په سر ايښے دے، هغه په دې خفه شو، نو هغۀ د خپل پلار لاس اُوچت کړو اؤ د اِفرائيم د سر نه يې د منشه سر له يوړو. [۱۸] اؤ يُوسف خپل پلار ته ووئيل، ”داسې نه، زما پلاره! دا مشر دے. خپل ښے لاس دۀ له په سر کېږده.“ [۱۹] د هغۀ پلار اِنکار وکړو اؤ وې وئيل،

”ما ته پته شته، زما زویه! ما ته پته ده چې د منشه اولاد به هم یو لوئ قوم شی. خو خپل کشر ورور به د هغهٔ نه لوئ وی اؤ د هغهٔ د اولاد نه به ډېر لوئ قومُونه جوړ شی.“
[20]نو هغهٔ هغوئ له په هغه ورځ برکت ورکړو، وې وئیل، ”اِسرائیلیان به ستاسو نومُونه استعمالوی چې کله هغوئ د برکت نُوم اخلی. هغوئ به وائی، خُدائ پاک دې تاسو د اِفرائیم اؤ منشه په شان کړی.“ نو داسې یعقُوب اِفرائیم د منشه نه مخکښې کړو.
[21]بیا یعقُوب یُوسف ته ووئیل، ”گوره! زهٔ مرګ ته نزدې یم، خو خُدائ پاک به ستا مل وی اؤ تا به واپس د خپل پلار نیکهٔ وطن ته بوځی.
[22]د شِکم هغه آباده علاقه چې ما د اموریانو نه د تُورې اؤ لیندې په زور اخستې ده زهٔ هغه ستا ورُوڼو له نهٔ ورکوم بلکې تا له یې درکوم.“

## د حضرت یعقُوب د خپلو زامنو سره آخری خبرې کول

# ۴۹

[1]یعقُوب خپل زامن راوغوښتل اؤ ورته یې ووئیل، ”راغونډ شئ اؤ زهٔ به تاسو ته ووایم چې په راتلُونکی وخت کښې به په تاسو څهٔ کیږی:

[2]راټول شئ اؤ واورئ، اے د یعقُوب زامنو!
د خپل پلار اِسرائیل خبره واورئ.
[3]روبین، زما مشر زوئ یې! تهٔ زما د طاقت وړومبۍ مېوه یې
اؤ زما د ځوانۍ وړومبے بچے،
په عِزت اؤ طاقت کښې زما د ټولو زامنو نه زیات یې.
[4]تهٔ د جوشناک سیلاب په شان یې،
خو تهٔ به د ټولو نه عِزتمند نهٔ یې،
دا ځکه چې تهٔ زما د بلې ښځې سره څملاستې
اؤ د خپل پلار کټ دې پلیت کړو.
[5]شمعُون اؤ لیوی په بدو کښې ورُوڼه دی.
بد عملی کولو د پاره د خپلو تُورو نه کار اخلی.
[6]د دوئ په پټو خبرو کښې به زهٔ نهٔ شریکېږم،
اؤ نهٔ به د دوئ په ډله کښې حِصه اخلم،

ځکه چې په غُصه کښې دوئ خلق ووژل
اؤ دوئ هسې د خوند د پاره غوایان ګډ کړل.
۷لعنت دې د دوئ په قهر وی، ځکه چې هغه قهر ډېر سخت وو،
اؤ لعنت دې د دوئ په غضب وی، ځکه چې دا غضب بې‌رحمه وو.
زهٔ به د دوئ اولاد د اِسرائیل په ټول وطن کښې خوارهٔ وارهٔ کړم.
زهٔ به دوئ د اِسرائیلیانو نورو قبیلو سره ګډوډ کړم.
۸یهُوداه! ستا ورُوڼه به ستا صِفت کوی.
تهٔ به خپل دُښمنان د مرۍ نه رانیسې.
ستا ورُوڼه به ستا په مخکښې ټیټ شی.
۹یهُوداه! تهٔ د زمری بچے یې،
چې ښکار ووژنی اؤ خپل غار ته راستُون شی،
غزېږی اؤ څملی.
هیڅ څوک هم دا زړهٔ نهٔ شی کولے چې هغه راپاڅوی.
۱۰یهُوداه به د مشرۍ جنډا نیسی،
اؤ د هغهٔ اولاد به همېشه حکومت کوی.
قومُونه به هغهٔ له قلنګ راوړی،
اؤ د هغهٔ په مخکښې به د تابعدارۍ سره ټیټېږی.
۱۱هغه خپل کُوچے د انګُور په بُوټی پورې تړی،
د ټولو نه ښهٔ بُوټی پورې.
هغه خپلې جامې د انګُور په سُور رس کښې وینځی.
۱۲د هغهٔ سترګې د شرابو نه سرې دی،
د هغهٔ غاښُونه د پیو نه سپین دی.
۱۳زبولون به د سیند په غاړه اوسېږی.
د هغهٔ د سیند غاړه به د کشتو د پاره محفوظ ځائ وی.
د هغهٔ علاقه به د صدون پورې ورسېږی.
۱۴یساکار لکه تکړه خر دے چې د دوه بارُونو په مېنځ کښې اُوږد اُوږد څملی.
۱۵خو هغهٔ ته پته وی چې د آرام ځائ ښهٔ وی
اؤ چې هغه وطن خوندَور وو.

نو هغه خپله ملا بار وړلو له راښکته کړي
اؤ د نوکر په شان کار ترې اخستے شي.
[16]دان به د خپلو خلقو بادشاه وي.
هغوئ به هم د اِسرائيليانو د نورو قبيلو په شان وي.
[17]دان به د سړک د غاړې مار وي،
د لارې يو خطرناک مار،
چې هغه اس په پُونده وچيچي،
نو سورکس ترې په شا پرېوزي.
[18]اے مالِکه خُدايه! زۀ ستا د خلاصُون په اِنتظار يم.
[19]د ډاکوانو يوه ډله به په جاد حمله وکړي،
خو هغه به راوګرځي اؤ په هغوئ پسې به شي.
[20]د اشير زمکه به ډېر ښۀ خوراک پيدا کړي.
هغه به د بادشاهانو د پاره ښۀ مزېدار خوراک تيارکړي.
[21]نفتالي هوسۍ ده چې په آزادۍ سره منډې وهي،
اؤ هغه ښُکلي بچي راوړي.
[22]يُوسف يوه مېوه داره څانګه ده،
په سپرلي کښې د مېوې نه ډکه څانګه، د هغۀ څانګې په دېوال خېژي.
[23]د هغۀ غُصه ناک دُښمنان په هغۀ باندې سخته حمله کوي
اؤ د خپلو غشو اؤ ليندو سره په هغۀ پسې وي.
[24]خو چې هغه لينده راکاږي نو د هغۀ لاسُونه نۀ رپېږي،
اؤ د هغۀ متې مضبُوطې جوړې شوې دي،
د يعقُوب د قادر خُدائ پاک په قُدرت سره،
د هغه شپُون په نامه، چې د اِسرائيليانو ساتُونکے دے.
[25]هغه ستا د پلار خُدائ پاک دے چې هغه ستا مدد کوي،
هغه قادر خُدائ پاک چې تا له برکت درکوي.
د بره آسمان د بارانُونو
اؤ د زمکې د لاندې د چينو برکت درکړي،
برکتُونه د ډېرو څاروو اؤ د اولادُونو،
[26]ستا د خپل پلار برکتُونه

همېشه د پاره د زړو غرُونو د برکت نه ښۀ دی، ښۀ څيزُونه د نۀ ختمېدُونکو غرُونو نه.
دا ټول برکتُونه دې د يُوسف په سر وی، د
هغۀ په تندی، چې د خپلو ورُونړو مشر دے.
[27]بنيامين د يو شلوُونکی شرمخ په شان دے.
چې په سحر کښې ښکار خوری اؤ په ماښام کښې څۀ چې پاتې وی هغه ويشی.“
[28]دا د اِسرائيليانو دولس قبيلې دی اؤ دا هغه وصيت دے کُوم چې خپل پلار ورته د برکت ورکولو په وخت وکړو اؤ هر زوئ له يې خپل خپل مُناسب برکت ورکړو.

## د حضرت يعقُوب مرګ اؤ ښخېدل

[29–30]نو يعقُوب خپلو زامنو ته وصيت کولو، ”زۀ مرګ ته نزدې يم. ما د خپل پلار نيکۀ سره، د کنعان په وطن کښې، د ممرئ سره نزدی په مکفيله کښې، د حِتی عِفرون د پټی په غار کښې ښخ کړئ. هغه غار اؤ پټے اِبراهيم د عِفرون نه د قبرستان د پاره اخستے وو. [31]دا هم هغه ځائ دے چرته چې هغوئ اِبراهيم اؤ د هغۀ ښځه ساره ښخ کړی وُو، دا هم هغه ځائ دے چرته چې هغوئ اِسحاق اؤ د هغۀ ښځه رِبقه ښخه کړې وه، اؤ دا هغه ځائ دے چرته چې ما لِياه ښخه کړې ده. [32]هغه پټے اؤ هغه غار د حِتيانو نه اخستے شوے وو. ما هم هلته ښخ کړئ.“ [33]چې کله يعقُوب خپلو زامنو ته وصيت ختم کړو، هغه بيا څملاستو، ساه يې ورکړه اؤ په حق ورسېدو.

## ۵۰

[1]يُوسف په خپل پلار باندې ورپرېوتو، ژړل يې اؤ ښُکلولو يې. [2]بيا يُوسف خپلو خِدمت کوُونکو حکيمانو له حُکم ورکړو چې د هغۀ د پلار د لاش وچولو بندُوبست وکړی چې خراب نۀ شی. [3]د مړی خرابېدو نه په بچ کولو باندې څلوېښت ورځې ولګېدلې. مِصريان اوُيا ورځې د هغۀ په غم غمژن وُو. [4]چې کله د غم وخت تېر شو، يُوسف د فِرعون درباريانو ته ووئيل، ”کۀ تاسو ما سره ښۀ کوئ نو زۀ تاسو ته عرض کوم چې فِرعون ته داسې

ووایئ چې: ۵چې کله زما پلار مړ کېدو، هغۀ زما نه قسم اخستے وو چې زۀ به
هغه د کنعان په وطن کښې په هغه قبر کښې ښخوم کُوم چې هغۀ کنستلے وو.
نو مِهربانی وکړه، ما پرېږده چې زۀ خپل پلار هلته ښخ کړم اؤ زۀ به بیا واپس
راشم.“ ۶فِرعون ورته ووئیل، ”لاړ شه! اؤ خپل پلار هغسې ښخ کړه، چې څنګه
هغۀ ستا نه قسم اخستے وو.“ ۷نو یُوسف خپل پلار ښخولو له یوړو. د فِرعون
ټول درباریان، د هغۀ د دربار مشران اؤ د مِصر ټول مشران د یُوسف سره لاړل.
۸د هغۀ کورنۍ، د هغۀ ورُوڼه اؤ د هغۀ پلار د کورنۍ باقی ټول خلق د هغۀ سره
لاړل. صِرف د هغوئ واړۀ ماشُومان، د هغوئ ګڼې، چېلۍ اؤ څاروی د جشن
په علاقه کښې پاتې شول. ۹په ګاډو کښې خلق اؤ په اسُونو سوارۀ خلق هم د
هغۀ سره لاړل، دا یوه لویه قافله وه. ۱۰چې کله دوئ د اُردن پورې غاړه هغه
درمن ته راغلل چې په اتد کښې دے، نو دوئ هلته تر ډېره وخته پورې ویر
وکړو اؤ یُوسف تر اووۀ ورځو پورې غم ژړا وکړه. ۱۱چې کله د کنعان د وطن
اوسېدُونکو خلقو دا ولیدل چې هغه خلق د اتد په درمن کښې غم ژړا کوی، نو
هغوئ ووئیل چې، ”دا مِصریان څومره سخت غم ژړا کوی!“ نو ځکه د هغه
ځائ نُوم د مِصریانو د غم ژړا مېدان شو. ۱۲نو د یعقُوب زامنو هم هغه شان
وکړل چې څنګه هغۀ ورته وصیت کړے وو. ۱۳هغوئ د هغۀ لاش د کنعان وطن
ته یوړو اؤ هغه یې د مکفیله په غار کښې ښخ کړو، چې د ممرئ سره نزدې وو،
په هغه پټی کښې کُوم چې اِبراهیم د حِتی عِفرون نه د قبرستان د پاره اخستے
وو. ۱۴چې کله یُوسف خپل پلار ښخ کړو، نو هغه د خپلو ورُوڼو سره اؤ د هغه
ټولو کسانو سره کُوم چې د هغۀ سره د جنازې د پاره تلی وُو، مِصر ته راواپس
شول.

## د حضرت یُوسف خپل ورُوڼه معاف کول

۱۵چې کله د یُوسف وړُونو دا ولیدل چې د هغوئ پلار په حق رسېدلے دے
نو هغوئ ووئیل، ”کۀ یُوسف تر اوسه پورې زمُونږ سره کینه لری اؤ چې کُوم
بد مُونږ ورسره کړی دی کۀ د هغې زمُونږ نه بدل اخستل غواړی، نو بیا به څۀ
کېږی؟“ ۱۶نو هغوئ یُوسف له خبر ولېږلو اؤ وې وئیل، ”زمُونږ پلار د مرګ نه

مخکښې، ۱۷مُونږ ته ووئیل، یُوسف ته به داسې ووایئ: مُونږ تا ته سوال کوُو چې ستا ورُونړو کُوم غلط کار اؤ بد تا سره کړی دی، هغه معاف کړه. اوس درته دا سوال کوُو چې مُونږ، ستا د پلار خُدائ پاک خِدمتګارانو چې کُوم غلط کار کړے دے، هغه مُونږ ته معاف کړه.“ چې کله دا پیغام یُوسف ته مِلاؤ شو نو هغهٔ وژړل. ۱۸بیا د هغهٔ ورُونړه په خپله راغلل اؤ د هغهٔ په مخکښې تیټ شول. هغوئ ورته ووئیل، ”ګوره! مُونږ ستا غُلامان حاضر یُو.“ ۱۹خو یُوسف هغوئ ته ووئیل، ”یرېږئ مهٔ، ولې زهٔ خُدائ پاک یم څهٔ؟ ۲۰تاسو زما خِلاف د بدو منصُوبه جوړه کړه، خو خُدائ پاک دا په نېکئ بدله کړه، چې د ډېرو خلقو ژوند بچ شی چې کُوم نن ژوندی پاتې دی. ۲۱اوس تاسو مهٔ یرېږئ. زهٔ به ستاسو اؤ ستاسو د بچو خیال ساتم.“ نو هغوئ له یې په نرمو خبرو تسلی ورکړه.

## د حضرت یُوسف مرګ

۲۲یُوسف د خپل پلار د کورنئ سره په مِصر کښې اوسېدو، هغه د یو سل لسو کالو وو چې په حق ورسېدو. ۲۳هغه د اِفرائیم بچی اؤ نمسی لیدلو پورې ژوندے وو. هغهٔ د منشه د زوئ ماکیر بچی هم په کورنئ کښې ولیدل. ۲۴هغهٔ خپلو ورُونړو ته ووئیل، ”زهٔ مرګِ حال یم، خو خُدائ پاک به په رښتیا سره ستاسو خیال وساتی اؤ د دې وطن نه به مو هغه وطن له بوځی د کُوم چې هغهٔ د اِبراهیم، اِسحاق اؤ د یعقُوب سره پخه وعده کړې وه.“ ۲۵بیا یُوسف د خپلو خلقو نه قسم واخستلو، هغهٔ ووئیل، ”زما سره دا وعده وکړئ چې کله تاسو خُدائ پاک هغه وطن ته بوځی، نو تاسو به زما هډُوکی د ځان سره وړئ.“ ۲۶نو یُوسف د یو سل لسو کالو په عُمر کښې په مِصر کښې په حق ورسېدو. هغوئ د هغهٔ د لاش وچولو بندُوبست وکړو چې خراب نهٔ شی اؤ په تابُوت کښې یې کېښودو.